# د آتڼ د نارو هینداره



سرمحقق علي محمد منګل

# د آتڼ د نارو هینداره

ARIC

PROPERTY OF ACKU
12357

سر محقق علي محمد منګل

بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | د آتنې د ناړو هینداره. |
| لیکوال | : | سر محقق علي محمد منګل. |
| مهتمم | : | عبد اللطیف احمدي. |
| کمپوز او ډیزاین | : | عبد اللطیف احمدي. |
| خپرندوی | : | دانش خپرندویه ټولنه. |
| شمېر | : | ۱۰۰۰ ټوکه. |
| د چاپ کال | : | ۱۳۸۳هـ ش- چنګابښ. |
| بیه | : | ۵۰ روپۍ. |

**چاپ او کمپیوټر ځای**

**د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه**

**قصه خوانی بازار، پېښور Tel/ Fax: 2564513**

***E-mail: danish2k2000@yahoo.com***

# اهداء

د آتڼ د نارو دغه خوره وره هینداره په پښتني یو والي، پښتو او پښتونوالۍ مینو درندو پښتنو ته وړاندې کوم، چې ورکه پښتو، پښتونوالي او پښتني یو والی بیا را ژوندی کړي.

په مینه

علي محمد منگل

کابل- انصاري واټ

۱۳۸۲/۱۰/۱۷ هـ ش

# مننه او کور ودانی

له دانس خپرندویې ټولنې څخه د زړه له کومې مننه کوم، چې د پښتني فرهنګ د غوړېدو په لار کې خپلې هڅې ا ِ هاند کوي، له الله (ج) څخه دوی ته د پښتو فرهنګ په غوړېدو او سمسورتیا کې لا زیات بریالیتوبونه غواړم، د دوی دا فرهنګي هڅې دې تل وي چې پښتو پرې بډایه او غني شي او د پښتون کهول لوی کور په خپلې دغې فرهنګي رڼا سره ښه روښانه کړي...

په ډېره او ټوله پښتني مینه
علي محمد منګل
۱۳۸۲/۱۰/۱۷ هـ ش

# فهرست


| ګڼه | عنوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱_ | سریزه | ۱ |
| ۲_ | آتڼ او په هغه کې دنارو ارزښت | ۴ |
| ۳_ | آتڼ دتاریخ په اوږدو کی | ۶ |
| ۴_ | ډول | ۱۵ |
| ۵_ | دآتڼ ډولونه | ۱۶ |
| ۶_ | دآتڼ ناري | ۱۷ |
| ۷_ | داتڼ دنارو پیدا ایښت | ۱۸ |
| ۸_ | په واده کې دنرینه وو داتڼ ناري | ۲۶ |
| ۹_ | آزادي ناري | ۲۹ |
| ۱۰_ | دسیالۍ او مخی ناري | ۳۱ |
| ۱۱_ | دهلك له کوره دجلکۍ دکور په لور ناري | ۳۴ |
| ۱۲_ | دښځو داتڼ په وخت کې ناري | ۳۵ |
| ۱۳_ | په غرني کې دښځو داتڼ ناري | ۴۴ |
| ۱۴_ | په زرمت کې داتڼ ناري | ۴۵ |
| ۱۵_ | په مقر کې داتڼ ناري | ۵۹ |
| ۱۶_ | دوردګو داتڼ ناري | ۶۸ |
| ۱۷_ | دغزني داتڼ ناري | ۷۱ |
| ۱۸_ | په ګربزو کې دواده ناري | ۷۸ |
| ۱۹_ | دکلا ت دسیمې ناري | ۸۲ |
| ۲۰_ | په خمکنیو کې داتڼ ناري | ۱۰۳ |
| ۲۱_ | ولسي ادب | ۱۰۸ |
| ۲۲_ | داتڼ ډولونه | ۱۳۱ |
| ۲۳_ | ښځینه آتڼ | ۱۵۱ |
| ۲۴_ | شیرۍ ( شاعری ) | ۱۶۰ |

# دلوی ښبتن په نامه

## سریزه :

آتڼ او د آتڼ ناري یا بیتونه د پښتون ولس دشفاهي ادب او هنر ډېره غوره او په زړه پورې کلتوري ځانګه ده ، ددې غرني ، توریالي او میړني ولس د هنر دا دواړه تو کي ددوی د ژوند سره یوځای راغلي او پیدا شوي ، پیړی پیړی پرې تیرې شوې دي. دوخت په تیریدو سره یې اشکال او نوعي بدلې شوې او دپښتون ولس دنورو ولسي پانګو په څیر ( دلیك او سواد دنشتوالي له امله ) تر خاورو لاندې ښخاورې شوي او زیات ضایعات یې ورکړي دي.

که مونږ یوازې داتڼ او نڅا هنر ته ځیر شو وینو چې دا غوره ملي لوبه دپښتنو په هره سیمه کې ځانته ځانګړې بڼې او ډولونه لري چې د ( چپه او راسته اتڼ ) ډولونه یې عمومیت لري. سره له دې داتڼ شکلونه دیوې سیمې خلکو ته منسو بیږي لکه دوزیر و اتڼ، دکاکړو اتن. دځاځیو اتڼ . دمندو زیو اتڼ د منګلو اتڼ او داسې نور چې په دې کې بیا د هرې سیمې او قوم داتڼ ډولونه بیل بیل دي. خو په عمومي صورت د پښتنو" دملی اتڼ " په نامه سره نومل کیږي. پښتانه دا ملي لو به چې دژوند سره یې تړلې راغلې دجنګ. دخپلواکۍ او آزادۍ په جشن او دماشوم د زیږیدو په خوشالۍ . اختر اونوروجشنونو په وخت کې په زیاتې خوشالۍ او مینې سره دوجود داعضاوو په سختو او تندو حرکاتو او خوځیدنو اجرا کوي چې د پښتنو داتڼ حرکات دنړۍ په نورو قامونو او خلکو کې لږ لیدل کیدای شي ر دهغوی نڅاوې ځانګړې دي.

دپښتنو اتڼ ته چې کوم څه شی غوره رنګ او رونق ورکوي او په هغې سره دا خوځنده هنر خاص کيف مومي هغه داتڼ نارې دي چې اتڼچيان يې داتڼ په ميدان کې په لوړو غږ و سره وايي او له دغو نارو سره دوی ځينې ځانګړي ساده غږونه د ( يې . وو . هو. اې ) او داسې نور دلاسو په اچولو. چيغو او غورځيو او دتورو څڼو په شنلو او تارتار ښورولو بدرګه کوي چې دوې دوې نمونې او بېلګې به يې موږ دلې د کندهار. منګلو او ځاځيو د سيمو څخه دمثال په توګه وړاندې کوو:

دکندهار دسيمې نارې:

آتڼ مې د سپيروان نجونې وهينه
پر ملا کږه وږه شي. شاباز يې دنامه غوټې وهينه

* * *

ما ول مرنجان به جوړومه
لونګ په کرمه . غوبل به دځوانانو پرتړمه

دمنګلو دسيمې پام او نارې:

دښکيه سپين خويي شوه سبا کيږي
وای سبا يې مه کې . شرين لالی له ما بيليږي

* * *

راتوبه ( تيتبه ) شه خوله روکه ( راکړه )
سپين ږيری پلار دې نه ويني شو کور دی

* * *

دځاځيو نارې :

ارځی چې نن دکونډې ولمونه شو
دکونډې يوه لوره ده . يارانو په ديدن به يې ماړه شو

* * *

دا ووړکی دکومې جلکۍ يور دی
دهغې جلکۍ يوردی . پلکی يې اړولی لور په لور دی

ددغې لنډې یادونې پر بنا کله چې یو څوك وغواړي کوم ادبي او هنري اثر ایجاد او ولیکي، نو دې داسې یوه درانده کار دپاره مجبور دی چې له ځینو معتبرو ماخذونو او دلویو پو هانو د نظر یو او مشورو څخه استفاده وکړي او یا یو رهنما او لارښود استاد ولري، څو چې په نتیجه کې یو ښه اثر دعلم او پو هې نړۍ ته په هره برخه کې چې وي وړاندې کړي. خو ما ددې اثر ( داتڼ ډنارو هنداره ) په لیکلو کې له داسې ما خدونو څخه استفاده کړې ده چې اکثره یې د کتاب په شکل نه پیدا کیږي، خو په حقیقت کی یې اعتبار له لیکلي اثر څخه غوره دی، دا په دې مفهوم چې ددې اثر په بشپړولو او ترتیب کې چې زما دلسو او پنځلسو کالو د هڅې په صورت کې منځ ته راغلی. دپښتنو د ښلا بیلو سیمو د سپین ږیرو څخه چې دلې یې نومونه دهرې برخې په جوتولو کې راغلي دي مرسته کړی ده . له دې پرته له کوم کتاب او مجلې څخه چې استفاده شوې دماخذپه توګه لمن لیك کې ښودل شوي دي.

ما په وارو وارو ویلي دي چې د پښتنو دادب په تیره شفاهی ادب خورې ورې مرغلرې د خلکو ( کلیوالو . باندہ والو ) په سینو کې خوندي دي او را ټولول یې یو ضروري کار دی. دا ځکه چې که را ټول نشي دوخت په تیریدو سره هیریږي او له منځه ځي. دبنده په وس چې څه پوره و بشپړ می کړل او دادب دوستانو ته داخل د" اتڼ دنارو هنداره " چې نیمګړې به وي په زیاته مینه وړاندې کوم.

په درنښت

علی محمد منګل

کابل – افغانستان

انصاری واټ – ۱۳-۱۰-۱۳۶۵

ډمه ډول دښره شبه دا ډول دي ولې غلی کی
امرخېل مي ښه ګډېږي نیازمین صورت یې ستړی کی

# آتڼ او په هغه کې د نارو ارځښت

اتڼ او نڅا هغه ښکلی هنر دی چې عمر او پیدایښت یې دانسان دټولنیز ژوند د پیدا کېدو سره سم اټکل کېدای شي، د پېړیو په اوږدو کې انسانانو خپل احساس په "ریتم" او دوجود په خوځېدو سره ښکاره کاوه ، کومې لیکنې او انځورونه چې د ما قبل التاریخ دانسانانو څخه را پاتې دي، ددغه حقیقت ښکارندوی دي چې نڅا او اتڼ په لومړنیو ټولنو کې وجود درلود ، همدا نڅا او اتڼ ددوی دژوند په تاریخ کې دژوند یو جز ګڼل کېده او دتاریخ په بېلا بیلو دورو کې انسانانو ځانګړي اتڼونه درلودل چې انواع یې سره ورته هم وو.[1]

دا ښکلی هنر د نړۍ په مخ په زیاتو ابتدایي قبایلو کې په یوه او بله بڼه موجود و چې هر ډول یې د یوې ځانګړې موضوع جوتوونکی و. ځینې اتڼونه د یوې مذهبي او عقیدوي موضوع په باره کې په تېره او خاصه تو ګه د قربانۍ په وخت کې اجرا کېدل، ځینو نورو یې دورځني ژوند د عادي مسایلو سره اړیکه درلوده ، په همدغو ځنډنو زمانو کې انسانانو په ګډه او یو ځایي تو ګه اتڼ سره کاوه ، یا به یوازې څو تنو اتڼچیانو په خاصو حرکاتو او خوځېدو دغه

---

۱- هنر مجله. ۴ ګڼه . ۶۷ مخ. ۱۳۶ کال. اطلاعاتو او کلتور وزارت.

عمل داوازو او شعرو په ویلو هم بدرګه کاوه[1]

دفورم او جوړښت له مخې دا ښکلی هنر په لومړنیو وختو کې په ځانګړیو ډولو "غمګین ، خندوونکی، د یو داستان څرګندوونکی یا یوازې دیوې پېښې د بیانو لو په بڼه " تر سره کېده . پو هانو ته دلومړنیو انسانانو داتڼ په باره کې چې کومه نښه په لاس ورغلې هغه د هسپانیې په یوه ښمځه کې دانځورونو او عکسو پیداکېده و چې د کیندنو په وخت کې تر سترګو شوې. دغو انځورونو پوهان په دې معتقد کړي چې دا عکسونه ، پنځوس زره کاله دمخه رسم شوي او دهغې زمانې دانسانانو دژوند ښکارندوی او دانسانانو دورځني ژوند دزیاتو فعالیتونو په لړ کې یو فعالیت اتڼ ښودل شوی دی چې په دې ډول دلومړنیو انسانانو د لومړنیو تمدنو په څنګ کې اتڼ یو فعالیت ګڼل کېده او لکه چې دمخه وویل شول دځانګړیو اوخاصو مطالبودپاره په زړه وړونکي ډول اجرا او ترسره کېدل[2]

په وروسته پاتو ټولنو کې تر اوسه پورې داتڼ عنعنوي مثالونه لیدل کیږي چې زما د خبرې شاهد دي او ښه مثال دماشوم زیږېده دي چې دماشوم د خوشالی او نیکمرغی جشن په اتڼ سره لمانځی، دا دلومړنیو انسانانو څخه را پاتې یوه عنعنه ده ، ددې خبرې مانا داده چې دژوند له سباوون څخه تر نن پورې دماشوم د زیږیدو او پیدا کېدو خوشالي په اتڼ سره په کورنۍ او کهول کې دخپلو انو تر منځ استقبالیږي.

پخوا به په ځینو ټولنو کې کله چې دیوه کور پلار ، تره او یا بل مشر ډېر سپین ږیری شو او دخپل قوت او توان څخه به ولوېد نو

---

۱_ هنر مجله. ۴ ګڼه . ۶۷ مخ. ۱۳۶۰ کال. اطلاعاتو او کلتور وزارت.
۲- هنر مجله. ۴ ګڼه . ۶۸ مخ. ۱۳۶۰ کال. اطلاعاتو او کلتور وزارت.

به يې خپل زوی، ورور يا وراره چې ځوان او ژغی به و دکورنۍ د مشرۍ دپاره انتخاب کاوه ، نو دا دود به يې داتڼ دخوشالۍ په محفل سره لمانځه او ممکنه ده چې اوس هم دا عنعنه په ځينو ځايو کې وجود ولري. په واده او مرګ کې هم پخوا اتڼ دلومړنيو انسانانو داحساساتو يوه ښه وسيله شمېرل کېده ، په دغه وخت کې دوی خپل ژغي او ځوانان ددښمن دمقابلې دپاره آماده کول، نو کله به يې چې دښمن ته ماتې ورکړه ، دابريالیتوب به يې هم داتڼ په جشنو نو سره لمانځه او بر ياليو ځوانانو چې اتڼ به يې کاوه دالهې دخوشالۍ دپاره لاسونه جګ نيولي وو او په خاص ډول به يې پر ګول ....

طبيبان بيا په دغه عقيده ؤ او باور يې درلود چې خبيثه ارواح دانځور او بيمار له وجود څخه داتڼ په کولو سره لرې کيږي. همدارنګه دباران داورېدو له پاره يې داتڼ کولو جشن نيوه او دخاصو نظمونو په ويلو سره چې دباران غوښتنه به پکې وه بدرګه کېده ، ښکارچيانو او کب نيوونکو به د ښکار او ما هيانو دنيولو درقابت په ډول اتڼ کاوه، څو چې ډېرښکار او غوښې له ځان سره کاله او کهول ته يوسي.[1]

# اتڼ دتاريخ په اوږدو کې:

داتڼ او نڅا تاريخ دهغه مضمون له مخې چې دهنر مجلې د ۱۳۶۰ کال په څلورمه ګڼه کې خپور شوی دی، ۲۲۰۰ کاله مخکې له ميلا د څخه ښوول شوی، مګر زموږ په عقيده چې تاريخ يې په زرګونو کالو دمخه دی.

[1] ــ هنر مجله. ۴ ګڼه . ۶۸ مخ. ۱۳۶۰ کال. اطلاعاتو او کلتور وزارت.

لرغونو مصريانو عقيده درلوده چې رب النوعې او الهې هم نڅېدلې او دا تصور يې کاوه چې ددوی د پلارونو او نيکه ګانو سېر (سحر) ، جادو او مذهبونو داتڼ څخه الهام اخيستی دی چې دغه نڅاوې به دکاهنانو او کشيشانو په ذريعه اجرا کېدلې او اتڼچيانو به په سمبوليك ډول دکائيناتو او نظام شمس ترسيم کاوه ، دوی به دهرې سيارې موقعيت او دهر ستورې حرکت په خاص ډول سره بيانوه چې په ځانګړيو خو ځېدو به يې دستوريو حرکتونه او خصوصيات ننداره کوونکو ته جوتول.د" هيروکليف " له ليکنو او دهغو نو شتو څخه چې دمصر په ځنډنو معابدو کې کښل شوي دا استنباط کيږي چې دپخواني مصر پادشاهان په دې مکلف و چې خاص شاهی اتڼ اجرا کړي. دغه اتڼ به دالهې په مخ کې په ډير عجز او مجبوريت سره په ورو تر سره کېده .[1]

دپخواني يونان د ليکوالو داثارو څخه دا په لاس راځي چې په ځنډن يونان کې اتڼ او نڅا دمذهب له مخې انکشاف او پر مختګ کړی و او نن ديونان داتڼ په باره کې چې کوم معلومات شته دهغې زمانې دليکوالو دليکنو او مجسمو څخه ښکاري چې په يونان کې دهري رب النوعې دپاره ځانګړی او خاص اتڼ اجرا کېده ، هغه معروف اتڼ او لو مړنی نمايشنامه چې د " ديو نيسوس " الهې په مخ کې اجرا کيده ديونان په تاريخ کې يې داول ځل دپاره ظهور کړی او رامنځ ته شوې. په يونان کې دهغه عصر او زمانې نمايشنامې د تياتر د مسلکي لوبغاړو په واسطه په ګروپي او دسته جمعي ډول اجرا کېدلې ، لوبغاړي يې ډير ښه سندغاړي هم وو، هغو به درانده ، ډبل او غوټ کالي اغوستل او پر مخ باندې به يې ماسکونه اچول او

١ـ- هنر مجله. ۴ ګڼه . ۶۹ مخ. ۱۳۶۰ کال. اطلاعاتو او کلتور وزارت.

دنریو سرو بوټونه چې ددوی خاصه وه په پښوکول . ډله ییز حرکتونه او خوځېدنې په نمایشنامو کې په معمول ډول سره هغو هنرمندانو او لوبغاړیو اجرا کولې چې اتڼچیان وو ، دغو به ساده او بې تکلیفه کالي پر ځان کول ، داډله ییز او ګروپي اتڼونه په سندرو ، آوازو ، ټاکو او چاکو وهلو سره بدرګه کېدل چې دا په نمایشنامو کې داحساس دځرګندونې له پاره وو. دپخواني یونان په مشهورو او وتلیو اتڼچیانو کې د " ایمیلیا" نوم دتراژیدۍ په نمایشنامه او د " کوردکس" نوم دکومیډۍ او د" سکنیس" نوم په هیجاني نمایشنامو کې ●یادونې وړ دي.

په ځنډن یونان کې یو بل ډول نڅا هم تر سره کېده چې هغه اکروباتیکه او آموزنده وه ، ددغې ګډیدا اجرا کوونکي دخپل وخت ډېر مشهور هنرمندان وو، دا ځکه چې دوی زده کړه ( تعلیم یافته وو) کړې وه او له وړوکوالي څخه یې په دغه هنر باندې پیل کړی و. په لرغوني یونان کې داتڼ فیستوالونو هم رواج درلود ، دغو فیستوالونو د وخت او زمانې په تېرېدو سره د ورزشي لو بو او سپورت شکل ځانته بیاموند او په هغه محیط کې یې عمومیت پیدا کړ، هغه اتڼ چې د پښتنو او نورو افغانانو داتڼ سره نن مقایسه کېدای شي په ځنډن یونان کې هغه اتڼ و چې دوسلې ( اسلحې) داتڼ په نوم سره یاد ېده ، دا اتڼ ډېر هیجان او ویره اچوونکی و ، دزیاتو تمرینو داجرا کولو نه وروسته به په داسي حال کې چې هنر مندانو او لو بغاړیو به وسلې په لاس کې نیولي وې په اتڼ پیل کاوه ، یوه لوري ته به حمله کوونکی او بل لوري ته به دفاع کونکی وو ، کله به دفاع کوونکو مخکې له مخکې په حمله شروع وکړه ، په داسي حال کې به مقابل لوری مجبور و چې دفاع وکړي، ددغه اتڼ په وخت کې به کله کله

دخوشالۍ پر ځای دزيات احتياط کولو سره سره وسله والو يو بل سره وهل او دغفلت له مخې به دخوشالۍ پرځای غم او ماتم پيدا شو. دغه اتڼ په " سپارتا" کې زيات معمول وو او خلکو به خپلو زامنو ته په ينځه کلنۍ کې دغه اتڼ ورزده کاوه او ددغه اتڼ لو بغاړي ډېر تکړه هنرمندان وو او زړور جګړن او سر تيري هم ګڼل کېدل... په دې ډول سره په پخواني يونان کې ډير ښه فيلسوفان اتهڅيان و چې " سوفوکل"، "افلاطون ، او " سقراط" اتڼ او نڅا په ډېر درنښت ياد کړي، حتی دا خبره هم مشهوره ده چې د " کريت " دمحاصرې په جشن کې " سقراط" پخپله اتڼ کړی او داتڼ په ميدان کې يې په خاص ډول دپښو وهلو حرکتونه اجرا کړي دي.[1]

په روم کې اتڼ دنورو لرغونو هيوادونو په څېر خپل تکاملي سير په ښه شان سره تېر کړی و او روميانو ديونانيانو په څير مذهبي اتهونه درلودل چې په خپلو عبادتګاو کې به يې سر ته رسول ، داسې عقيده موجوده ده چې اتڼ دروم په امپراطورۍ کې د " ايتروسکنس" له عصره چې درومنانو له راتلو څخه مخکې يې سلطنت درلود اجرا کيده ، کله چې رومنانو خپل نفوذ د مديترانې په برخه کې زيات کړ، نو روم د ډېرو او مختلفو فرهنګونو د تقاطع ديوه مرکز په حيث وپيژندل شو ، او دنړۍ له بېلا بيلو برخو څخه ځانګړی اتهونه دغه ځای او خاورې ته راورسېدل چې ورو ورو دلومړي ځل دپاره دهسپانيې د ښکلي اتڼ سره اشنا شول چې دټولو دپاره ډېر دمننې او قدر وړ. روم ته تياتر له يونان څخه راغلی او هغه مذهبي اتهونه چې د " بکچوس" په مخ کې اجرا کېدل ديونان داتهو سره چې د "ديونيسوس" په مخ کې سر ته رسېدل مشابهت اوورته والی درلود....

---

۱- هنر مجله ، ۴ ګڼه ، ۶۹-۷۰ مخونه ، ۱۳۶۰ کال ، اطلاعاتو کلتور وزارت.

د"پانتومیم په نامه هنر" په روم کې پیدا شو او په دغه وخت کې دې هنر ډېر ښه انکشاف وکړ. ( پانتومیم) دستیبر پر مخ هغه عمل ؤ چې بې له آواز څخه دوجود او بدن په حرکاتو سره نمایشنامه اجرا کیده، ددغه هنر داجرا په باره کې د " پیلا دیس " او "باتیل" نومونه په روم کې دخاصې یادونې وړ دي.[1]

په پخواني هند کی اتڼ دمذهبي مراسمو په وخت کې په خاص ډول سر ته رسېده او دغه هنر اوس هم هلته په مذهبي توګه زیات انکشاف موندلی دی چې دسینما دپردې او تلوېزیون پر مخ ښه مشاهده او لیدل کېدای شي....

دافریقا په تورپوستیو کې پخوا او اوس اتڼ ملي ، مذهبي او عنعنوي ښه لري چې په خاصه علاقه تر سره کیږي او داتڼ په وخت کی دوی په زیاته مذهبي عقیده سخت خرکات اجرا کوي او دبلې ابدي دنیا و خواته یې فکر متمایل کیږي.

په منځنیو پېړیو او دفیوډالیزم په دوران کې اتڼ په ګډه او یو ځایي توګه وجود درلود ، په دغه وخت کې به ډېر لوړ او ښه هنر مندان چې پوه ښوونکي یې درلودل داتڼ میدان ته وتل، کلیسا ګانو لکه څنګه چې داروپا دخلکو سرنوشت په لاس کې درلود داتڼ او نڅا دښوونکو فعالیت یې هم تر جدي کنترول او مراقبت لاندې و ، هغو یوازې مذهبي ګډېدا ته اجازه ورکوله، بل ډول ګډېدا هلته تر سره کیدای نه شوه.[2]

کله چې په اروپا کې درنسانس دوره پیل شوه ، ورسره سم خلکو په خپلو اولسي اتڼو او نڅا باندې چې ددوی عنعنوي ګډېدا وه

---

۱- هنر مجله . ۴ ګڼه . ۷۰ مخ . ۱۳۶۰ کال . اطلا عاتو کلتور وزارت.

۲- هنر مجله . ۴ ګڼه . ۷۱ مخ . ۱۳۶۰ کال . اطلا عاتو کلتور وزارت.

پیل وکړ او په دې ډول دوی خپله عنعنوي ګډیدا له سره را ژوندۍ کړه او دهنر په برخه کې یې زیات وړاندې تګ منځ ته راغی.[1]

دپورتني یادونې له مخې په لنډ ډول سره دومره وایو چې اتڼ او ډول ډېر زوړ او ځنډن تاریخ لري چې دنړۍ پر مخ په زیاتو لومړنیو او ابتدایي ټولنو کې په یوه او بل شکل تر سره کیده ، پوهانو او څېړونکو په دغه برخه کې زیاتې څېړنې کړې چې دهغو راوړل دلې موضوع اوږدوي او ځانګړې څېړنه غواړي ....

داروپا یي ټولنو په څېر اتڼ او نڅا په آریایي ټولنو کې هم ډېره ځنډنه ملي عنعنه او دخوشالۍ او دخوښۍ په زره پورې او دمذهبي مراسمو دخوشالۍ ځانګړی لوبه ده چې په بیلا بیلو حرکاتو به اجرا کېده چې دویدي دورې او دریګو یدا په سرودونو کې یې یادونې راغلې او دا ورڅخه جوتېږي چې داتڼ او نڅا دود په پخوانیو آریایانو کې په عام ډول سره وجود درلود. داتڼ کوم روایات چې له ویدي دورې موږ ته را پاتې دي، دهغو روایاتو کیسې او نکلونه اوس هم زموږ په پښتني ټولنه کې صدق کوي، داتڼ او اتڼچیانو هغه خصوصیات چې دهغې دورې متونو شرح کړي زموږ په غرو او درو کې لیدل کیږي.[2]

لکه چې وویل شول دریګویدا دسرودونو له بیان څخه معلومیږي چې ویدي زمانه کې او دهغه نه پخوا ښځو او نارینه وو اتڼ کاوه او نڅل به یې، مګر دا معلومه نه ده چې ښځو او نارینه وو به یو ځایي هم نڅل او که نه ؟ اتڼ لکه چې نن ورځ په افغاني قبایلو

۱- هنر مجله . ۴ ګڼه . ۷۱ مخ . ۱۳۶۰ کال . اطلا عاتو کلتور وزارت.
۲- غرنی سندرې سریزه . زلمی هیواد مل . ۹۸ مخ . ۱۳۶۰ کال. افغانستان دعلومو اکاډمی . دژبو او ادبیاتو مرکز. پښتو ټولنه .

او پښتنو او نور ستانيو کې رواج او معمول دی، په همدغه شان په ويدي زمانه کې دآريائيانو په منځ کې هم رواج او معمول و، آريايي ځوانانو به خپلې اوږدې څڼې په غوړو غوړولې او په داسې حال کې چې ځانونه به يې په دښتي او غرنيو (خودرو) ښکليو ګلانو ښايسته کړي وو ، ډله ډله او په سندرو به داتڼ ميدان ته حاضر يدل . اتڼ به دنن ورځې په شان عموماً په آزاده هوا او عمومي ميدانو کې کېده ، جنګي اتڼ همدغه عادی اتڼ و چې ډير و ځوانانو او خلکو به پکې ګډون کاوه . دغه اتڼ به د ډول په سخت آواز سره ډېره ښه وسيله وه چې ځوانان به يې دجنګ په ميدان کې مستول.[1]

ترکومه حده پورې چې د پښتنو داتڼ په باره کې معلومات شته ،ددوی اتڼونه هغه وخت اجرا کېدل چې ديوې قبيلې او قوم دپاره دښادۍ او خو شالۍ لويه ورځ وه. ځينې وايي: پښتنو کې اتڼونه له هغه وخت نه پيل شول چې يو قام به په بل قام باندې دجنګ په وخت کې بری بيا موند او هغه به يې د جګړې او مقابلې په سخت ميدان کې مات کړ، بريالي او فاتح قوم به ددغه وياړ د ګټلو په خاطر دخوشالۍ او خوښۍ اتڼونه په سندرو سره پيل کړه او خپل بريالي او تکړه ځوانان به يې په سندروسره ستايل او دهغو دننګ او دغيرت خاطره به يې تازه ساتله .[2]

اتڼ خو له ځنډن وخت څخه تر اوسه زموږ په خلکو او پښتنو کې درزم او بزم ديوه ملي سمبول په توګه وجود لري، پښتانه دخوښيو او ښاديو په مراسمو او مېلو کې اتڼ کوي، دجنګ ميدان ته هم په اتڼ ورځي او زموږ د کلتور ديوه نه بېلېدونکی جز په تو ګه د پښتنو په

١_دافغانستان پخوانی تاريخ . کهزاد احمدعلی. ١۶٠ مخ. ١٣٣۴ کال.
٢- لمر مجله. ولي زلمی ليکنه . ١١ ګڼه. ١٣۵٠ کال. اطلاعاتو کلتور وزارت.

ملي عنعناتو کې نغښتی دی. په اتڼ کې نر او ښځې دواړه برخه لري، دنرانو اتڼ ځانګړی او دښځو هم په جلا ډول اجرا کيږي. له پښتنو سره په ګاونډ کې پراته ځيني نور قومونه لکه بلوڅان ، براهويان، پشه ئيان او نورستانيان هم اتڼونه او محلي نڅاوې لري چې ددغوافغانانو اوخلکو داتڼ ځيني ډولونه په حرکاتو کې له پښتني اتڼو سره ورته والی لري.[1]

. اتڼ پخوا وخت کې دخاص نظم له امله پښتنو کې د لښکر و او جنګونو د جمنظام برخه درلودله چې اوس هم دنړی دزياتو پوځي او نظامي ماهرانو له خوا د تائيد وړ ګڼل شوی.[2]

په هر صورت اتڼ د پښتنو هغه ډله ييزه او ټولنيزه عنعنوي ګډيدا ده چې د پښتون اولس کلتوري او هنري خوا دواړې پکې په ښه شان سره انعکاس مومي، نارينه ځانته اتڼونه کوي او ښځې يې هم په ځانګړي ډول اجرا کوي، په کاکړو يعنې کاکړ ستان کې چې دښځو او نارينه وودګډ اتڼ ځنډنه عنعنه تېره شوې، همدا ګډ اتڼ يې هماغلته برګه امې يا ګډه امې بللې ده ، دانوم په اولس کې ژوندی دی، په بنير او سوات کې هم د ښځو او نارينه وو ګډ اتڼ تېر شوی چې د آدم خان په نکل کې داسې راغلي :" وايي چې هلته په بنير کې واده و چې ښځو او نارينه وو ګډ اتڼ سره کاوه، په دغه ګډ اتڼ کی دآدم خان پلار په توتيا باندې سترګې ولګېدلې او هغه يې خپل زوی آدم خان ته وغوښتله چې واده يې ورته وکړ."[3] ليونی اتڼ او برګ اتڼ په پښتنو کې دا ژبنۍ اصطلاح ګانې تر اوسه معمولې دي. په پښتنو کې داتڼ

---

۱ــ غرنۍ سندرې، سريزه زلمی هيواد مل. مخ ۹۸-۹۹. ۱۳۶۰ کال علومو اکاډمي . ژبو او ادبياتو مرکز.

۲ــ لمر مجله، ولي زلمي ليکنه . ۱۱ ګڼه. ۱۳۵۰ کال. اطلاعاتو کلتور وزارت.

۳ــ امير کروړ ياد . نوميالی. ۴۶۹ مخ . ۱۳۶۴ کال: افغانستان د علوموااکاډمی

زيات ډولونه شته خو تر منځ يې ښېلوالی په اکثرو ځايوکې د قبيلې يا سيمې نامه ته منسوببږي چې وروسته به په خپل ځای کی ځيرنه پرې وشي، په هغه ځنډن وخت کې به له اتڼ سره د جګړې په ډګر کې يو ډول هڅوونکې او دملي احساس پاروونکې سندرې ويل کېدې چې دځوانانو غيرت او احساس به يې راڅوندی کړ او زيات قوت به يې دننګ او غيرت او مېړانې تر سره کولو له پاره ورپه برخه کاوه . دغيرت او قوت په راپارېدو سره به ځوانانو دمقابل لوري دمقاومت څه پروانه کوله او دخپلې ملي روحيې، ننګ او غيرت او دهڅوونکو سندرو په ويلو سره پر مخ تلل او برى يې په برخه کېده. په ډېرې خواشينی سره بايد ووايم چې دوخت او پېړيو په تېريدو او د اولس دژوندانه دبڼې په بدلېدو سره د جنګ په وخت کې دملي اتڼ ددغو ځنډنو سندرو چې دملي احساس راپاروونکې وې ماته يې کومه نمونه له ډېرې هڅې سره سره په لاس رانغله. لکه د پښتو نور ډير ملي ادبيات چې دزمانو په اوږ دوکې ددوی دخاورې کېدو سره خاورې يا دهغو درندو تاړا کونو له امله چې دسکندر، تېمور او بابر له خوا په بيلا بيلو وختو کې پردوی راغلي داور په لمبو کې سوځول شوي او لو لپه دي، دغه شان داتڼ هغه نارې او بيتونه چې دجنګ په ميدان کې ويل کېدل، ددوی دخاورې کېدو سره خاورې شوي دي، له ډېرې ناامېدی سره مې دا يوه لنډۍ پيدا کړې چې دنمونې په ډول وړاندې کيږي:

چې ډول وهي ځوانان ټوليږي
يابه لښکروي ياغدی دژنيوڅينه

° ° °

داوه ډولونو درنګ ی دی
دمستو ښځو په غوږ ځي دی

## ډول:

ډول داتڼ سره تړلی دی، بې له ډول څخه اتڼ په سمه توګه اجرا کېدای نشی، په ټولو پښتنو په تېره دپکتیا په قبلیو کې سل کاله دمخه چې ما دخپل نیکه څخه اورېدلي دي ویل یې " کله به چې یوه کلي کې د چو غې ( چیغې) ډول ووهل شو د ( چوغې ډول په ځانګړې بڼه او غږ وهل کېږي) باندوال او کلیوال به پوه شول چې څه پېښه ده یا ددښمن سره دجنګ خبره ده ، دا ځکه هغه زمانه کې ددوی تر منځ کلي په کلي بدۍ او دښمنۍ وې چې دا لاندې لنډۍ او پښتو ټکۍ یې جوتې نمونې دي:

کلي په کلي بد ۍ را غلې
مازورورکلي ته تیره کې چې مرمه

* * *

کلي په کلي مې بد ۍ شو ې
(*)خاونده خدایه خوشالۍ به کله وینه

ځوانانو به چې دچوغې د ډول غږ واورېد بې له درنګ څخه به یې کورو ته ځانونه ورسول خپلې ملا وې به یې دکړتو سو( کلتوسو ، کرتوسو ) په کمر بندو او ګردنیو کلکې وتړلې، توپك به یې په اوږو کړه ، ددښمن دځپلو له پاره به په توپکو سر بېره چاتبرګي ، چا تورې، چا خنجر او چا ډانګو نه په لاسو کې ونیول، دچوغې دډول ځای ته به چې را ورسېدل په دغه لنډ او حساس وخت کې به یې دملي اتڼ په کولو پیل وکړ، په دغه ځای کې به یې چې یوه پنجه اتڼ په تنده بڼه سره وکړ دځوانانو دغیرت وینې به په رګو کې تودې شوې په دغه

(*) عمر مې ټول په غم کې تیر کی قدیمه خدایه خوشالۍ به کله وینه

شپبه کې به هر چا هر څه چې ددښمن دوهلو او شړلو دپاره په لاس کې درلودل داتڼ دکولو او اجرا په وخت کې به یې دخاصو پورته غورځېدو سره هغه دغیرت او ننګ تر سره کولو دپاره په ځانګړیو ښو پړه کول او ښو رول ، لکه چې دمخه مو ویل په یونان کې هم دغسې عنعنه موجوده وه ، له یوې پنجې اتڼ کولو وروسته به په ډیره مېړانه او زړورتیا ددښمن په لور دغورځیو ، کریغو، ډیهو کولو او خاصو بیتو ویلو سره پر مخ ورتتل، دملي او قومي اتفاق په روحیه یې تل دتورې مخ سور او برى یې په برخه و ".( داوه زما دنیکه خبره چې دچوغې دډول په برخه کې یې ماته وکړه ، دچوغې ډول دنورومو خو او مطلبو دپاره هم وهل کیږي، زمونږ دنیکه په وخت کې دوی لو یې ځنې درلودلې چې تر ملا پورې به رسېدې او دررتارو په خولیو کې به یې پټې ساتلې دوی به خپلې ځنې دغوا په نړو ( نکو، مږو ) غوړیو غوړولې، دا چې دا ځنې اوږدې وې داتڼ په وخت کې به یې په لاسواچولې....)

# داتڼ ډولونه :

دپښتنو داتڼ ډولونه مرحوم غلام جیلاني جلالي څلور ډولونه، مرحوم محمد ګل نوري لس ډولونه . څېړنمل محمددین ژواک دپښتني سندرې لومړي ټوك په مقدمه او ښاغلی حبیب الله رفیع دخلکو سندرې نومي اثر کې هم داتڼ دغه (لس) ډوله ښوولي (*) خو ولي محمد خان سیال کاکړ په فولکلوري سوغات کې داتڼ دلسو

(*) داتڼ لس ډولونه دادي: ورو اتڼ. یو اړخه اتڼ. دوه اړخه اتڼ. درست اتڼ. دابشلې اتڼ. دناستې اتڼ. دپروتې دوه اړخه اتڼ. چپه او راسته اتڼ. ملی اتڼ.

څخه زيات انواع او دپکتيا دمجلې په يوه ګڼه کې د اتڼ پنځلس ډوله ښوول شوي دي.[1] دد غه اثر دليکوال ليکنه چې په مستعار نوم راغلې ده.

په ګړني ادب نومي اثر کې عبدالکريم پتنګ دخوست، دسيمې دښځو اووه ډوله اتڼ په " اوسنی ادب " نومي اثر کې چې نوی دقومونو او قبايلو چارو وزارت څخه دزلمي هېوادمل په نه سترې کېدونکې هڅه او مرسته راوتلی او دعلی محمد منګل اثر دی په دغه اثر کې دنارينه وو يو ويشت ډوله د راسته او چپه اتڼ او دښځينه اتڼ اووه قسمه ښوول شوي دي. سره له دې د ټولو پښتني سيمو څخه داتڼ ډولونه او بيلا بيل انواع تر لاسه شوي نه دي . ممکن چې نور ډولونه او اشکال به يې هم ډېروي ، خو دا هغه وخت په لاس راتللی شي چې د پښتنو له لرو او برو سيمو څخه را غونډ کړای شي، دا ځکه چې د وزيرو ، مسعودو ، بنګښو، داوړو ، بنو ځيو ، توريو ، ځدرانو مندوزيو ، اسماعيل خيلو،خټکو، کوچيانو ، دسوات او بنير دپښتنو، وردګو او احمدځيو او داسې نورو ډېرو پښتنو قبيلو او قومونو په باره کې ماته څه څرګند شوي نه دي،چې دا هم يو ضرورت دی او بايد لټه پسې وشي....

دا وه دپښتني اتڼ په برخه کې لنډه غونډې څېړنه چې دموضوع داوږدوالي له امله يې دزيات تفصيل څخه تېرېږم او په دوهمه برخه چې د " اتڼ نارې" دي پيل کوم.

## داتڼ نارې :

هغه څه چې اتڼ ته ډېرارزښت،خوند او رونق ورکوي او هنري کيفيت يې زياتوي او يا اتنچيان پر جوش راولي، هغه داتڼ

[1] غرنی سندرې سريزه. زلمی هېوادمل. ۱۰۰ مخ . ۱۳۶۰ کال. دافغانستان دعلومو اکاډمي. پښتو ټولنه .

ناړې دي، که څه هم له لنډيو څخه زيات داتڼ دنارو کار اخستل کيږي ، خو سره له دې دپښتنو په شفاهي ادب کې ځينې نورې ځانګې هم شته چې خلك يې داتڼ دنارو په نوم سره يادوي. خو دسيمې په لحاظ داتڼ بيتونه ، پامونه او داتڼ غږونه هم ورته وايي چې په ځانګړيو غاړو او وزنونوويل کيږي او په ځانګړنه اجرا کيږي.

همدا داتڼ ناړې او غږونه دي چې په خاصو طرزونوداتڼ دحرکاتو او لټهونوله اوښتلو اواجرا کېدو سره يو ځای ويل کيږي، داتڼ ناړې چې ډول ډول جوړ ښتونه لري. په ساده الفاظو کې يې کلتوري خصوصيات په ښه شان سره جو تيږي. پهنورو هنري ښېګړو بر سېره يې ادبي اهميت دزياتې توجه اوپاملرنې وړ دی. دا چې دغه ناړې دسيمې په لحاظ سره ځانګړې دي او محلي بڼه لري دوخت په تېرېدو سره هېر يږي.[1] ددې خبرې سره موږ دهرې سيمې د پښتنو او ځوانانو څخه هيله کوو چې دپښتو ادب دغې سوچه او په زړه پورې برخې ته دې توجه وکړي او که کېدای شي دا ښکلې ادبې مرغلرې دې دچاپ او ليکنې په ډګر کې چې ارځښت ( ارزښت ) يې خورا زيات دی دلوستونکو او څېړونکو په واك کې ورکړي څو چې له ورکېدو او نيست کېد لو څخه بچ او په امن پاتې شي.

# داتڼ دنارو پيدايښت:

که څه هم داتڼ دنارو دپيدايښت سمه نېټه نه ده معلومه ، مګر دا چې په پښتنو کې ښادۍ او اتڼونه له ابتدا او قبل الاسلام څخه موجود او له آريايي دورې څخه په ميراث را پاتې دي، نو

[1] ـ دامير کروړ ياد . محمد انور نوميالی . ۴۶۹-۴۷۰ مخ. ۱۳۶۴ کال. دافغانستان دعلومو اکاډمي.

ممکن چې هغه وخت به يې هم داتڼ نارې او يا داتڼ مخصوصې سندرې درلودلې خو داتڼ موجودې او لاس ته راغلې نارې او سندرې په اسلامي دورې پورې اړه لري او د مخکينيو وختو کومه ناره په لاس کې نشته ، په دې سبب ويلای شو چې دا تڼ نارې دپښتو په اولسي سندرو کې دقدامت څښتنې او دپښتو سندرو ستره برخه بللى کيږي. داتڼ دنارو له ژورې کتنې څخه داسې معلوميږي چې داتڼ دا موجوده لاس ته راغلې نارې لومړى ځل په کندهار او دهغه په شاو خوا سيمو کې ويلې شوې او بيا وروسته نورو ځايوته نقل شوې دي.
په دې لړ کې ډېرې داسې نارې موجودې دي چې دا استنباط ترې کېدای شي چې يوه نمونه يې داده:[1]

امرت په ونه توره کندهاره

زلفې مې اوږدې شوې        اوږدې زلفې به څو ګرزم بې ياره

دغې نارې " او " غاړې" ته ورته " پام " په پکتيا کې په دې نږدې او مشبه ډول وجود لري، لکه :

مستى کبر جنې ليلو !

اوږدې زلفې دې شاه ته واړولې        په څنګ ته تېريږې جلې

زه دې لېونى کړم

( على محمد منګل )

د" خلکو سندرې " نومې اثر ليکوال دا خبره چې داتڼ نارې اول په کندهار او بيا د هغه په شاو خوا کې ويل شوې، څه زړه ته لويږي، دا ځکه کومې نارې چې ده په خپل اثر کې راټولې کړې دمنګلو داتڼ له " پامو " ، " بيتو " او " نارو" سره د مقايسې له مخې دا ټکى ترې جو تيږي چې داتڼ دنارو بنه په کندهر کې بشپړه او په

---

[1] ــ دخلکو سندرې . حبيب الله رفيع ۷۰-۷۱ مخ .

منګلو کې څه نیمګړې معلومیږي، خو سره له دې تر هغه وخته پورې چې د ټولو پښتني سیمو څخه داتڼ نارې راټولې شوې نه وي دغه خبره منل یو څه کار او زیاتې څیړنې ته اړتیا پیدا کوي [1] دپورته لنډ بیان په نتیجه کې غواړم چې د کندهار او منګلو د اتڼ نارو دمقایسې په صورت کې دا پورته خبره څه روښانه او جوته کړی شي.

دکندهار ناره:

په غاړه دستمبول دی     پیکی دې اړولی لور په لوردی
تما مه شپه یاري کړې     سهارپه کلي ګرځې زماوروردی

دمنګلو پام:

جلکۍ سر دې سر تور دی     پلکی دې اړولی لور په لور دی

یا داسې:

جلکۍ سردې سرتوردی     داسپینه خوله دې ژنیو سره جوړیږي

دکندهار ناره:

تر دې نجلۍ مکاره بله نسته     درود په هغه غاړه
لستوڼی ښوروي لاس پکې نسته

دمنګلو پام:

تاګې (تګې) لیلو تګې
ړستوڼی راکوې منګول پکې نیشته
یا: ړستوڼی روکوې لوس پکې نشته

---

۱ـ اولسي ادب . علی محمد منګل. ۷-۸ مخ . ۱۳۶۴ کال. دقومونو او قبایلو چارو وزارت

دکندهار ناره:

په خوړ کې يو فقير دی چا وژلی دتورې وار پرې نسته
زړګی يې په ليلی پسې چاودلی

دمنګلو پام:

پېرې (پورې) يو ملنګ دی چا وژلی
چاوژلی نه دی زړګی يې په ليلو پسې ختلی

دکندهار ناره:

ترپاڼ لاندې مې سترګې تور ولې چې پاڼ را باندې راغی
منګولې مې په يار ولګولې

دمنګلو پام:

دپوڼ خوته مې سترګې تورولې پوڼ زور رنې وکی
منګولې مې تر يور وخرخولې

دکندهار ناره:

چتې چې په پښو دې کړې چوتې
ځوانان دې ليونې کړه
زاړه خواران دې وايستل له ګټې

دمنګلو پام:

چتې ليلو چتې
څوک دې ليونې کړه څوک دې ولوول له ګټې
همدا د کندهار، زابل او منګلو ناره د شين ډنډ په چاپ(*)

(اتڼ) کې داسې ويل کيږي:

که چتې چتې په پښو دې کړې دسروزرو چوتې
ځوانان دې ليوني وای زړه خواران دې وايستل له ګټې

(*)_ په شين ډنډ. نيمروز. بلوڅو او فراه کې "اتڼ" ته "چاپ" وايه شي.

که چیرې د پښتنو د بېلا بېلو سیمو داتڼ نارو ته ځوك لیچې و غړي او را ټولې یې کړي ممکن چې دپښتو اولسي ادب په ببره ورشو کې به په دغه برخه کې زیات په زړه پورې ښایسته مواد په لاس ورشي.په هرحال څو ورځې دمخه دیوه تن شین ډنډي سره په لار کې مخامخ شوم ورته ومې ویل چې داتڼ کومې نارې درمعلومې دي. هغه له یو درنګ څخه وروسته په خاصه موسکا وویل: ته دې لارې په سر څه غم اخستی یې، داتڼ نارې څه کوې ؟ ما ورته وویل: که چیرې پرې پوهیږې راته ووایه او که نه نو پوښتنه مه کوه ؟ په خنډا یې وویل: دا یوه ناره مې زړه ته راغله په نورو باندې به فکر وکړم، همدا دشین ډنډ داتڼ ناره دکندهار دیوې نارې سره مقایسه کوو چې یو څه نږدې والی او ورته والی سره لري. لکه :

ستا چشمان سیاه وای لب دې شرینه
ما ته دې رانکړې تر شید و سپینه

دکندهار ناره :

خوله دې دغاټول تر ګل نازکه ومانه دې رانکړه
آخر بې یا چینجیان وخوري یا مځکه

همدا شان دا دوې داتڼ نارې چې دکندهار ، شین ډنډ ، زابل او یا دغزني دسیمې بـه وي دپکتیا دمنګلو داتڼ له نارې او پام سره دمقایسې په صورت کې نږدیوالی لري، لکه :

دشین ډنډ ، کندهار او زابل ناره:

اتڼ چې دکندهار نجونې کوینه لنډ یې کمیسونه
لونګ یې په نامه غوټې وهینه

همدا ناره داسې هم رواج لري:

اتڼ مې دسپېروان نجونې وهینه پرملا کږه وږه سي

شاباز يې دنامه غوټۍ وهينه

دمنګلو پام او بيت دادی:

جلکۍ کړه وړه شوه

تویذ(تعویذ-تاویز ) يې دنومه غوټۍ وبينه

دا هم یو څو خورې ورې داتڼ نارې چې دپښتنو په بېلا بېلو سيمو کې شته ، ممکن چې په ډېرو ځايو کې به نه وي، ددغو نارو بېه په پکتيا کې ماته تر اوسه په نظر نه ده راغلې ، لکه :

درخوآدم دې چېرې په لاس کېووت

آدم دباز بچی په دام را کېوت

* * *

PROPERTY OF ACKU 19397

خو له دې دا و موشيدو پېروی

پر نيمو شپو به د رسم

پیروی به دې تول کم لکه روی

* * *

څه کم د چا څه کم

پر خپل ولات ولاړ یم کاته کم

* * *

دا يار كه مې نادان دی

دچا پر شمله ورو بې ورنه کم

دغزني په پښتنو او کتواز کې داتڼ ناروته ( غاړې ، نارې ، لارې ) وايي ، داسې روايات په دوی کې وجود لري چې " غاړې " په عمومي ډول په اتڼ کې په نري آواز او غړ سره دغړانګو په ډول ويل

کيږي، [1] لکه:

لېونی محبوبې جګه ټيټه سه خوله راوړه
که دې خوله راکړه انډيو اله به دې شمه
لېونۍ محبوبې جګه ټيټه سه خوله راوړه

داغاړه په ګډه او يو ځای تو ګه سره داتڼ په وخت کې اتڼچيان په خاص وزم ( وزن) سره وايي، په ځانګړي ډول بيا داسې ناره بولي يا وهي چې دغه لاندې (لا ره او لا رې ) تعقيبوي يعنې دلنډيو په بدرګه غاړې او نارې په ځانګړي ډول سره اجرا کوي، لکه:

کور دې په کلي کې معلوم دی لالیه ګل مې راکه
که دګل راکړو انډيواله به دې سمه
له دې ځايه ګل درواخله
د دروازې په سر دې ګل کرلي دينه
لالیه ګل مې راکه

يا داسې:

ما ته دې پېغلې کور معلوم دی لالیه خوله مې واخله
دکور په سر يې کټ مالي( کشمالی ) کرلي دينه
لالیه ګل مې راوړه
راجګه سه له دې ځايه ګل واخله

آوازونه دځوانانو په مېله ، شابرات په شپه ، دزوی دزېږيدو په ورځ او دکوزدې په وخت کې ويل کېږي، داشان په تاريخي شپو ، آزادۍ په ورځو او نوي کال کې ځوانان او سپين ږيري يو کور يايو

1ـ دا معلومات می ديو تن اندړ ښخه راټول کړی نوم يې ميرزاجان و. دی په زوړ نقاش کې چې دشاه دوشمشيره زيارت شمال لورته غره کی يی کورو او زموږ له ګاونډيو ښخه و.

ځای کې سره غونډېږي مېله جوړوي او په دغه میله او خوشالۍ کې د" کسر په نامه " آوازونه وايي، په اول سر کې چار بیتې ، بګتۍ، لنډۍ ، نیمکۍ او نعتونه ویل کیږي او ورپسې یو آواز غاړی خپل آواز شروع کوي او دا آواز غاړی په ولاړې په کوټه او یا آزاد او هوار میدان کې ګرزي او کله خپل لاسونه دآواز او نارو په وخت کی غوږ و ته نیسي او نور اته یا لس تنه ګرد چا پېره چې غړونه یې سره یو شان وي کېني چې دکسر چیانو په نامه یادیږي او دکسر آواز آخر کې په آواز غاړي پسې دوه ځله تکراروي چې دمثال په توګه یې یوه نمونه ذاده :

یاره څه زورور جنګ و دمیوند په سپین میدان
زېیو کېښودل سرونه په نامه دې پاك سبحان

او یا کله کله دوی دملنګ جان آواز وايي:

نوی موسم نوی بهار دی سینې مې اوس کړي ګلونه
رانه جدا دې مینې یار دی او ښکې مې ځي په مخ رودونه
له دې پرته طالبان په کال کې دوه ځله داتڼ میلې جوړوي، یو

وار ېې دتوتو په وخت کې چې توت پاخه وي چې دتوتو دمېلې په نوم یادیږي، بل دژمي په وخت کې چې دلا ندیو غوښې وچې وي دلا ندي دمېلې په نوم سره را غونډیږي. په دغو مېلو کې په معمولي ډول له ډیرو جوماتونو څخه طالبان سره را غونډیږي او دیوه کلي په جومات کې مېله جوړوي، ددغې مېلې ټول مصارف او تکالیف دکلیو الو له خوا دعلم پرورۍ له مخې ورکول کېږي او دوی په خپله مېله کې دوه ډوله اتڼ کوي، دولا ړې او په ناستې ، په اتڼ کې یې معمولاً دوه یا درې تنه په خاص ډول سره څرخیږي او درې څلور تنه ورته سندرې وايي او خپله مېله دټیم وهلو ، تال وهلو ، چاکو وهلو ، زنګ وهلو او

په مذهبي جذباتي نعتونو سره ډېره په ښه شان اجرا او سرته رسوي، يوه نمونه يې داده چې داتڼ په وخت کې يې وايي:

تا ويشتلي يمه وا بې غوره ياره
خوب – خوب مې ورينه
خوب – خوب مې ورينه
طالبه خداى که به ملا شې
خوب – خوب مې ورينه
په کتاب پروت يې يادوې شينکى خالونه
خوب – خوب مې ورينه
تا ويشتلي يمه وا بې غوره ياره
خوب – خوب مې ورينه
خوب - خوب مې ورينه

## په واده کې دنارينه وو داتڼ نارې :

دمخه مو وويل چې اتڼ په پښتنو کې د خپل ټول ارزښت، کم او کيف سره موجود دى، په تېره دواده په وخت کې چې اتڼ د پښتنو ځوانانو له خوا اجرا کيږي، په هغه کى چې دخوشالۍ او خوښۍ نارې او غږونه نه وي نو يوازې دوجود خوځېده خوند او کيف نه لري او نه پر سيلانيانو دومره اغيزه کوى ، کله چې دپښتني اتڼ سره نارې غورځي درابې ، چاکې ، ځنې اچول او موزونې کلمې او دلا سو ښورول ملګري شي اتڼ ته ځانګړى خوند ورکوي، په نارو او غږو ويلو سره داتڼ رنګ لا پسې خوندور کيږي،. له بلې خوا څخه داتڼ دنارو مطالب او جوړښتونه هم ډېر لرغوني دي، ادبي سکښت يې له ويدي او اويستايي سرودونو سره سر لګوي، خصوصاً ځينې ځينې نارې

يوازې وزن ساتي او درديف او قافيې غړوندي نه په غاړه کوي چې دا دويدي او اويستايي سرودونو مهم خصوصيت دی.[1]

داتڼ نارې لکه چې اشاره وشوه په يوه خاص وزن ويلې کيږي او ځانګړی جوړښت لري. په دې نارو کې دوې مسريزې، درې مسريزې ، څلور مسريزې نارې وينو ، دوه مسريزې معمولاً سره په يوه قافيه او کلمه په بېله قافيه دي، ددرې مسريزو لومړی او دريمه مسريۍ يوه قافيه او دوهمه مسرۍ يې آزاده وي، دڅلور مسريزو معمولاً لومړۍ ، دوهمه او څلورمه مسرۍ يوه قافيه او دريمه مسرۍ يې آزاده وي، لکه :

ښکليه کندهاره
څلور دي درويزې څلور بازاره

*　　*　　*

څوی ( ځئ ) چې پسې لوړ شو
جلکۍ دې منډېبر سرکۍ منه دو(ده)

که توديږي دغرمې تنور توديږي
چتهه ورته نوسته
په مخ يې مړې ( وای) مړې خولې بيېږي

*　　*　　*

رو څوی چې نن دکونډې ولمونه شئ
دکونډې يوه لور دو
ژنيو په ديدن بې يې موړه شئ

---

۱ـ زياتو معلوماتو له پاره وګورئ ، زيري کالنۍ. زرينې ځانګې. ۲۳۷-۲۳۸ مخونه. ۱۳۶۰ کال.

(پرسګن) پرو سږ کال لا ښه وو
لالیه تر شاتوت لاندې میشته وو
دخدای فضل که نه وای
لالیه ! سږ به دواړه سره مړه وو

*        *        *

سرې سترګې روجنګې که
توله شوه وطنونه

خو دا قیود په ټولو نارو کې نشته او لکه چې دمخه ویل شوي دسیمې په لحاظ تو پییر سره کوي، دا حالت هلته ښه را جوتیږي چې دټولو پښتنو له سیمو څخه داتڼ نارې را ټولې او یو له بله سره پرتله او مقایسه شي. داتڼ نارې په نارینه او ښځینه دواړو اتڼو کې ویلې کیږي او په ګډه اتڼ کې هم دود دي اتڼ کې چې دغه زړه وړونکې او خوند ورې نارې وجود ونه لري نو یوازې دوجود دخوځیدا او یوې او بلې خواته حرکات او اوښتل نندارہ کوونکو ته ښه نه ایسي او نه چندان توجه ورته کوي، اثر او اغیزه یې هم کمه وي، کله چې په اتڼ کې غورځې او دسوبت سندرې وبلل شي نو اتڼ زیات خوند پیدا کوي او په ننداره چیانو ښه اثر کوي، له دې کبله نارې په اتڼ کې ارځښت لري....

په پکتیا کې دواده په وخت کې کله چې ځوانان اتڼ کوي داتڼ په میدان‌کې داتڼ بیتونه او نارې په خاص وزم (وزن) سره وایي، داتڼ دپیل کېدونه دمخه ځوانان په دوو ډلو او بېلا بېلو کتارو سره ویشل کېږي، ځوانان د کتارو په وخت کې لاسونه سره ورکوي، داتڼ په هوار میدان کې یو کدم تر مخ او یو کدم تر شاه او څټ ته په موزون ډول سره اخلي، په دغه وخت کې چې لاسونه یې سره ورکړي وي

وزرې پورته غورځوي او څنې هم په خاص انداز اچوي، يو نيم ځوان پورته ټوپونه اچوي او خاص احساسات ښکاره کوي او په دغه حالت کې غورځي او بربړي کوي، دميدان په منځ کې دکدمو داخستو سره ديو کتار مشر يوه " ناره او پام" په لوړ زړه وړونکي غږ سره اخلي او دخپل کتار ملګري يې پسې نيسي، کله چې ددوهم کتار وار شي، دهغه کتار مشر هم خپله " ناره او پام " دمقابل کتار د سيالۍ او مخۍ دورګرزولو دپاره وايي او خپل ملګري يې پسې نيسي، دلته دا دوه کتاره دوه ډوله نارې دواده داتڼ په وخت کې دميدان په منځ کې سره په لوړو آوازونو بولي، يو ډول يې " آزادې نارې او پامونه " دي او بل ډول يې د " سيالۍ او مخۍ دنارو او پامونو " په ډول داتڼچيانو تر منځ په خوشالۍ او خوښۍ سره اجرا کېږي چې لاندې به دهرې نوعې او ډول څو څو مثاله دنمونې په ډول وړاندې شي:

## ۱ - آزادې نارې او پامونه :

دالف کتار:

فقيره دعاوکه چې ړنګ شي داويلي قلمونه

---

دب کتار: دتوت په سر کې توت راوځنه ( راوځنډه )

دا کوزې ځانګې يې ليلى خوړلې دينه

---

الف: لنډي لنډي ختونه

دا سپينې خولې يې ژنيو سره جوړېږي

---

ناري مې ډېرې د ښتو وکړې

د ځاورو زور شو عزت دې نه وکړ مينه

ب: دښکیه په څنګ راغلې
دښکیه په څنګ راغلې څنیا وړې
جګه شه خوله راکه

---

الف: لاړه لیلی لاړه
دجګو غرو کجیر زیږی یې غاړه [1]

ب: اتڼ کې جلکۍ ډېرې
یما (زما) نظیر په تادی تکی تورې

---

الف: داووړکی دکومې جلکۍ یوردی
دهغې جلکۍ یاردی پلکی یې اړولی لور په لور دی

---

ب: ټیك دې په جبین دی
دادوې دسرکۍ شنډې (شونډې) مخ دې سپین دی

---

الف: په یور (یار) مې سلام وایه
تورو بچکو مې نیولي دي ګړدونه

---

ب: لښته یم غوړېږم
دریګو څلی نه یم چې ړنګېږم

---

لیلو و لیلو
چیرې ځې یارون (یاران) دی

---

[1] ــ په دې برخه کی دزیاتو معلوماتو له پاره وګورئ اولسي ادب. علی محمد منګل. دقومونو او قبایلو وزارت. ګستتنر چاپ. کال ۱۳۶۴.

**الف :** په یور (یار) مې سلام وایه
غولیا نځې مې زړې شوې له څر ببنته

---

## ۲_ دسیالۍ او مخۍ نارې :

**الف :** اتڼ کولا نشم
پړتوړ ( پرتوګ ) مې د شړۍ دی وړای یې نشم

---

**ب :** اتڼ کولا نشم
یار مې ځنار ګي کلی ته تللی

---

**الف:** دښکیه یو سپین ګیرۍ( ږیرۍ) سړی راغی
سپین ږیری مې په سپینه ږیره ژاړي
چې لور مې ژړیو بوتله

---

**ب :** دښکیه سپین خوا یي شوه سبا کیږي
وای سبا یې مه کې
شرین لالی له ما بېلیږي[1]

---

الف : ښکلیه کندهاره
وای ښکلیه کندهاره

---

[1] په دې باره کې دزیاتو معلومانو له پاره وکورئ اولسي ادب. علی محمد منګل. ۱۳۶۴ کال. دقومونو او قبایلو چارو وزارت.

ځلور دي دروېزې ځلور بازاره

---

ب : ګل شي کندهاره
ځلور دې درویزې ځلور بازاره

---

الف : رنګ شوې کنډهاره
ځلور دې دروېزې ځلور دې ښاره

---

ب : کندهار شینکي باغونه
ځلور یې دروېزې ځلور کولپونه

---

الف: د سره سالو ورمنې
په تا پسې مې چورې کولمې پرې دي

---

ب : دسره سالو ورمنې
سالودې ورو ورو رپوه لیدی دې نشم

---

الف: څه خورې يوره ( ياره) څه خورې؟
که مې خوله خورې نن دې وار دی

---

ب : څه خورې یاره څه خورې
دتورپلکي نه لاندې سپینه خوله خورې

---

يار مې زېړې ګل دی
زه ګيړې ګه دګلو يمـه

الف : یارۍ کلی دې جوړ کی
وای پاس په لوړ نې

---

ب : دتانه خو دې ما وای کلی
وای کلی په لوړ دی

---

الف : سم ته شه راکوزه
دسم ژبی توتیان جونه بلبلي

---

ب : سم ته شه را ټوټه
دسم ژبی پازان جونه بلبلې

---

الف: پاس په بام ولاړې
روپی دې کتار کړې چېړې لاړې

---

ب : پاس په بام ولاړې
سورې درته کوم که خولګۍ راوړې

---

الف : سپین مخ دې خولې دی
دمینې خوب دې کړی دغرمې دی

---

ب : شین مخ دې خولې دی

سوړ ړي خوب دې کړي دغرمې دی [1]

دهلك له کورنه دجلکۍ کورته دورتلو په وخت کې نارې او بيتونه :

دهغې عنعنې له مخې چې دواده په وخت کې د کليواو باڼړو په اولس کې په تېره پکتيا والو کې وجود لري، کله چې ديو چا واده تيار شي او دهلك له کور څخه دجلکۍ دراوړلو دپاره ورا تياره شي، وروځې ځوانان دلا رې په اوږدو کې دهلك له کور څخه د جلکۍ تر کلي او کور پورې، ځانګړې نارې او بيتونه د ډول او شپيلۍ دوهلو په بدرګه په لوړ و غږو سره په خورا خوند او ځوږ سره وايي او په دې تو ګه دلا رې په اوږدو کې د خوشالۍ او خوښۍ ځانګړې څرګندونه او اظهار کوي، دا څو بيتونه دنمونې په ډول چې موږ د زياتې لټې وروسته له بېلو بېلو سيمو د ويوونکو څخه را پيدا کړي وګورئ:

ته شوې رانه پاتې زه پردي وطن ته لاړم
خپه يم ځکه ژاړم [2]

* * *

درست جاني لښکر دی سبا به غو جېره غوړې ته ځينه
ولې خو به ځينه ليلى په درمند ګل کرلي دينه

* * *

دا مسافره جلکۍ ځي په سره ډولۍ کې
وړه وړه سلګۍ کې

داسې هم ويل کېږي :

دا مسافر جلکۍ سره ډولۍ کې ورينه

---

١ _ دزياتو معلوماتو له پاره وګورئ، اولسي ادب . علي محمد منګل. ۱۳۶۴ کال، دقومونو او قبايلو چارو وزارت.

٢ _ علي محمد منګل. فولکلوري ګيډۍ. ۱۹۸ مخ. ۱۳۵۵ کال. پښتو ټولنه .

وړه وړه ژړا کوينه

دا ناري او بيتونه دسيمې په لحاظ څه تو پير سره لري، دا لاندې نمونې يې دمثال په توګه وګورئ چې د بېلا بېلو سيمو له امله يې تو پير او نږديوالى سره څرګنديږي:

**دمنګلو بيت :**

په زړو ګلو کې ښوربړه چې څربه شي
لندو نې واده مه شي

دډېرى مېلى ( ځاځي ميدان ) بيت :

په زړو ګلو کې ښوربړه ړنګه بنګه يې
توره غنم رنګه يې

**دمنګلو بيت :**

دا تورې څنې دې مټو په سرو زانګي
وى وى جلکى ناورانګې

**دځاځي ميدان ( دډېرى مېلې ) بيت :**

دا تورى څنې دې مټو په سرو تلې دي
سترګې دې کوترې دي

## دښځو داتڼ په وخت کې داتڼ نارې او بيتونه :

دمخه مو وويل چې پښتنو کې اتڼ هم نارينه اجراکوي او هم ښځې، دښځو او نارينه وو داتڼ ډولونه اوصورتونه او نارې بېلا بېلې دي، دا لاندې څو نارې يې وګورئ چې د پښتنو دبېلا بېلو سيمو څخه را ټولې شوې دي چې دښادى سندرې، بيتونه، پامونه او با بولا لى يې هم بولي، ما ته يې بيل بيل بيلتون ډېر مالوم نه شو او يا به يې زه په صنف بندى او بيلوالي نه پو هيږم خو په واده کې دهرې

سیمې دخلکو په نومونو کې توپیرسره کوي ....

دمنګلو دښځینه اتڼ ناره :

په غوړو شګې دي وړوک دې کدمونه
پلو درونسه روپۍ سترګې برېښوینه

" دخلکو سندرې " نومې اثر ناره :

په غولي شګې خورې!وروړ ده قدمونه
چې وادې نه وړې بخملي ګوتو سرونه

دمنګلو دښځینه اتڼ ناره :

یموړ دناوۍ شنډې ولې برړې برړې دي
ارموند مې دعید ګل دا ډېرې منډې دي

" دخلکو سندرې " نومې اثر ناره :

زموړ دناوې شنډې غونډې منډې
ارمان مې د" پلا نکی" هاسوې منډې

همدا ناره په منګلو کې په دغه ترتیب هم ویل کیږي:

یموړ دناوۍ بر ړې برړې شنډې دي
ارموند مې دا دخسر داډیرې منډې دي

دمنګلو دښځینه اتڼ ناره :

په سرنې دې لاچي ورېښمنو پخه دو
وه خورې خونو نو ته دې مخه دو

---

په سرنې دې شاتي ورېښمنو پخه دو
وه خورې زیپ خوروته دې مخه دو

د" خلکو سندرې" نومې اثر ناره :

په سر دې دخاصه وریښمنو پخه ده

ناويې شاهزادګانو ته دې مخه ده

(*) دمنګلو دښځينه اتڼ ناره :

سرې دانې په کېږدوی چې ځليږي
ګاروق ورته رو بولوی چې خوشوليږي

د" خلکو سندرې" نو مي اثر ناره :

رنګ رنګ دنې پرې کيږدئ چې ځلېږي
( پلا نکی ) ورته ولاړ دی هو سېږي

دمنګلو پام او ناره:

زر زر يې جوړه وئ ببو لند و نه دو
که نه يې جوړه وئ پرموږ نې ګرونه دو

د" خلکو سندرې" نومي اثر ناره :

ژ ر ژ ر يې جو ړو يه ګرمي کېږي
( پلانکی) ترګل نازك دی خولې کيږي

دمنګلو پام او ناره :

سر يې لنډی دی نه کوځې کېږي
خپله مور ورته روبولوی پردۍ کله په پوېږي

يا داسې:

سر يې لنډی دی نه کوڅې کېږي
چې خپله مور يې نه وي په پردۍ کله کوڅې کيږي

د" خلکو سندرې" نومي اثر ناره:

سر ګونډی دی نه او بدی کېږي

---

(*) دا نارې، بابو لالې، پامونه دواده په شپه دناوې په کور کې دولا ړې . ناستې اتڼ، سرجوړولو ، پوښ او کردار ليدلو ، دناوې روانو لو . کالي او جامو دا غږ ستلو وخت کې ورته په زړه وړونکي غږ ويل کيږي.

چې خپله مور يې نه وي
په پرديونه اوړد کېږي

دمنګلو پام او ناره :

ميړ (موړ) داړې زوم درکړی لکه د سرو زروغمی
توسې داړې نويې (ناوې) روکړې لکه بيرې غوا ډډی

د "خلکو سندرې" نوّمې اثر ناره :

موړ داسې زوم درکړی لکه مزی دګريوان
تاسې داسې ناوې راکړه لکه خوټه دې شيطان .

دمنګلو پام او ناره :

ميړ داړې زوم درکړی لکه شين زرغوّن وتې
توسې داړې نويې روکړه لکه دبوزو (بوسو) خوسکی

د "خلکو سندرې" نومي اثر ناره :

موړ داسې ناويې درکړه که دښې ګوتيې غمی
تاسې داسې زوم راکړی، که دبورې غوا ډډی

دمنګلو ناره :

وربل دې په چامبو چامبو واودلی دی
وه خورکی نورحسن دې مين کړی دی

(*) داسې هم وېل کيږي:

وربل دې په چامبو چامبو واودلی دی
وه خورې نورحسن دې په زړګي نې ويشتلی دی

د "خلکو سندرې" نومي اثر ناره :

---

(*) دا پام په منګلو کې په دغه بڼه هم دسوال او ځواب په صورت کې ويل کېږي
وربل دې په چمبر چمبو (چامبو) واودلی دی
خورې رنګ دې ولې تښتېدلی دی

وربل دې په چمو چمو او بدلی دی
خیالیـ ( پلانکی) جان تادرمین کړی دی

دمنګلو پام او ناره :

ناوی ستوری دې ببر دی
ځواني دې ښه ځواني دو
ترعمل دې خدای خبردی

د" خلکو سندرې" نومي اثر ناره:

ناوې سیوری دې ببر دی
په رنګک خوښایسته یې
په حکمت دې خدای خبردی

دمنګلو پام :

ناوی ښی ولی دې تخت دی
که غوتی ته خدای زی ورکی
دا خو د تا دټنډې بخت دی

د" خلکو سندري" نومي اثر ناره :

ناوې ښی ولی دې تخت دی
که مې جان ته خدای زوی وزکړ
ناوې ستا تندی د بخت د ی

دمنګلو پام :

تر مخ دې سلو يي په ړنده مه شې
تر څټ دې لېو ره په وینو سره شې

یا داچې :

تر مخ دې سلو يي ( سلايي) په ړنده مه شې

ترڅڼ دې وروړك په وينو سره شي (*)

د " خلکو سندرې" نومي اتڼ ناره:

په مخ کی بند کی پرې بنده مه شې!

تر مخ دې ( پلا نکی جان ) بې قدره مه شې

دوروسته د ( پلانکی ) په وينو سره شې

دمنګلو ناره :

پورې غردی داړې واړې

مورږ ته خپله ناوې راکی

تاسې پنډشئ لکه ګيداړې

د " خلکو ستدرې" نومي اتڼ ناره:

دچا خونه ددړو (د پلا نکی) خونه ددړو

مورږه خپلّه ناوې يو وړه

تاسې و انګولئ ګېدړو

دمنګلو ناره :

ښه يې خورې تر شنو ونو مې روتېږه کړې

پلوردې په لوټو ( پيسو) شی ته يې هېره کړې

د " خلکو سندرې" نومي اتڼ ناره يا بابولا له :

ښه چې تر دې شنو ونو مې را تېره کړې

ابه دې په خو شتو شوته يې هېره کړې

دمنګلو پام يا ناره:

ناوې ښنه وهه سور پږه

---

(*) دا ډول بابو لا لې. پامونه ، نارې او سندرې دهلك دلورې راغلې خپښې او دجلکۍ خپلوانې د زور د ښودلو ، غندنې ، زېږلو او يو بل دسپکه ولو په وخت کې سره کوي. دا ډول پامونه کله رندانه ښه پيدا کوي او خبره خپګان ته رسيږي....

که دوورورستر ګوته کسې
ناوې ټينګه ودرېږه

د "خلکو سندرې" نومې اثر ناره :

ناوې! پښه اخله سپرېږه
زما جان درته دلاړدی
په ځوانۍ يې هوسېږه

دمنګلو پام :

سر ې اوسپې ولاړې ګردنۍ غواړي
دحکيم ښېښې ولاړې سرې جاولۍ غواړي

د "خلکو سندرې" نومې اثر ناره:

اسپې ولاړې ګردنۍ غواړي
ښېښې ولاړې ټکيالۍ غواړي

دمنګلو پام :

لوړې بلخانې لوړيې برځونه دي
وشموره بټوې[*] ډېردې لېورونه دي

يا:

لوړې بلخانې لوړيې برځونه دي
وشموره خولې ډېرې دې يونه دي

د "خلکو سندرې" نومې اثر ناره :

---

[*] بټوې: جلۍ دنامزدۍ په وخت کي دخسر ګنۍ دپاره په خپل لاس ډول ډول شيان په ستن سره سکوی او جوړه وي، بټوې له رخت،کپړې او ټوټې څخه په وربښمو (رېښمنو) او زر تارو ښايسته په سپرغو او ګلانو جوړېږی دا جيبی بکسونه دځرمنې دبټوی په شان دی چې دخسر ګنۍ په نرينه وو باندې دبرخې په ډول دخواښې په لاس ويشل کېږي.

د لوړو بلخانو سکښتي تاکونه دي
راواچوئ لونګۍ دېردې لېورونه دي

دمنګلو پام :

یمور ناوی ورځه په مخ روی دوره شې
لېور (ستا) چلمچي ته یې سر دوره شي
(پلانکی) د تاپاشوی ته یې سردوره شې

د "خلکو سندرې" نومي اثر ناره او بابو لاله :

مور ناو یې چې ځې هلته سرداره شې
(پلانکی) دتا مزدور ته یې باداره شې

دمنګلو پام او ناره :

د تندې تجلې شوې څوك اوبه نه روكوي[*]
(پلانکي) ته ناوې ورکئ اوس به سین رووتړي

یا :

دتندې تجلې شوې څوك اوبه نه روكوي
نورمحمد مې پوړته تللی اوس به سین رووړوي

د "خلکو سندرې" نومي اثر ناره :

د تندې مې شولې شوې څوك اوبه نه راكوي
(پلانکي) ته ناوې ورکړئ اوس به سیند راواړوي

دمنګلو پام :

وه تر پېښو دې مرغلرې
مور ته خپله ناوې راكئ
یمور وطن دی لرې لرې

د "خلکو سندرې" نومې اثر ناره:

---

(*) روكوي: راكوي.

خور! سهار دی زموږ تلواردی
ناوکۍ مو په لاس راکړئ
زموږ کور په کندهار دی

دمنګلو پام:

دچا شمله ببر د عبدالرحیم شمله ببره
اسماعیل یې خواکې ناستی لکه مینځه مروره

د" خلکو سندرې" نومي اثر ناره :

دچا ستنیې ببره د (پلا نکی) ستنیې ببره
(پلانکی) ترې لاندې ناست دی لکه وینځه مروره

دمنګلو پام :

اوس به دکوبل(کابل) نه اریزه (عریضه) روشي
اوس به دناوۍ ناوی موټر بسته روشي

د" خلکو سندرې" نومې اثر ناره :

اوس به تور لونګ جوړه جوړه راشي
اوس به د (پلانکی) ټولی بسته راشي

دا وې څو سندرې چې ښځې یې دواده په وخت او دهغه دبېلا بېلو مراسمو او دودونودخوشالۍ په وخت کې دمنګلوښځې او پېغلې داتڼ په وخت کې په زړه وړونکي غږو وایي چې پورته یې د " خلکو سندرې" نومي اثر سره دورته والي او مشابهت په صورت کې په مقایسوي ډول وړباندې رڼا واچول شوه ، له دې دا مالومیږي چې د پښتنو داتڼ نارې په اول کې سره شریکې او یو شان وې او بیا د پښتنو دجلا کیدو او کوچیدو په وخت کې به دواتڼ دلرې والي له امله څه تغیر او کم غوندې بدلون پکی راغلی وي....

نوی واده د زړګي سر دی
په کټه د رخیجي توری سترګې سره لاسونه

# په غزني کې دښځو داتڼ نارې:

ددغې سيمې پښتنې ښځې دواده ، کوزدې ، ماشوم دزېږېدو ، اخترونو او نورو خوشاليو کې دولاړې او ناستې اتڼ کوي، داتڼ په وخت کې خاصې نارې چې دوى لارې او غږونه او کسر هم ورته وايي په ځانګړيو وزمو او ښکليو غاړو سره وايي، څو نمونې يې دلې موږ چې ديوه اندړ له خولې را ټولې کړې وړاندې کوو:

١_ په لمن پروت يې لونګينه
جوړ کړى ما يې بوى دې نورو ته ورځينه

* * *

سور ګل مې په اوږو دى
داني داني
له ما سره بدرو ده بدرو ده
سور ګل مې په اوږو د ى
داني داني
له ماسره ليلى ده ليلى ده
سور ګل مې په اوږو دى
داني داني
له ماسره درخو ده درخو ده
په لمن پروت يې لونګينه
جوړ کړى ما يې بوى دې نوروته ورځينه
داني داني

٢_ که تو ديږې دغرمې ترون تو ديږي
شاه مسته ورته ناسته
تر مخ يې رنګا رنګ خولې توئيږي

۳_ که تور دیو دمستانې او که ، تور دی د مستانی او پېکې تور دی
اور بل يې اړولی، اوربل يې اړولی او لور په لور دی

* * *

۴_ اوښ ولاړ ځنګون تړلی بابو لالې، لالې
تر هغو به يې خلاص نه کړو ځو زما جانان نه دی راغلی
بابو لالې و لالې

* * *

۵_ ميرزا يي کدم را واخله نری لار جوړه ده
دپلا نکی لا يکه نه وي حکم خدای کړی ده

* * *

۶_ په نريو سرو اور دی لګېدلی
دپلا نکي تر لنګی نوی نوی ګل ختلی

په دې ډول به نور کسرونه هم موجود وي ، خو ما ته يې نور ونه ويل، د همدغې لړۍ دولسي ادب په مينه مې له محمود(*) زرمتي څخه دواده په وخت کې د ښځو داتڼ دنارو ، غږو او سندرو پوښتنه ورڅخه وکړه ، هغه دا لاندې مواد چې زما دپاره ډېر په زړه پورې دي په مينه راته وويل دادي ويې ګورئ رښتيا هم خواږه دي:

## په زرمت کې داتڼ نارې:

زرمتي وايي چې بدلې د پښتو دملي سندرو په لړ کې ځانته ځانګړې ځانګه جوړ وي چې په بېل وزم ( وزن ) او خاصو غاړو سره

---

(*) دزرملې دسيمې داتڼ دا نارې چې دوی يې بدلې بولې د ( محمود ) نومي زرمتي څخه می راټولې کړې دي، محمود زرمتی د پوهنتون په دوره د ادبياتو دپوهنځی د پښتو په څانګه کی زما سره د ټولګی اويوې دورې محصل و ، وروسته په ملالی ليسه کی د پښتو ښوونکی شو له (۲۴) کالو را هيسي مې بيا نه دی ليدلی الله (ج) دو کړی چې ژوندی وي.

ویل کېږي ، خو ویونکی یې معلوم نه دی او د ټولې سیمې خلکو څه چې دټولو پښتنو ګډه ادبي پانګه شمېرل کېږي، دغه بدلې طالبان په خپلو اتڼو او ښځې یې هم دواده ، هلك دپیدا کیدو ، کوزدې ، اختر او نورو خوشالیو کې داتڼ په وخت کې هم په خوشالی او خوښۍ سره وايي او بولي، د طالبانو او ښځو بدلې توپیر سره لري، دطالبانو په بدلو کې چې یو کسر یا بیت وي نو بیا لنډۍ ورسره وايي او ددغې سیمې د کلتور او فرهنګ په سا تنه او غنا کې غوره رول لري هغه بدلې چې ښځې یې دواده په وخت کې چې وراتګ او یون کوي او دجلکۍ د کلي په لور رواني وي په ځانګړیو غړانګو وايي چې څو نمونې یې لا ندې وړاندې کیږي خو دا ټکی هم دیادونې وړ دی چې محمود زرمتی وویل: دوی له بدلې سره لنډۍ تکراروي یعنې اول بدله وویل شي او بیا لنډۍ یا ټکۍ پکې په خاص طرز سره اچوي، لکه :

۱ـ راواړوه لونګ – یاره ورو بوی دې ځینه – راواړوه لونګ

له دې بدلې سره دوی لنډۍ په دې ډول وايي:

هلك چې تور شي غنم رنګ شي- راواړوه لونګ – یاره ورو بوی دې ځینه – تر غاړه دلونګ جلکۍ چې توره شي بنګړي به خرڅوینه- راواړوه لونګ –یاره ورو بوی دې ځینه –تر غاړه دلونګ.

۲ـ

تور چکن ما ته جولۍ راوړه- تورچکن. که چکن
نه وي ما ته توره ململۍ راوړه – تورچکن
ماته جولۍ راوړه ، تورچکن
ټیکۍ او سندره داسې ورسره غبرګه وي
چې کله ځې کله دریږې- تور چکن ، ماته جولۍ راوړه، تورچکن

په زړه دې څه دي راته ووايه مينه –تورچکن. ماته جولۍ راوړه، تورچکن
که چکن نه وي ما ته توره ململۍ راوړه- تور چکن
ما ته جولۍ راوړه ، تورچکن ، که چکن نه وي
ما ته توره ململۍ راوړه- تور چکن

دغه او دغه شان نورې بدلې ښځې په ولاړې دکورس په ډول يې ټولې په ولاړې سره وايي، دزرملې په سيمه کې په عمومي ډول سره پوښ له چکن او جولۍ څخه عبارت دې او له دې جامې سره يې زياته مينه درلودله ، نو ځکه ددوی په واده او دنورو خوشاليو په سندرو کې په مينه يادېدل دا هم بله نمونه :

۳_

شال راواخله جارو کړی مې دالان دی - وورې وورې باران دی
(*) خوله دې اصيله تو پانچه ده - وورې وورې باران دی
داسپين غاښونه دې کرتوس ټومبلې دينه - وورې وورې باران دی
شال راواخله جاروکړی مې دالان دی- وورې وورې باران دی

دزرملې دسيمې دښځو ډيره په زړه پورې قيمتي پسول، زېوراو ګڼه امېل دی چې له سرو او سپينو څخه جوړ شوی وي ، نو دغه اصيله پښتنه ګڼه چې پيغلې يې په غاړه کوي داسې ستايي:

۴_

دروند دی امېل- په غاړه يې ورمه – ياره دروند دی امېل
خدای دې زما کړه غونډې منډې

(*) محمود زرمتي راته ووېل دا لنډۍ به زما کاکا (اکا) هر وخت له خان سره دنګو له زه هلك وم ما به ورته وې چي اکا خوند ورغږو باسی ده به سرو ښو راوه . ويل به يې زويه! بيا به تا ته هم درمالومه شي. که لږ غونډې خوان شې....

دروند دی امېل- په غاړه يې وړمه -ياره دروند دی امېل
لنډی کچر به چلوم تا به ساتمه-
دروند دی امېل - په غاړه يې وړمه - ياره دروند دی امېل
په زرملې کې ښځې چې دهلك له کور ځخه دجلکۍ کورته ورځي دلارې په اوږدو کې ځانګړې نارې غاړې او سندرې لکه چې دمخه وويل شول دناوې دراوړلو له پاره دورا په وخت کې دتګ په حال کې په مجموعي ډول وايي او په ډېر جوش او خروش ورسره درياب ( چمبه ، دريا) وهي، يوه ياڅو پېغلې چې دښځو په مخ کې رواني وي دخپلو پوړنيو او ټيکر يو پيڅې يوې او بلې خواته په خاص ډول اچوي او داسې نارې په ښکليو غړانګو سره وايي:
۵_
محبو با لونګين _ په لونګين به دې وهم خال مې ضامن دی
محبوبا لونګين
په زړه مې ته وې خدای رانه کړي _
محبو با لونګين _ په لونګېن به دې وهم خال مې ضامن دی-
محبوبا لونګين
نوره تو به مې با با دم له نسله ده نه
محبوبا لونګين . په لونګين به دې وهم خال مې ضامن دی -
محبوبا لونګين
۶_
شين بادرنګ مې اوبو دروور - شين بادرنګ - شين بادرنګ
که خدای مې ښه ساتي که بده - شين بادرنګ - شين بادرنګ
دا مې دستور دی نری ستر ګې تورومه - شين بادرنګ - شين بادرنګ
شين بادرنګ مې او بو دروور - شين بادرنګ - شين بادرنګ

په دې ډول دزرملې په سیمه کې ښځې ډېرې خوندورې سندرې دواده په وخت کې وایي چې څو نمونې به یې نورې هم دموضوع د بشپړ تابه دپاره دروړاندې شي، لکه:

۷_

ماته ډډه وورۍ جوړه کړه – شین غمی په کېږده مرغلرې
تر چا پېره کړه لاس راکه درځمه
دکا پر ګل په شان کړه شوې-
ماته ډډه وورۍ جوړه کړه – شین غمی په کېږده مرغلرې
تر چاپېره کړه لاس راکه درځمه
چې راسمېږې ورځ به نیمه تېره وینه
ماته ډډه وورۍ جوړه کړه – شین غمی په کېږده مرغلرې
تر چا پېره کړه لاس راکه درځمه

په زرملې کې دواده په وخت کې دهلك دلوري ښځې یعنې خېښې اودجلکۍ خپلوانی دسیالی په نوم هم ځانګړې سندرې او بدلې سره وایي چې ښه یې دغندنو او زېړلو ، صفت کولو، کردار یادولو او زوم یا دولو پورې خاصه اوځانګړې ده ، ددې له پاره دا څو نمونې وګورئ چې خورا په زړه پورې دي او محمود زرمتي په ډېره مینه په خپل قلم اوښکلی لیك او خط راته کښلې وې:

ملو کې یوه توره یو خنجر ګوره
ملوکې دفلا نکي دسپرو سر ګوره

*　　*　　*

د زرملې په ولیانو ، دغزني په بزرګانو
که زموږ په دوا کېږي خورې سرشې دسیالانو

*　　*　　*

لوړې خورې لوړې چې او به وړې له ژورې
فلانی د تا لېور دی ته یې وخورې څنې ورې

*　　*　　*

باران اورېږي څمکه خټه
پلانکي ته داسې وايه چې مور نه کېنو یې کټه

*　　*　　*

ناويه ورا دې راغله ټك دې نشته
رښتو نی سړی راغی چې پلانکی لېور دې مړشه

*　　*　　*

ناويه ورا دې راغله بوړې بوړې
هغه دې نيم چنګښې نيم کړ بوړې

*　　*　　*

ناويه په پلو دې ژېړه پخه ده
ناويه ورا دې ټوله دمچخو ده

*　　*　　*

پلانکي ته تاسې ګورئ چې څرنګه راغلی دی
توره يې تر ملا ده چې اورتې ژړولی دی

*　　*　　*

ناويه ورا د ې رانه غله ما ښام شو
ناوې دپلانکی شپه په ګورستان شوه

*　　*　　*

دسپينو وريخو(*) څه شور ما شور دی
زوم دې وخورې چې ټر يې لوی دی

---

(*) وریخو . وریجو . وریژو .

* * *

يوه دې سپر لکۍ ځلور دې پانستې
پلا نکۍ بې حيا ته ولې راڅغاستې

* * *

موږ خو مړی نه خورو مړۍ سي لړي
پلا نکي بې حيا ته يې ورکړئ نسککی لړي

ښځې دناوې د جامو دبدلولو په برخه کې چې له ځان څخه دجلکيتوب کالي وباسې داسې بدلې او غړانګې وايي:

سپينې پايڅې کاږه خورې !دسرو دې واردی
په نورو کراري ده خورې په تا تلو ار دی

* * *

سپينې پايڅې کاږه خورې! دسرو دې واردی
که ځان په چړومړ کې خورې داوس دې يار دی

* * *

په ډك مجلس کې خورې!چلم په واردی
ارت کميس کاږه خورې دتنګ دې واردی

* * *

درغی سپيرخی خورې ټينګ نيسه تندی
که يو وار ې درخلاص شو بيا به يې نه کړې تورپېکی

* * *

تور پېکی دې په تندې شو دړې وړې
ته کم عقلې اوس مه کړه ګړې بړې

* * *

ميرزا يې کدم راواخله نرۍ لار جوړه ده

دچچګر لا يقه نه يې حکم خداى کړی دی

*　　*　　*

زموږ ناوې چنار ودرويه
پلا نکی لکه تور سپی تر جارويه

*　　*　　*

ناويه! په پلو پورې دې بوټی
پلا نکی ورته ولاړ دی لکه کوټی

*　　*　　*

ناوې په کجاوه دې زنې کوړه کوړه کېږي
ورور مړی ورور دې نه کې معلومېږي

*　　*　　*

پلا نيه په جيب کې دې دسمال دی
زموږ دخورې لاس دتا ګريوان دی

*　　*　　*

پلانکيه تر خنګ دې سپين قرآن دی
زموږ دناوې لاس د تا ګريوان دی

*　　*　　*

زموږ ناوې ورځه په رب رويداره شې
پلانکی دتا غږم ته يې با داره شې

*　　*　　*

پلا نکيه وروه!غوږ نيسه ځواب دی
زموږ دخورې لاس دتاګرېوان دی

*　　*　　*

مه ژاړه ناوې ژړا دې ګرانه ده

تر ژړا دی دپلا نکی مرګی اسانه ده

*　　*　　*

زموږ دناوې سپینې ګل مېخې
دپلا نکي تر سینې وباسې ګولې

*　　*　　*

اوس به کجاوې سره جوړېږي
اوس به دپلا نکي ورېندار سپرېږي

*　　*　　*

اوس به کجاوې سره روغېږي
اوس به دپلا نکي ناوې سپرېږي

*　　*　　*

اوس به کجاوې سره جوړیږي
اوس به دمورکۍ زړګی سولېږي

*　　*　　*

مېرې پنډې وري رېبږي
ناوې اولورله موره جلا کېږي

*　　*　　*

تاسې سر وهئ له کټارو سره
موږ به ناوې یو سو د سورنو سره

*　　*　　*

تاسې خاورې باد کړئ له اېرو.سره
موږ به ناوې یو سو له ډولو سره

*　　*　　*

تاسې خاورې باد کړئ له ایرو سره

موږ به ناوې يو سو له ګو نګړو سره

*          *          *

ناويه ګل کېږده په تندي باندې
پلا نې پسې سپرېږه دهمځولو ټولی پرېږده

*          *          *

دکور سر ګوره نرېږي
موږ به ناوې څنې يو سو بيا به څوك ورو لاړېږي

*          *          *

دسهار سور ساندې باد دې رپوينه
په پلا نکي ګرانې مورې خوب دې زنګويته

*          *          *

دسهار مښکونې باد دې رپوينه
دپلا نکي ګرانې خورې خوب دې زنګوينه

*          *          *

اوس به دتو، تو پکو تور دو دونه شي
اوس به يې دمور په زړه داغونه شي

*          *          *

پلا نی په ځای کې لاس وهي چې خور مې ورکه ده
ورکه نه ده دپلا نکی له څنګه پټه ده

*          *          *

اې خدايه مور يې وزي ننوزي
دا ګرانه لور يې اوس له کوره وزي

*          *          *

ښه څم په تا کي کې خمه روزه کړې

ښه ځم دپلا نکی دکور مزدوره کړي

* * *

ښه ځم له دېرې او ښان راوختل
ښه ځم له چونګړ یانو لاس راوختل

* * *

ښه ځم له دا شنو ونو را تیره کړي
پلار دې په شنو روپو شو ته یې هېره کړې

* * *

ناوې مو، تر دا شنو ونو را تیره کړه
ورور یې په خوشتو شو دا یې هېره کړه

* * *

ښه ځم تر دا لوی پتې را تېره کړې
پلار دې په ولور شو ته یې هېره کړې

* * *

سکا نه چې خوله تیته کړي لونګ اخلي
مور داسې ناوې راوړه دزړه زنګ اخلي

* * *

باران اوري ترخې څاڅي
مور داسې ناوې راوړه تر نو کانو یې زر څاڅکي

* * *

مور ناوې راوړه څرې پرې پورې
راوزئ خلکو که یې اوس ګورئ

* * *

په وره کې دانګور ونه ولاړه ده

په وره کې دپلاني ناوې ولاړه ده

* * *

په وره کې دانګور ونه ولاړه ده
په غولي دپلا نکي ورېندار ولاړه ده

* * *

دسروز رو چيلم نرۍ يې غاړه ده
په وره کې دپلا نکي نګور ولاړه ده

په دې ډول سره په زر ملې کې دواده په وخت کې دخېښنو او جلکۍ دخپلوانو تر منځ دناوې دصفت او دهغې دخپلوانو صفت يا غندنه يو له بل سره په زړه وړونکو غږ و تر سره کېږي. په دغه برخه کې به نورې بدلې او غاړې او نارې هم وي خو موږ ته همدغه پورته په لاس راغلي دي، دزيّاتو موادو هيله په دغه برخه کې دزرملې دسيمې له ځوانانو او دولس دنورو خلکو څخه په مينه سره کوو.

دمخه مو وويل چې په زرملې کې طالبان هم اتڼونه کوي او ددغه اتڼ دکولو په وخت کې ځانګړې نارې چې په دغه سيمه کې يې بدلې بولي په خاص جوړښت ، وزم ( وزن) او خرښم او جوش سره وايي، دطالبانو ملی اتڼ دخلکو او اولس دملی اتڼ سره تو پير لري، طالبان په خپله مېله کې د ټيم دوهلو په واسطه چې ګو تما غو ګان ( کو تمو ګان ) يې په ګو تو وي او په ډېر جوش او خروش سره دا ټيم وهي، نو دغه وخت کې د ( محمود ) په حواله وايو چې ويل يې : څه وخت چې ټيم وهل کېږي ډېر و طالبانو ګرده حلقه جوړه کړې وي او يو طالب يې له منځه پورته کېږ ي او په ډيره مستۍ سره ګډېږي، ددغې مستۍ ګډاپه وخت کې بدلې وايي او سوې سوې لنډۍ ورسره غبرګوي، يو څو نمونې يې دادي:

۱_ هلك نرۍ چنار دی – جلکۍ دګلو ونه ده
ستا به دګلو دوران تېر شي
هلك نرۍ چنار دی- جلکۍ دګلو ونه ده
هلك نرۍ چنار دی- جلکۍ دګلو ونه ده
تل خوبه نه وي ستاخولګۍاوزماسوالونه
هلك نرۍ چنار دی- جلکۍ دګلو ونه ده

*   *   *

۲_ نن ړنګه بنګه –له خو به يمه ديار له ځنګه
په ګل ګلاب دې وويشتمه
نن ړنګه بنګه – له خو به يمه ديار له ځنګه
تر لاس دې جارشم طالبانو وليدمه
نن ړنګه بنګه – له خوبه يم ديار له ځنګه
پاس په بنګله کې زګروی خېژي
نن ړنګه بنګه – له خو به يمه ديار له ځنګه
يا رنځوران دي يا مين له ملکه ځينه
نن ړنګه بنګه – له خو به يمه ديار له ځنګه

*   *   *

۳_ زانې – زانې له او بو راغلې- زانې
خو له مې دښتې له لورې واخله
زانې- زانې له او بو راغلې – زانې
پېکی مې غوړ دی چې اغېږ نشي مينه
زانې – زانې له او بو راغلې- زانې
ته به دکوم وطن ډېوه وي
زانې – زانې له او بو راغلې – زانې

زه دهجران په تروږمۍ کې ناسته یمه
زانې- زاڼې له او بو راغلې - زانې
۴_ شامستې - مستې قلندرې لالی را بوله
چې یې وکړم دیدنونه شامستې
یار مې هندو زه مسلمان یم
شا مستې قلندرې لالی را بوله
چې یې وکړم دیدنونه شامستی
دیار له پاره درمسال جارو کومه
شا مستې - مستې قلندرې لالی را بوله
چې یې وکړم دیدنونه
یا: ګل مې په لاس کې شیته کېږي
شا مستی - مستې قلندرې لالی را بوله
چې یې وکړم دیدنونه - شامستې
پردی وطن دی زه یې چا ته ونیسمه
شا مستې - مستې قلندرې لالی را بوله
چې یې وکړم دیدنونه -شامستې
۵_دغه بدله او ناره طالبان دکورس په ډول په ګډه سره وایي:
زیارت ته ځمه - وی، له موره پتهه زیارت ته ځمه
کور یې رنګ کې را نجه چاورکړې دینه
زیارت ته ځمه - وی، له موره پتهه زیارت ته ځمه
هلکه خدای که به ملا شې
زیارت ته ځمه - وی له موره پتهه زیارت ته ځمه
په کتاب پروت یې یادوې شنکي خالونه
زیارت ته ځمه- وی، له موره پتهه زیارت ته ځمه

طالبه ړوند شي را ته ګوره
زيارت ته ځمه – وی، له موره پته زيارت ته ځمه
ستا دکتاب له تکيو ډير دي زما خالونه
زيارت ته ځمه – وی، له موره پته زيارت ته ځمه .

* * *

۶ـ ارمان ارمان چې په دنيا ته نه وای بېلتونه
طالبه ورانه دې شي ستا لېونی مينه

له دې نارې او غاړې سره چې دوی بدلې ورته وايي لنډۍ ملګرې کوي او دهغو په بدرګه يې په ډېر جوش سره وايي، لکه :

په لوړه وخېژه څاو وکړه
طالبه ورانه دې شي ستا لېونی مينه
چې دجانان نيلی په څه نخرو راځينه
طالبه ورانه دې شي ستا لېونی مينه
ارمان ارمان چې په دنيا ته نه وای بېلتونه
طالبه ورانه دې شي ستا لېونی مينه

## په مقر کې داتڼ نارې:

دا تڼ دنارو د ټولو لو په فکر کې وم څو ورځې دمخه د ډاکتر عبدالفتاح نجم(*) دکور مخ ته يو سپين ږيری سړی ناست و دمازديګر څلور نيمې بجې وې، لمر لويدلی و، ځکه چې دعقرب دمياشتې څلور ويشتم مازديګرو ، دمنې لنډې ورځې وي، داسپين ږيری ديخ نه تريده او لړ زانيولي و ، ناڅاپه مې ورته پام شو ، ورته ومې ويل کا کا ولې تر ږېږي؟ ده وويل: (( دغه ډانګتر اودل پتاح ته له

(*) د ۱۳۵۸ کال دعقرب په مياشت کې.

مقر نه رالم ، کاغذ يې راکه اوس نو بت ته ناست يم )) ما ورته وويل: (( ولې ترېږې؟ )) ده په ځواب کې وويل: (( برايي مې په دوکان کې سپه وه ، يخ وګلی ( وهلی) يم ځکه ترېږم )) ما بيا ورته وويل: (( څوك دلې نه لري))؟ ده وويل: (( خدای لرم اغه ډېر لوی دی ښه به سم )) زما ډير زړه پرې وسيو( وسولو ) نو مې ورته وويل: (( له ما سره شپه کوې ))؟ هغه وويل: (( تاسې بازاري خلك يئ شپه به رانه کړئ؟ ، ما بيا ورته ووې: (( زه تر هغو ولاړيم ، څو چې ته ډاکتر ته نه وې ورغلی)) ، ده بيا په موسکا وويل: (( څه څه ما ته مه درېږه زه به په يو سماوار کې سپه وکړم )). زما په ده باندې ډير زړه وسيو ، دده دې همت نور هم زما په زړه کې ځای پيدا کړ ، نو مې ورته وويل (( پلاره !که وچه وي او که لمده نن شپه به له ما سره يې او تر هغې نه ځم )). په دغه خبرو کې د ډاکتر صاحب نو کريوال چمن نامي د ډاکتر دکور دګراج په خوله کې چې دناروغانو دورتلو او انتظار کو ته ده په لوړ غږ وويل: (( خيالګل کيست ؟)) سپين ږيری چې له تبې څخه تريده او لړزې اخستي وه وويل هو ! خيالګل زه يم ، ورپورته شه او دګراج له لارې ډاکتر صاحب ته ورغی، د ډاکتر له معلينې وروسته چې دګراج له دروازې څخه د پليو لا رې ته راووت ما يې په وليو باندې لاس کېښود او ورته ومې ويل: کا کا: اوس راځه ، شپه به له ما سره وکړې، سماوار کې يخ دی نور به دې هم ژوبل کړي، ده قسم واخست چې نه ځم ، ته څوك يې او زه ستا څه يم ؟ او دا وخت کې زه له تا سره نه ځم، ما بيا ورته وويل: ته مريض يې زه ستا وراره يم ګوره ! نن به له ما سره شپه کوې، کوردلې نږدې دی زه دتا د پاره ولاړيم ، دی يو سرشو او زه بل سر شوم، لنډه دا چې سپين ږيری مې کورته دتلو دپاره راضي کړ، دکور په لوړ سره روان شوْ دفهيم نومي درملتون

څخه مې د دولوړان ، ډیپرون تابلیتونه هم واخستل ده خپله نسخه هم واخستله او کور ته سره ولاړو ، دماښام له ډوډۍ وروسته مې د چای د پیالې دشرولو سره دهغه ته د ډیپرون یو ټابلیت او د ډاکتر دوا ورکړه او څه درنګ وروسته یې تریدا او تبه څه نرم شول، دماخوستن له لمانځه وروسته مې ورته وویل: کاکا! دپو ښتنې عیب دې نه وي ژبه خو دې د کندهار او زابل د خلکو په شان ده ، دا ووایه چې دکوم ځای یې. هغه په خندا وویل: زه د مقر یم ، مقر دغزني او زابل تر منځ دی، له څه درنګ وروسته مې بیا ورته وویل: کا کا ! ماته به داتڼ او دهغه دنارو په باره کې څه ووایې. سپین ږیري اکا په اوّل کې ډېر په چروت کې ولوید ، ما بیا ورته وویل: کا کا! چې څه فکر دې په زړه کې ونه ګرزي ما خو وویل چې ز: ستا وراره یم ، نو دا کور ستا سو خپل دی او دا زما پلار ستا ورور دی... له څه درنګ وروسته یې وویل: اتڼ او داتڼ نارې څه کوې؟ په مقر کې خو نر او ښځې اتڼ کوي ، په اتڼ کې دوی بدلې په ځانګړیو غاړو وایي، اتڼ یې سوړ او تود اتڼ دی چې ښځې یې دواده په وخت کې کوي او ګوښې ګوښې بدلې ●ناوې په کور کې ښځمنې سره بولېدا څو نارې ما زده دي درته و بې یې وایم. ما ورته وویل: که درته زحمت کېږي نه ، ده وویل: یه یه زحمت خو مې تا ته درکړو چې میلمه دې یم ، ما ورته وویل: فکر به نه کې دا ستا خپل کور دی، نوره دا خبره پرېږده او داتڼ بدلې راته ووایه ده دا لاندې بدلې را ته په لوړ غږ وویلې چې رښتیا هم خوږې او په زړه پورې وې، هغه دا چې:

۱ـ اسپه یم بیانه

تاویزمې دسرو زرو دی په غاړه

په برخه دموزي یم

دموزي پراخور تل وچه ولاړه

*　　*　　*

۲_ داده سپوږمۍ داده پیروني ( بېرونی)
راختلې وار خطا ده
ما تر لالی جار کړې
په نیمو سپو یې څه واړه(وړه) خندا ده

*　　*　　*

۳_ غاړه دې له ماره برابره
که نه سوه برابره
بیا غاړه غزوه لکه کوتره

*　　*　　*

۴_ که زانې راغلې شنې کوترې
اې زاتې زانې له او بوراغلې زانې
ما په اوربل کې انار ګل وهلي دینه
اې زانې زانې له او بو راغلې زانې
نن مې خپه زړګی خوښي کړي
اې زانې زانې له او بو راغلې زانې
چې دهوکي اتڼ مې لرې کړل تول غمونه
اې زانې زانې له او بو راغلې زانی

*　　*　　*

۵_ دروند دی امېل
په غاړه یې نه وړم سنګین دی امېل
خدای دې وړو کې ورېندار راکي
دروند دی امېل

په غاړه يې نه وړم سنگين دی امېل
چې خوله يې سره وي سترگې مړې سرې اړوينه
دروند دی امېل
په غاړه يې نه وړم سنگين دی امېل

خيالگل کا کا په آخر کې وويل: نورې خو مې زړه ته نه راځي خو يو څو خورې بدلې به چې شو کيان( شوقيان ) يې وايي ، درته ووايم ، که دې خو ښه وي، ما ورته ووې کا کا! زما خو خوښه ځه چې دغه کار ته نيمن نيمن غوښه اخلم او دخوشالۍ نه ، نه ځايږم خو چې په دا کار کې تا ته تکليف نه وي، ده وويل : نو واوره دادي:

۱_ نجلۍ چې په پزه دې ده نته
که دې مور ولاړه نه وای
دغه نته به دې نه وړه سلامته

* * *

۲_ سترگې به کړم تورې
لالیه غونډ واري به کړم پورې
په نجنو کې به کښېنم
چې دخيال پلو مې هره پېغله گوري

* * *

۳_ پېزوانه خانده هوسېږه
وی زما پيزوانه
سبا اختر دی تا به بيا راځړومه
وی زما پيزوانه
دا مېله پربند راخېژه
وی زما پيزوانه

شپه پرېږزوان خرخ له سهرې واخله مینه
وی زما پېزوانه

دخیالګل کا کا چې تبه او ساړه ورك شوه او لږ څه آرام یې وکړ ، نو یې وویل: دښځو ورا په مقر کې چې واده کې جوړه سي، دهلك خپلوانې ښځې او دجلکۍ خپلوانې ښځې په خپل منځ کې یو دبله دپیغور او صفت کولو بدلې سره وایي ، نو که خوښه دې وي دهغو به هم څه ووایم . ما ورته ووې کا کا ! زه خو له خدایه همدا غواړم خو چې تا ته کوم زحمت نه وي، ده وویل : زه نن شپه ډېر خوشاله سوم نو واوره هغه بدلې چې دښځو په ورا کې وایه کېږي دا دي:

١ـ یو دې اوزګوړی څلور دې پا ستي
دزوم وروره ایسې ته ولې رازغاستې

---

٢ـ کمیس دې دوریښمینې اله چې دی
لستوڼی د ی د بل د درو بزې دی

---

٣ـ د نجونو سهرلی منډې راو هینه
دزوم پلار یې پرلکۍ غوټې وهینه

---

ناوې پر پلو دې پېلبو ده
ناوې ورادې ټوله دلېوروده

---

٥ـ ورادې راغله ټك یې نسته
موږ به دارو ورکړو دویستو سرې یې نسته

---

۶ـ ناوې دځو زولمبه وکړه سر سایه دې سه
زوړ خسر درته ولاړ دی سدکه دې سه

---

۷ـ زما جان مړ حلا لوي
ها بل هم ورته ناست دی دکولمو پګړۍ تړي

---

۸ـ نن مې دچا رګول غمی وتلی دی
دزوم پلارلکه جوال داسې ګنډلی دی

---

۹ـ زموږ ناوکۍ زېړه لکه لوخه ده
دا خپل ورور یې را کښلې له سندوخه ده

---

۱۰ـ موږ به ناوې یوسو له ګوتو له غمو سره
مو ږ به خېښی پرېږدوله یوری درکو سره

---

۱۱ـ اوس به دغرمې تنور تود ېږي
اوس به زما وجان ناوې سپرېږي

---

۱۲ـ سپینې روپۍ تا خوړې کلدارې
اوس موږ ته کالي واچوه ناسیالې

---

۱۳ـ شنه باغونه مو ګرو کړل له باغچو سره
شنې چاینکې راوړه له غابو سره

۱۴_ دولور پیسې دې هیڅ نه تمامېږي
او کور دې داسې سپك را معلومېږي

۱۵_ سره سوه سره غرمه سوه
ناوې زېړه زرغونه سوه
که نن مو دلته شپه سوه
نو دخېښن مېنه سپره ( سپېره ) سوه

۱۶_ ناوې ښه سې بده مه سې
زما دجان پرنوم زره سې
سر توره کونډه مه سې
وبل چا ته پا ته مه سې

۱۷_ ناوې ټینګک نسه تندی
چې پر درغی سپر خی
که دې له دې واره ټینګک نه کو
بیا یې نه کړې تورپېکی

۱۸_ سکاڼې پښې واخله ما ښام دی
دګل کور پرخورا سان(خراسان) دی
سګاڼې پښې واخله ما پښین دی
ګل په ما پسې غمجن دی

۱۹_ ما ويل اور دی اوردی
صايب جانه غازي جنګ پر لاهوردی

---

۲۰_ اې ړنګه بنګه
نن ښه نجلۍ ولاړه ديار له څنګه

---

۲۱_ ګو درته ولاړه سه خالدارې- وای
وای- لاس پرتورپيکي راوړه خالونه انګريزي راوړه

خيالګل کا کا ته چې خوب ورغی نو يې وويل: که خير و سهار به دچای دسورولو په وخت کې دنارينه وو دسوړ او تود اتڼ څو بدلې او سندرې درته وکړم ، ما ورته وويل: ښه ده نو ويده شه، سهار يې چې دې کارته سودا وه دچای دڅښلو په وخت کې وويل: قلم او کاغذ راواله ( راواخله ) دا دوې بدلې مې زړه ته رالې ( راغلې) نو يې وليکه، ما ورته ووې عمر دې ډېر ، وايه چې ويې ليکم:

ما ول مرنجان به جوړومه
لونګ به پرپاسمه
غو بل به دڅوانانو پرتړمه

*　　*　　*

دتوت په ونه توره کندهار
ودان سې کندهاره
څلور دې دروازې څلور بازاره

کا کا چې دادوې داتڼ نارې وويلې ، ما ورته ووې چې په منګلو کې وزته پامونه او د اتڼ بيتونه وايي، يو څو بيتونه مې چې دمنګلو.ورته ووې خوشاله شو او دا لاندې داتڼ بدلې يې بيا را ته په

لوړ غږ ووېلې او دخدای پامانۍ دپاره یې ځان جوړ کړ:

دا هلك دکومې پېغلې ورور دی
دهغې پېغلې ورور دی
اوربل یې اړول لور په لور دی

*　　*　　*

ژاړه نجلۍ ژاړه
نجلۍ یې له دا خپله بخته ژاړه
هلته دې خواري سوه چې خالونه دې وهل پرخپله غاړه

*　　*　　*

ګرد کمیس پرګړده نجلۍ جوړ دی
ټوله سپه یاري کړي
سهار لوړه کوي چې پرما ورور دی

*　　*　　*

که دوې دي په اتڼ کې چټې دوې دي
دیوې دچیټ کمیس دی
دبلې ملتانی جوړه په پښوده

دا هم یوه لنډۍ چې راته یې وویله:

هلکه راسه ادم خان سه
ددرخانۍ مینه له ما واخله مینه

ما ورته ووې چې منګلو کې ددې ټکۍاو سندرې شکل داسې دی:

وورکیه! روشه آدم خون شه
د درخونۍ مینه په مو وکه مینه

## دوردګو داتڼ ناري:

داتڼ او دنارو په برخه کې مې خپلې لټې ته دوام ورکړ، له ښه

مرغه چې یو څه مواد او داتڼ ناري له ېلا ېلو سیمو څخه په لا س راغلې، په دې لړۍ کې دوردګو دسیمې داتڼ ناري چې یوازې یو څو نمونې مې له یوه کوهي (څا) پا کوونکي څخه چې زموږ دکور کوهې یې راته پاکوه د ډوډۍ دخوړلو په وخت کې راته ووې او دا پوه نه شوم چې دا ناري او سندرې دوی دواده په وخت کې کله او څنګه وایي ؟ خو ناري او غړونه یې په زړه پورې دي، داسې معلومیږي چې دا غړونه ښځې او نجونې دواده په وخت کې وايي، ده (هغه) ناري او غړونه ، نه ورته ویل ، بلکې سندرې یې ګڼلې، او دادې هغه څو نمونې:

دسحر چرګو ناري کړې " واله " خو به یمه
دګل محمد کچرې بار " یا" ورسره ځمه

* * *

سور سالو مې کور دی" وا" کوردی
" یاله " سر توره باغ ته ځمه
( شیر جان ) کره مې ګل دی " وا" ګل دی
" یاله " ننداري له بې ورځمه

* * *

" وا" سمې نیمې شپې شوې پړشمی دې لیلی
د ( احمد ) ګوډی مې په وزه کی " وا" سوروي دې لیلی

* * *

دلمر سترګه په شغلو ، شغلو ځی " والله "
( ګل رحیم ) ته وویه راووزه ورادې تولـه دتربرو ځې" والله "

* * *

اوس به تورلونګ جوړه ، جوړه را شي

اوس به د ( خیال جان ) ټولی بسته راشي

*　　*　　*

" وای" ددوو ډولو غرزی شو شینکی‌لړو دو بهیدا
( تور ګل ) په نیلي سور شو لکه ستوری بر ښنیدا

*　　*　　*

دمورِ دناویې دوې لوښتې تندی دی
ارمان مې دا وو(*) ډولو درزی دی

*　　*　　*

ریمال زر، زر جوړوئ چې ګرمي کېږي
( دوست) تر ګل نازك دی خولې کېږي

*　　*　　*

لمر راوخوت " وا" په چنار پورې
" وا " مورِ ( رومال ) را ووړ کلیه که بې ګورئ
( یاالله ) دتورټوپك زېړه کنداغه
( یا الله ) د تور ټوپك زېړه کنداغه
د ( ګل خیرې ) ریمال یې راووړ
دا ( نور محمد ) په زیړه غاړه

*　　*　　*

اوښ ولاړ حنګون تړلی " یا" وا با بو لالې لالې
تر هغه به یې خلا ص نه کړم څو لالی نه دی راغلی
" یا " وا با بو لالې ، لالې

---

(*) په پښتني سیمو کې په واده کې ډولونه وهل کیږي. معمولاً یو یا دوه ډوله په وراکې وي خو څوك چې شتمن وي او غواړي ښه په نوم سره واده وکړي نو اووه ډولونه وهي.

دادې ناوې کوردی
په تور اوربل يې د کلدارو روپو شور دی

*　　*　　*

دا دې ناوې کور دی
خيال يې نور دی
په تور اوربل يې ګل له پاسه سپور دی

*　　*　　*

ده چې دا پورته څو دواده سندرې لکه چې دمخه مې وويل خامخا د ښځو له خوا به ويل کيږي را ته وويلې دا لنډی يې هم په ځانګړي وزم ( وزن ) وويلې چې زما خوښې شوې دا دي ويې ګورئ:
ناوې ودېږي خوشالېږي
په سترګو ژاړي په زړه ګورې ې ما توينه

*　　*　　*

پېکی په توره نه ورانېږي
چې وخت يې راشي سلا يي يې ورانوينه

## دغزني داتڼ نارې :

داتڼ دنارو په باره کې مې بيا دغزني دسيمی يو پښتون اندړ چې کا بل ته دخپلوانو دپاره راغلی و او په انصاري واټ کې زموږ له څنګ د برج برق له تم ځای سره دده خپلوان همسايه وو ما هم يوه ورځ وليد ، دغه اندړ پوخ سړی و زموږ همسايه ځوان هلك و ما به کله سلا م ورسره کاوه د مهاجرت په وخت کی ولاړ کوريې خرڅ کړ بيا مي تر اوسه نه دی ليدلی او دې سپين ږيري سړي دجامې او منجلس ( مجلس) خورا ښه طبعه يې درلودله ، ما په خندا ورته

وویل: کا کا ته خو ډېر مجلسي سړی یې، ګو مان کوم چې داتڼ نارې او کسرونه به هم درمعلوم وي، ده چې خوله یې له خندا ډکه وه وویل: دا خو زما دطبعې سره برابر کار دی، څه مې چې زده وي درته وبې وایم. زه خوشاله شوم(*) بې له درنګ نه مې قلم او کاغذ را واخستل او دا لاندې داتڼ نارې چې ده دکسر نوم ورته اخست په خندا خندا په هماغه لهجه راته وویل چې څو بېلګې یې دده له خولې دلې وړاندې کوم ، رښتیا هم په زړه پورې دي:

ناوې ښه سې بده مه سې
که زموږ په دعا کېږي
داحمد جان دلاس کوزه سې

*　　*　　*

په غوِلي سکې دي واړه ږ ده قدمونه
چې وا ( وی ) دې نه وړي نجلي ګوتو سرونه

*　　*　　*

ښه یې خورې چې تردې غونډی مو راتیره کړې
پلا ردې په شنو لوټو سوته یې هېره کړې

*　　*　　*

-وا- زموږ نور خانه ! چې په جیب کې دردیمال ده
( وای) زموږ دناوې لاس دتاګریوان ده

*　　*　　*

که ته په ورټو ورټو زاړې نجل به نسې

---

(*) دا دروند پښتون شیرګل نومېده ، ښه شعري طبعه یې درلودله . له ده څخه ما دا پوښتنه ونه کړه چې دا کسرونه د نارینه وو دې او که دښځینه وو. خو دا سې معلومیږي چې زیات یې دښځینو دي.

که دې ورورته زارى کړې خلاصه به نسې

*　*　*

زاړه زاړه توره اوربله
چار ګل مېلمه دى تر بر پزره ( برېځره )

*　*　*

موږ داسې ناوې در کړه لکه ښه زرین وتې
تاسې داسې زوم راکړى، لکه دبورې غوا ډډى

*　*　*

دپیغلو مړ ورك دى په رمو کې
پلا نیه! تول دسپك سه په مېږو کى

ده وویل، د تېز اتڼ په وخت کې داسندره او کسر له ټاپو سره په لوړ آواز وایي:

مرم شالو نګینه لیلیه!
زېږه ما زدیګر دى
اتڼ خو کومو نجونو مست کو
مرم شالو نګینه
دا غوټېې متې دمېږو صفت کوینه
مرم شالونګینه
مرم شالو نګینه لیلیه!
زېږ ما زدیګر دى
په آخرت به لالى غواړم
مرم شالونګینه
په دا دنیا یې ظالمان نه راکوینه
مرم شالونګینه

مرم شا لونګينه ليليه !
زړې مازديګر دی

*　　*　　*

ډول ته را ګډېږه- توري څنې سپينه غاړه
ډول ته را ګډيږه
ډول ته را واوړه هسکه غاړه شنه خالونه
ډول ته را واوړه
لکه للمي غنم چې غواړي بارانونه
ډول ته راواوړه
ډول ته را واوړه هسکه غاړه شنه خالونه
ډول ته را واوړه
قسمت مې خپل دی را رسېږي
ډول ته راواوړه
چې ګلوته لاس کم اغزي په لاس راځينه
ډول ته راواوړه
ډول ته راواوړه هسکه غاړه شنه خالونه
ډول ته را واوړه

هغه وويل دهلك له خوا راغلې خېښې او دجلکۍ خپلوانې ښځې يو له بله هم دغندنې او زېړلو کسرونه بولي چې څو نمونې يې په دې ډول دي:

موږ غوټۍ نه ستا يو ښه ځوانه ده
لستوڼی غور ځوي دعبدالرحيم ياره ده

*　　*　　*

اچه اچه په دا بام ختلې وزې دي

میر خان ته ووایه راځه سهرلکی دووزیمې دې

* * *

دادې ناوې کور دی
په تور اوربل یې دکلدارو روپو شور دی
دادې ناوې کور دی

* * *

بوزه بوزه بوزه دکارګه توره اوربوزه
واده خو دې پرون وو ته لا نن راغلې دا ووسه

* * *

خښتې وځی ننو ځي خو لې یې وتړئ په مزي
دومره ځای یې پریږدئ چې موچان پرې ننوزي

* * *

خور دې سره سره غره له لمنې
ګل محمد نیلی را پرېښود باز و بند یې مرغلرې

* * *

دورا سر تر کلي تیر سو
شېر باز ته وا را ووځه دګلباز سلادې هېر سو
ده په خندا وویل: یاره ورور جانه ! زما خو دځوانی وخت را یاد شو ، نو کله کله به زه په وادونو کې دخښتو او دجلکۍ دکور دښځو کسرونو ته پټ ناستوم ، دوی به نه لیدم او نه هغه ما لیدې. خو دوی به دخپلو سندرو په وخت کې کله کله دمقابل ځواب په ډول دیو بل سپکولو او غندلو سندرې هم سره په ځانګړ یو غږو ویلې ، چې نمونې یې دادي:
څوك مې سپینه وایي سپینه کجله ده

ګلداد راغورځولې په کمبله ده

* * *

جوړنګ جوړنګ سرداره دجوبې په سر ولاړه
ته پك پسې را واخله دپلا ني نيلۍ ولاړه

* * *

موږ ډو ډۍ نه خورو موږ خيال کړې ده
شير محمد ته ورپرېږدی؟ ده نقصان کړې ده

* * *

لېږ لېږ ډوډۍ خورئ کال خونه دی د کاتۍ
که کال سو د کاتۍ ګل مکۍ ورکړئ په ډوډۍ

* * *

دموږ سپينې پيالې نرۍ يې غاړې
زموږ خښبنانو چې پيالې نه کړئ مردارې

ده په موسکا موسکا وويل دا څو کسرونه مې په ياد وو، نور رانه هېر سوي دي ، خو د پوښ دښودلو په وخت کې زموږ په سيمه کې داسې کسروايه کيږي:

وی، وی، واوړه چارګله !
وی، وا وړه را واوړه
ما دې تاج محمد تر سترګو جار کړې
وی، وی، واوړه چارګله !
وی، واوړه راواوړه
دپير محمد سترګې ډېوې ما ترې قربان کړې
وی، وی، واوړه چارګله
وی، واوړه راواوړه

په خندا يې دا لنډۍ له دې پورته کسر سره راته زياته کړه او ما هم ورته وخندل، ويې ګورئ په زړه پورې ده:

خلك (خو) ملا بنه يادوينه
وی، وی، واوړه چارګله!
وی، واوړه راواوړه
دملا (ګل) لوی کتاب تر خنګ سترګې وهينه
وی، وی، واوړه چارګله!
وی، واوړه راواوړه.

* * *

په سر دې دوشالې دي په شملو دې مرغلرې
خيالګل ته وا راووځه په باغ دې کېوتې بلبلې
پر دي وطن ته مې زړه نه ځي
(واوا) په باغ دې کېوتې بلبلې
نصيب روان دی زه بندي ورسره ځمه
(واوا) په باغ دې کېوتې بلبلې
په سر دې دوشالې دي په شملو دې مرغلرې
خيالګل ته وا راووځه په باغ دې کېوتې بلبلې

* * *

خور وا غز په ونو تور دی
عبدالله ته وا را ووځه دبرکت دواده زور دی
يو وارې سپور په نيلي راسه
(وا وا) دبرکت دواده زور دی
که بيا شړی په سروې ياري دې کمه
(وا وا) دبرکت دواده زور دی

خور واغز په ونو تور دی
عبدالله ته وا را ووځه دسور ګل دواده زور دی

* * *

دشا توت ونې کږې سوې له مېوو سره
ګل مرجانه پلا ر دې ورك سه له دې نينو سره
له دې وروسته يې خدای پامانې وکړه او له خپل خپلوان سره کورته ولاړ.

## په ګربز و کې د واده نارې:

دمخه مو وويل چې اتڼ او داتڼ نارې او غړونه د پښتنو په بېلا بېلو سيمو کې رواج دي او دکليو او بانډو خلك يې دواده ، اختر او نورو خو شاليو په وختو کې په خوشالۍ سره په خورا جم او جوش سر ته رسوي، د پکتيا و لا يت دګربزو په قام کې هم دواده په وخت کې کله چې واده تيار شي، او دهلك دپلار له کلي څخه ځوانان دواده دراوړو دپاره تيار شي، دوراړ سره دهلك خپلوانې ښځې هم ځي، دمعمولې عنعنې لهمخې ښځې‌دنرينو څخه وروسته روانې وي ، نران له ښځو څخه دمخه په اتڼ کولو چې ډالونه او سوزنۍ او غبرګې شپيلۍ پکې وهل کيږي په ډير ځوږ او خرپ سره د جلکی دکور په لور روان وي، هغه ځوانان چې تو پك لري غبرګ غبرګ ډزونه کوي ، دهلك له لوري راغلې خېښې او ورا بانې ښځې لکه چې پورته اشاره وشوه په وروځيو ځوانانو پسې تر شاه دريا ( چمبه ) وهي او ښځينه اتڼ کوي، دلا رې په اوږ دو کې داتڼ کولو په وخت کې دخپلو پوړنيو او ټکر يو پيڅې په خاص انداز سره يوې او بلې خواته اچوي، دکومو پېغلو چې دسمالونه په لا سو کې وي هغه په ځانګړې بڼه دخوشالۍ په

خاطر اچوي او په دې سره دواده په وخت کې دخوشالۍ اظهار او څرګندونه کوي، ښځې په تېره پیغلې چې دلا رې په اوږدو کې اتڼ کوي نو په وار سره یوه ګډېدونکې جلکۍ دخپلو همځولیو له منځ څخه ووځي څو قدمه تر شاه او یا مخې ته اخلي او بیا بېرته په خاصه مینه او ګډا سره ددایرې ولوري ته په شرنګ شرنګ ځان رارسوي او دتیکري پیڅی پورته پورته غورځوي، کله چې دجلکۍ کلي ته ورننۍ دې شي نو دا تڼ داحساساتو سره دزیاتې خوښۍ له کبله دخپلوانو دواده دلا زیاتې خوشالۍ په خاطر او دخپل لوري د غرور او لوی یځ دڅرګندولو دپاره په خاصو غړانګو او آوازو سره داسې سندرې د دار یې او چټبې له آواز سره غبرګوي، لکه :

ولاړه دخانانو ورا ولاړه
کراره یاره کراره

* * *

له مخې نه لرې شئ عالمه
په دا لاره دخانانو ورا راځینه

ددغو سندرو په منځ کې لنډۍ تکراروي او دا سندرې دسرونو په نوم یادوي، دلنډیو په وراچولو سره یې څرنګ ښه پسې زیاتیږي وګورئ چې په زړه پورې دي:

سترګې دې وې وتلې نه وې
ولاړه دخانانو ورا ولاړه
کراره یاره کراره
(*) په کلي مالت دې لوئیدم نه دې لیدمه

(*) دزیاتو معلوماتو له پاره وګورئ . فرهنګ مردم پنځمه شماره . دمیر احمد ګربز لیکنه . ۱۳۶۳ کال

ولاړه دخانانو وراولاړه
کراره یاره کراره

* * *

له مخې نه لري شئ عالمه
په دا لاره دخانانو ورا راځینه
وخت مازدیګر دی دشا لیلی ګلی ته ځمه
په ګربزو کې ښځې دواده په خوشالی کې کله کله دهلك له
لوري راغلې ښځې چې خپښې او ورابانې ورته وایه ګډې دجلکې
دخپلوانو ښځو یا پېغلو سره دیو بل دستا ینو یا غندنو په دود سره
سندرې بولي چې خورا په زړه پوري دي لکه :

دمړې ورېړ دې نه یم
ننداري ورېړ دې یم راغلې یمه

* * *

ګل رخیم مې خړ مورېك دی
دعجب خان پیسې یې یو وړې په غارونه

* * *

خیالي پنې په پښو که
خورې خیال دی که نه
دسرور خان دکوره ووزه
چې اوس یې زور دی که نه

* * *

بخملي پنې په پښو که
په قدم قدم راځه
داحمد شاه کورنه راوزه

خورې شکر وباسه

* * * .

مه يې ژړوی بي بي ننداڼه ده (*)
که تاسې ژړوئ په مور خو ګرانه ده

* * *

يوه منه پخه ده بله زېړه زرغونه ده
دمور ناوې راباسئ په چيکړو کې وراسته ده
دا سرور ګينې ګوتې واخله سر يې زرزر ګنډوه
نور احمد درته ولاړ دی شپه مه په تېروه

* * *

ښه شوې خورې ښه شوې تر شنو و نو مې را تېره کړې
پلار دې په پيسو شو ته خو يې هېره کړې

* * *

ښه يې خورې ښه يې چې تر دې لوی کمره موتېره کړې
ورور دې په لوټو شو ته يې هېره کړې
بله چې ناوې دهلك دپلار دکور دروازې ته راورسوي نو
داسې سندرې په دغه وخت کې ورته په زړه وړونکي غږ و سره ښځې
دد اريې او چمبې دوهلو په بدرګه وايي:
ولي جانه ! ورته راووزه
په وره کې دې انګور ونه ولاړه ده

* * *

علي جانه ! ورته راووزه
په وره کې دې انار ونه ولاړه ده

---

(*) وګورئ فرهنګ مردم مجله . دميراحمد ګربز ليکه پنځمه شماره. ۱۳۶۳ کال.

حکيم خانه ! ورته راووزه
په وره کې دې سرکۍ وندیا رولاړه ده
* * *

مجرومه ! ورته راشه
په وره کې دې ککۍ ننګور ولاړه ده
که چېرې ناوې ته چې په دروازه کې ولاړه وي دهلك دپلار له کوره دهغه پلار او ورونه راوه نه وځي نو په دغه وخت کې دهغو د غندلو په باب داسې سندرې وايي:
دپاسه اوبه راغلې غوړومبي ته ځي
ولي جان ته ټوکرۍ ورکړئ وظيفې ته ځي
* * *

دبامه اوبه راغلې چړ چوبۍ ته ځي
على خان ته کوتك ورکړئ په خروسې ځي
* * *

دپاسه او به راغلی مغلګۍ ته ځي
حکيم خان ته لنګی ورکړئ مرکې ته ځي
* * *

دپاسه او به راغلې ژورګۍ ته ځي
مجروم ته ټوپك ورکی دی بدۍ ته ځي [1]

# دکلات دسيمې نارې:

څه موده دمخه (۱۳۶۳ ش کې ) دزرين په نامه يو پوخ سړی چې دکلات دسيمې و او زما له پلار سره يې آشنا يې غوندې وه،

---

۱ ــ مير احمد ګربز . دفرهنګ مردم مجله ۵ شماره . ۱۳۶۴ کال.

کابل ته راغلی ؤ زموږ کره یو شپه میلمه شو ، دشپې په اوږ دو کې یې رنګا رنګ کیسې چې زیاتو یې تاریخي ارزښت درلود په خندا سره کولې او داسې معلومیده چې دا تاریخي پښني پرده او یا یې په پلار یاد کورنۍ بل مشر باندې تیرې شوې وې، ما ورته وویل: اکا! که خپه کېږې نه دا کیسې ما ته په کرارې کرارې وکړه زه به یې ولیکم. زما ددې خبرې په ځواب کې یې وویل: کیسې څه کوې یو څه سوال او ځواب چې دسندرو بڼه لري او په کلا ت کې دواده په وخت په تېره دکلا ت په کوچیانو کې دښځو تر منځ د " مین" او " مینې " یا " محبوب " او محبوبې تر منځ دمینې او محبت په لړ کې ویل کېږې او ناستو ښځو غوږ ورته نیولی وي د دار یې ( چمبې) په وهلو سره یو له بله وایي او د ویلوطرز داسې دی چې یوه پیغله ځان دنر په جامو جوړوي او بله پېغله ښه ښایسته پښتني کالي چې په کلیو او باندو کې یې پیغلو ته کوي إغوستي وي او ددې ښایسته کا لینو سره ګاڼه ( پسول – ګېڼه) په تیره هغه ګاڼه چې پیغلې یې دښایست او ځان دډولي کېدو دپاره په ځان پورې کوي اوداشان دکمیس او وجود په ښلا ښېلو برخو پورې یې راځوړندوي، په لومړي سر کې دا " مین" او " مینه " یو ډول نورې ځانګړ سندرې چې بیتونه ورته وایي سره وایي او ورپسې دخپلې مینې دنیا په سوال او ځواب ویلو سره تودوي، نو دا به درته ووایم . ما ته هم دده دې خبرې خوند راکړ او ورته ومې ویل اکا څنګه چې ستا خوښه وي هغسې به وکړو. نو زرین اکا په لومړي سرکې دا بیتونه وویل:

دا ورکوټکی طالبګی وا چې لیلې یې لرینه
واچوه لونګ چې دیارۍ بوی یې ځینه
ورکوټکی طالبګی

ته دې اختر په سبا راسه - ورکوټکی طالبګی
زه به درووځم توری سترګې سره لا سونه - ورکوټکی طالبګی
دا ورکوټکی طالبګی وا چې لیلی یې لرینه
وسینده ( وپاسه ) لونګ چې دیاری بوی یې ځینه
ورکوټکی طالبګی

*   *   *

والا زړې مازیګر دی   لالی لا ولاړ دی
والا زړې مازیګر دی
زما پردي وطن کې څه دي - والا زړې مازیګر دی
زه دلالی ستر ګو ته شپې سبا کومه - والا زړې مازیګر دی
والا زړې مازیګر دی   لالی لا ولاړ دی
والا زړې مازیګر دی

*   *   *

طالب جانه دې ویجړې   وی، ولاړه یمه
طالبه ډېر مې یادیدې
کتاب تمام طالب رهي سو - وی، کنه
پروجوړو (حجرو) یې تا وېدم په لمبو سومه - وی، کنه
طالبه ډېر مې یادېدې
دسترګو تور یې طالب جانه - وی، کنه
دسترګو تور چې لری کړم ړنده به سمه- وی کنه
طالبه ډېر مې یادېدې
مینې زړی مې درباندې - وی، کنه
ستا شین کالی طالب جان راغی له سفره - وی کنه
طالبه ډیر مې یادېدې

دطالبانو ټپير به يار کړم – وی کنه
تر کندهاره به مې تول ليورونه وينه – وی کنه
طالبه ډېر مې يادېدې

زرين اکا له دې بيتو وروسته وخندل او راته وې ويل: وراره لکه چې څه خوند به يې درکړی وي ، ما هغه ته ووې اکا ډېر ه په زړه پورې وو ، دا سندرې او بيتونو ما ته له سرو او سپينو زيات دی، خدای دې عمر ډېر کړه صرفه به نه کوي څو مره چې وس لري راته وايه او زه به يې ليکم . له دې خبرې وروسته هغه غاړه تازه کړه او داسې يوه ورکو ټی کيسه يې په مينه راته تېره کړه چې راوړل يې ضروري ګڼم :

" وايي په ځنډنو وختو کې چې هر څه ګويان وو او خبرې يې کولای شوې يو کس په آسپه باندې سپور و ، دآسپې بيانګی تر شا پسی روان ودآسپې خاوند چې څه ښايسته مزل وکړ په يوه فصل چې دجوارو پټی و دا بيانګی ورګډ سو ، د جوارو خاوند بيانګی و نيو او دهغه خاوند وويل: دا څه کوي ؟ زما دآسپې بيانړ را پرېږده ، دجوار و خاوند وويل: دا بيانړ زما جوارو زېږولی دی. دآسپې خاوند ورته ووې: ته دزوغ وايي ، دا بيانړ زما دآسپې بچي دی، خو د جوارو دفصل خاوند وويل: يه يه دا زما جوارو زېږولی دی.

په دغه معامله باندې ددواړو سره شخړه او دعوه شوه، دوی يو بل ته سره ګډو چې په دې منځ کې يوه ګيدړه را پيدا سوه، دواړو موديانو ګيدړې ته وويل: ښه سوې چې ته پرموږ راغلې زموږ سره دعوه ده او ته به زموږ مرکه وکړې.

ګيدړې ورته وويل: زرسئ زه کار لرم . دعوه مو په څه سي باندې ده ؟ دآسپې خاوند وويل: زما دآسپې بيانړ ددې سړي دجوارو

په فصل ورګډ شو . هغه ونیو او ما ورته وویل چې راخوسی یې کړه چې زه په خپله مخه ځم، هغه وایي چې یه یه نه یې درخوسی کوم . دا بیاڼ زما جوار وزېږولی دی او زما دی، ګیدړې دجوارو دفصل خاوند ته وویل: خبره هماسې ده ، لکه داسړی چې وایي: دجوارو دفصل خاوند ورته ووې : هو! دا بیاڼ زما جوار و زېږولی دی او زموږ دعوه پر همدې ده ، نو ته څه وایې؟

ګیدړې چې د دواړو مو دیانو خبرې واورېدې سترګې یې پټې کړې، له څه درنګ وروسته دآسپې خاوند غږ پرې وکړ ته خوب کوې او که څه؟ هغې ځواب ورنه کړ او سترګې یې همداسې پټې نیولې وې ، له څه سېبې وروسته بیا دآسپې څښتن په ګیدړه باندې بیا غږ وکړ چې ته ویده یې او زموږ سره دعوه ده ، دا مرکه به څنګه سي؟ ګیدړې دا ځل چې غږ واورید سترګې یې په ډېرې ځیرکۍ سره پورته کړې او داسې یې ورته وویل:

.ای لویه خدایه ! زما دې تا ته توبه وي. ته خوبنه پو هېږې ، چې زه دا ګړۍ خو مره لرې تللی وم.

دآسپې خاوند ورته ووې: ګېدړې لکه چې زموږ دعوې ته ستا پام نه دی او موږ سره لاس او ګریوان یو ، ته خو دلې یې او چېرې نه یې تللې؟ ګیدړې په موسکا وویل: ته څه پو هیږې په هغه لوی سین او سمندر کې تورو او بو اور اخستی و.

دګیدړې په دغه خبره باندې چې ویې کړه نور دجوارو دفصل خاوند ډیر ډېر وخندل او وې ویل : اې دا به څوك ومنې چې اوبه اور اخلي؟ نه پو هېږې چې په او بو سره اور مري، ځکه او به چې پر اور تویې سي هغه دم مړسي . داور مرګ داو بونه دی، دا به څوك ومنې چې ته وایې اوبو او سمندر اور اخستی و. ګیدړه دجوار و دفصل

دخاوند په خبره څه درنګک غلی سوه او بیا یې په خندا ورته وویل: چې ته دومره هوښیار یې او پوهیږې نو څنګه دغه ستا جوار بیانګی زېږولی سي؟

دګیدړې په دغه رښتیا نی خبره او پریکړه سره د دواړو دعوه حل او فیصله شوه .

زرین اکا چې دا کیسه وکړه نو موږ په دواړو سره وخندل او دمین او مینې سندرې چې ده دسوال او ځواب نوم پرې ایښي و او ما ته دده له ویلو وروسته دیو اوبل دصفت په بڼه را څرګندې شوې او داسې په ځانګړي وزم ( وزن )یې راته پیل کړې ، چې رښتیا هم په زړه پورې معلومېږي او دولسي ادب ځانګړې بېلګه جوړوي لکه یو مین چې وخپلې ګرانې مینې او محبوبې ته دزړه له مینې او صمیمیت نه وایي:

دکابل بازار ته ځم
ګرانو تا لره شال او ساز راوړم

* * *

نه مې کار کېږي له لاسه
نه ډاګي راځی ګرانو له پاسه

محبوبه او ګرانو بیا و خپل مین ته داسی په خاصه ادا او مینه سره دخپلې مینې اظهار کوي:

ناسته یم دمینې پرځای
ارمان چې اوس زما لالی وای

* * *

شپه مې تېوله بې خو به ووهله
دجانان روغه نه کېدله

بیا هم ګوره دمینې او محبو با وار دی چې خپل ګران لالي ته دمینې او محبت څه ډول بلنه او غږ کوي:

زما جانان همیشه دی را څخه ورك

دچرسو بو تې دی نازك

ددې غوښتنې په خواب کې مین او ګران پرخپله ګرانو او محبو به باندې داسې د خوشالۍ او مینې خوږ غږ کوي او ورته وایي:

خوږ ې ستا له لاسه پرما غم دی

ګرانو ستا دپلار وطن دی

محبوبا چې دخپل مین او لالی دا سوی غږ واوري او ورته معلومه سی چې ګران سره غم دی، نو ګرانوخپل قدر نور هم زیاتوي او داسې وخپل جان ته وایي:

ګیله مه کوه اې زماجانه

ما ډېردي لیوني کړي ستا په شانه

مین چې دخپلې محبوبې دا دکبر او سخت زړګوتې نارې واوري، بې واره داسې دهغې غوږ و ته خپل درد په لوړغږ ور رسوي او ورته وایي:

خولګۍ نه راکوې را پسې ژاړې

تښ دیدن دې راکوې ولاړې

* * *

چتې ګرانو چتې! چې په پښو دې کړې چوتې

ځوانان دې لېوني کړه

او زاړه خوراران دې وویستل له ګتې

لالی چې دخپلې ګرانو سره مینه لري او دهغې مینه ورباندې ډېره غالبه ده ، و ګرانو، نه ملا متوي او داسې غږ پرې کوي:

ګرانو ګرځي په پلمه کې
ودځيګړ روپۍ يې ورکې

* * *

زيړه غاړه لکه هيلۍ
ګرانو ناسته په بوجۍ

* * *

ګرانو خدای چې نه ده ملا مته
سپينه خوله يې رانه کړه
دابه مې ارمان وي تر قيامته

ګرانو چې دخپل لالی دواده ارمان په زړه کې لري، نو داسې دغه حالت په سوې چيغه او غږ سره يادوي:

شين غر دی ځوکې ځوکې
جان به ما څه وخت واده کې

بيا هم ګرانو چې دکلي په کوم واده کې پېغلې ټولی ټولی ويني او دې ته دلته دخپل لالي دليدو او ديدن ارمان ورځي او داسې سوې ناره له خولې وباسي:

پېغلې کوړه کوړه ناستې
ګران به و زما و خواته راسي

ګرانو چې دخپل جان سره زياته مينه لري او غواړي چې دهغه مينه هم ځانته معلومه کړي او هغه ددې په شان دهغې په مينه کې ډوب کړي ، نو داسې غږ پرې کوي:

زه پر ګران به غوړيدم
دګران له سترګو شرميدم

او څه وخت چې ګران دخپلې ګرانو غوږ پيکی ويني، ددې

دغوړ پيکی دخپليدو په برخه داسې سوې ناره دخولې څخه وباسي او په دې ناره کې پټ دمينې تاو ښکاري:

ګرانو خوندي دې کړه پيکی
چې زما کالی را غوړوي

تر غوړ پيکي لاندې چې دخپلې ګرانو شنه خالونه ويني، نو ددې دشنو خالو په خيال کې ګران ډوبيږي او دغه حالت داسې يادوي:

ستا شينکي خالونه حسابم
پر لارې سات پرتيروم

زرين اکا ددغې نارې سره وخندل ، ماترې پو ښتنه وکړه . اکا ولې دې وخندل؟ لکه چې دشنو خالو په ګو ليو ته هم لګيدلی يې، هغه وويل: وراره ! پو هيږې چې دادې دنيا دود دی او پرځوانی کې خوند کوي، له څه درنګ او چروت وهلو يې وخندل او زما دخوشالۍ دپاره يې وويل: وراره! لږه دمه به وکړو ، خو زموږ په وخت کې چې دځوانۍ وخت مو و ، په کليو او بانډو کې به چې واده و کله کله به ځوانانو په لوړ ږغ سره په نرۍ غاړه لنډۍ ويلې چې دا دوې لااوس هم زما په ياد دي او دهغه وخت مينه پرې ما توم او داسې يې په نرۍ غاړه راته اوږ دې کړې:

خدای خو دې ژر ګلان راشنه کړي
چې زه جانان لره ګيډۍ ګيډۍ راوړمه

* * *

پاس په بنګله کښې زګيروی خيژي
يا رنځوران دي يا مين له کلي ځينه

زرين اکا له څه درنګ دمې وروسته وويل: زه سبا ته دکلا ت

پرلوري ځم ، ښه شو چې له لسو کالو وروسته مې ستا پلار ولید او یوه شپه مې ورسره تېره کړه ، دادې خوشالۍ شپه ده چې تا ته مې په نارو او بدلو سبا کړه ، بیا خدای خبر دی چې سره ګورو به که نه ، ځکه په ژوند باور نشته زه او پلار دې سپینږیری شوي یو ، زما دا یاد به درسره پاتې وي، ما ورته وخندل او ورته ومې ویل: خدای لوی دی دنیا په طمعه خوړل کېږي که خدای کول بیا به سره وګورو ، ستا دا دنارو او بدلو یا د به تر پېړیو پېړیو پاتې شي، که ستړی وې نو بس کو یې، ده په خندا وویل: زما دځوانۍ شپې او دا وښو کاروانو نه را یادشول، څو بیتونه نور هم پاتې دي، هغه به درته ووایم او بیا به دمه شو ، ما ورته ووې ښه اکا ! څنګه چې دې خوښه وي هغسې به وکړو خو ما ته چې څومره د بیتونو ویلو په برخه کې ګوډې را ډک کړې ورته خوشالېږم ، نو داسې یې د بیتوپه ویلو پیل وکړ:

بیا هم دګران او ګرانو دمینې ددنیا ګۍ څو سوې چیغې دي او ګران خپلې ګرانو ته دخپلې خوږ ې مینې داوږ دوالی ژمنه کوې او داسې هغې ته وایي:

تګ پر تا ، بدي پرما
شین خالې ګرانو لا س تر کلا را

ګران چې دګرانو په خوږه مینه پوه شوی او دا ورته معلومه ده چې هغه له ما سره دزړه نه مینه لري، نو دی هم د یو پښتون مین په څیر ، دهغې پر مینه باندې په سر نه اړکېږي او خپل سر ترې جاروي او دمینې او محبت اثبات داسې هغې ته جو توي او وایي:

دبابا منت به وړم
بورې تا کله زه پرېږدم

* * *

ګرانو وکړه دوې نارې
که رنځوران دې جوړوې
*　　　*　　　*

دګرانو پرپیکوو
مرګی روا دی دمیړو
*　　　*　　　*

زه پر ځان غمونه ستا منم
ګرانو کوم لوري ته ورپې چلم

ګرانو چې دخپل و ګران دغه سوې چیغی اوري ، نو ذا هم دهغه په مینه کې سوځي او داسي غږ پرې کوي:

یارۍ تولې بې وفا
ګران ملنګي کوي بې ما

ګران چې دخپلې و محبوبې دغه غږ اوري، نو دهغې دباور او خبرې دسپینتیا دپاره دغسې مخۍ ورګرزوي او په مینه کې یې ځان ملنګ ګڼي او وايي:

په لاس نه دروړم ګیلهٔ
موږ ملنګان سؤ شین خالۍ

بیا هم چې ګرانو دګران دغه ناره واوري او ورته معلومه شي چې دی ملنګ دی او د یارۍ رنګ یې بدل کړی او په بله سر دی ، نو ددې له پاره چې هغه ښه ځانته په مینه کې پوخ او وریت کړي، داسې غږ پرې کوي:

ما ویل چې ته به ما یوسې
ته ملنګ دزیارتو سوې

له دې حالت نه و دمخه کله چې مین او مینه یا ګران او ګرانو

سره اشنای کیږي او یو ځای سره کېني یا خبرې کوي ، په دې اول ځل خبرو کې دګرانو رنګ سور سور کېږي او شرم حیا پرې غالبه وي ، نو مین چې دګرانو تښتیدلی رنګ ویني وهغې ته داسې وایي:

سترګې مرې مرې اړوي
زه په تا یو هېږم سرې

دمین او مینې یا دګران او ګرانو دمینې او محبت په لومړیو شپو او ورځو کې چې وګران ته چندان دګرانو دکور او مالت یا دناستې او ولاړې ځای ورمعلوم نه وي ، بلکه همځولې یې چې په منځ کې وي ګران ته داسې دهغې دپیدا کیدو په باره کې وایي:

یو ساعت ته تکیه وکړه
دسرې کور په نښانه کړه

څه وخت چې ګران دخپلې و ګرانو دژمنې او وعدې یاد دیدن ځای او کورته ورځي او هغه هلته نه وي او دهغې پرځای بل څوک ووینې ، نو داسې ناره کوي:

زه چې راغلم ځای دسرې و
ږغ دبلې پښتنې و

ګرانو ته چې دګران دلومړي وخت خوږ ې مینې یاد زیات خوندور او ارزښتمن ښکاریده خو دوخت په اوړیدو سره چې هغه پخوانۍ سوې مینه کې څه سوړ والی راشي، دغه دسوړوالی حالت ګرانو دګران دمیني دمستېدو دپاره داسې په خوند سره یادوي:

نن مسته سبا دې کډه
جدایي دې کړه را ګډه

ګرانو چې دګران په مسته او ښا یسته ځوانۍ باندې نازیږي، نو دهغه دا ښایسته ځوانی داسې یادوي:

په دنيا کې يې منئ
دمينو ښې ځوانئ
*　　*　　*

سپينې خولې ژېړ چارګلان
نجونې په سيل د دامان
*　　*　　*

سپينې خولې ژېړ پېزوانونه
ګوښې ځاى به وتاکونه

په پښتني کليو او باندو کې په جوته څوك مينه سره کولا ى نسي، دا په دې مفهوم چې ګران او ګرانو په پټه يو له بله سره دمينې دنيا تودوي او دوى له خپلو خپلوانو او کليوالو څخه ډارېږي چې که سره ويې وينې وژني يې، په کليو کې مېندې او مشرانې ښځې په پېغلو جونو پسې څار کوي، نو دغه حالت دوى داسې ستا يي:

د زهير زړګو تې واخلي
ګوډى ډك کړي منډه واخلي

په پښتني کليو او باندو کې پېغلې او ښځې پښتني ګاڼه او پسول پرځان کوي ، مين ياګران چې دګرانو ګاڼه ووينې او خوند ورته ورکوي نو داسې ګاڼه او پسول دځان د ډاډه کولو دپاره ترې غواړي:

ستا دسر له تاويزو
وماته يورا کړه ګرانو

دپښتنو د کليو او باندو ښځې پر مخ باندې ځاى په ځاى خالونه وهي، کله چې يو ځوان ته پر مخ باندې شنه خالونه خوند ورکوي نو چې دغه ځوان کومه ګرانو ولري له هغې نه غواړي چې ستا خالونه خوند راکوي او هغې ته وايي دخپل لا لي دپاره خالونه ډېر

ووهه دغه حال داسي يادوي:

زه مين ستا پر خالو
خالونه دپرکيده ګرانو

په پښتني ټولنه کې مين او مينه په ښکاره اوجوته يارانه نسي سره کولای ، که څوك مينه سره ولري نو مينه به په پټه کوي، کله چې کوم ګران خپله ګرانو له لرې ځايه ووينې هغې ته دا حالت داسې په مينه ستا يي:

د راده پر هغه غاړه
ګرانه لوځ ځيګرولاړه

دلته " ځيګر " سينې او ټټر ته وايي.

زموږ داپورته خبرې چې په پښتنو کې مينه په ښکاره سره نږدې نشی کيدای ، دا حقيقت په دې بيت کې وګورئ چې په څه شان سره يې يادوي:

کور يې ديد کولا نسم
دا داوبو ګودر يې نسم

زرين اکا په همدې ځاې- ځای خپلی خبرې تمامې کړې او وې ويل چې دا پورته بيتونه مې که کوم يو غلط درته ويلی وي ، غاړه مې دخدای نه نيسی ، دا ځکه وخت ډېر تير سوی چې ما دځوانی دوخت سندرې درته وويلې. ما ورته ووې دکور او کهول سره روغ او ژوندی اوسې ما ته يې له سره او سپينو څخه زيات خوند راکړ او له هغو نه يې ارزښت زيات دی، دا ځکه سره او سپين تېرېږي مګر دا دولسي ادب خورې ورې خوند ورې ملغلرې چې زموږ دکليو او باندو دخلکو دفرهنګ او کلتور څرګنده هنداره ګڼل کيږي کلونه‌کلونه او پيړيو پېړيو پورې به خپل ارزښت وساتي ، دخدای پامانئ په حال کې

مې ورته ووې چې اکا ته له څو کالو راهیسې کابل ته راغلی یې او زما پلار دې هم نه پرېږدي، که خدای کول شپې ته به دزابل دسیمې دکوچنیانو دواده بیتونه که درپه یاد شول هم راته ووایې. اکا راته په موسکا شو وې ویل: که خدای کول بیا هم راځم ، په دې خبرو کې له ځایه پورته شو، پلار مې چې له اودس کولو راغلو . زرین اشنا یې ورته ووې چې ماته رخصت راکړه ځم، پلار مې ورته وویل: څه چیغه درپسې ګډه ده ، کورکې خو واړه نه درپسې ژاړي، شکر دی دلمسیو ښبنتن یې، نن خو تللی نشې، دجومې ( جمعې) ورځ ده ، دواړه دجومې لمانځه ته دپل خشتی مبارك جومات ته ځو. اکا چې زما دپلار خبرې واوریدې سر یې ورته وښوراوه او په خندا یې ورته ووې : یره ! حاجی صاحب ته همداسې زور ور یې نن شپه به دلې درسره پاتې شم او سبا له خو ځم، پلار مې چې دغوږ و ګوشکې یې په غوږ کې نه وه او خبره یې سمه نه اوریده ورته وویل: خو له ډیره مه ښوروه ، زه زابل ته نه درځم او ډوډی دې نه خورم ، په ډوډی مه ډارېږه ، نن تلی نشې زرین اکا ور وړاندې شو په زوره زوره یې ورته وویل: نن شپه نه ځم زوی دې هم راباندې حواله اچولې او دا به هم پوره کم، بیا به سره ګورو ، دوی دواړه جومات ته سره ولا ړه ، بیګا ته چې راغله دماخوستن له ډوډی وروسته یې راته ووې:

زویه! غاړه مې دخدای نه نیسې که ربنتیا را باندې وایې دزابل په سیمه کې دجایې او کوچې خلکو دواده دود او په هغه کې بیتونه او جایې او کوچې خلکو په ژبه " بابولالې" یو رنګ ویل کېږي ، څه تو پیر نه لري، دده دخبرې دبس کېدو سره ما ورته ووې: اکاجانه ! دا خبره به دګیبځ راته کړې وه ، ما ټوله ورځ ستا دراتلو په طمعه چې بیګاته به مې اکا دکوچیانو هغه بیتونه چې واده کې ویل

کېږي راته ووايي او ته اوس وايي موږ په کليو کې " بابولالې" ورته وايو ، نو تېره شپه خو دې " دبيتو " په نوم پر ما باندې وليکلې. په همدې شېبه کې يې وخندل او دا يې وويل: يره زورور سړی يې بيتونه خو مې ځکه وويل چې په عموم کې سندرې او بيت ورته وايي خو کله کله يې " بابو لا لې" بولي ، ما هم ورته وخندل او ورته ومې وې : پروانه کوي دا دپښتنو سندرې دي په هر نامه چې وي سړی پرې پو هېږي چې دواده سندرې دي او په واده کې دښځو او نرانو له خوا په اتڼ کې که په ولا ړې وي او که په ناستې په وزم ( وزن) او قافيه سره ويل کيږي، ستادعمر ډېروي که دکوچيانو دواده سندرې دې کومه يوه زده وي راته وبې وايې او که نه نو دخپل آشنا حاجی صاحب سره دې دمينې او ځوانۍ خبرې او منجلس کوه چې شپه دې خوشاله تيره شي.

زما له خبرو وروسته زرين اکا په خندا وويل: يو څه دکوچيانو " بابولالې" مادرته زده کړې دي، خو په ترتيب يې نه پوهېږم چې دواده په وخت کې څنګه او کله ويل کېږي؟ که خوښه دې وي درته وبې يې وايم . ما په خندا ورته ووې : اکا زه خو داسې شيانو ته ډېر تږی يم او دچا خبره اورېدو ته يې و چاودم چې کله به يې واورم . ده وويل: چې دومره دې تليوار دی قلم او کاغذ را واله چې شروع ( شروع) پرې وکړو ، په ترتيب به يې خپله پښتانه پوه شي زه سپين ږيری يم خو دتا دپاره يې درته وايم ، که نه چې څوك قرآن را کړې خوله به په " با بولا لو " باندې واز نه کړم، دا خو دځوانۍ دوخت کارونه دي. ما سر ورته وښوراوه کاغذ او قلم ته مې لا س کړ هغه " دبابو لا لو" دمخه دا دوې لنډۍ چې ده ويل کوچيان يې په واده کې په لوړ و غږ و وايي راته په لوړ غږ اوځانګړي وزم ( وزن ) وويلې:

دخسرکور دوينو ډنډ دی
زه يې په غاړه ګرځيدم ورو لو پدمه
* * *

پېغلو راځئ جيبو نو جوړ کړو
خو اښې ظالمې خميرې به پتهوونه
زرين اکا دا لنډی په ډېر خواړه غږ سره وويلې او ما ورته ووې: کا کا ! ډېر خوند يې وکی يوه بله هم پسې وشړه، ده زما شړلو ته وخندل او داسې يې بله لنډۍ ودنګوله :
په يار مې هغه نخښه وايه
چې دمستو ککړه خوله درووتمه
تر دې وروسته يې په با بو لالو داسې پيل وکړ:
ښه ځې ښه ځې چې ته مو تردالوی کنډو را تېره کړې
پلار دې په لوټو سو ته خواره يې هېره کړې
ما ورته ووې: اکا! زموږ په ځای کې يې داسې وايي:
ښه شوې خورې ښه شوې چې تر شنو ونو مې تېره کړې
پلار دې په ولور شو ته يې هېره کړې
له دې " با بو لا لې" وروسته يې داسې په خواږه وزم ، ځو نورې بابولالې وويلې:
ميرزايي قدم را واله نرۍ لا جوړه ده
دپلانی لا يقه نه وې ظلم پلار کړی ده
ما بيا ورته ووې چې اکا زموږ ځای کې يې ښځې داسې وايي:
ميرزايي قدم را واخله نرۍ ليار تېره ده
دپلا نکي لا يقه نه وی حکم خدای کړی دی

په دې پسې يې په ځانګړي وزم دا بابو لاله وويله:

نا وې په مخکې هديره تر تيره مه سې
له شاه خو دآ با په وينو سره سې

اکا ته مې بيا وويل چې دا با بو لاله زموږ په ځای کې داسې ويل کيږي:

تر مخ دسلو يي په رنده مه شي
تر څټ دې ليوره په وينو سره شې

اکا وويل: نا دا با بو لالی زده دي، زه به يې بس کړم، ما ورته وخندل ، اکا! يوه نيمه سره نږدې دي چې زده دې وي او يا درته درځي بس کوه يې مه چې بيا داسې وخت زه نه شم پيدا کولای:

زموږ ناوې ورځه په روی روی باره سې
چې بل منی راځي بهرته را خواره سې

زرين اکا ته مې بيا مخ ور واړوه او په خندا مې ورته ووې، دا بيت زموږ ځای کې داسې ويل کيږي:

زموږ ناوې ورځه په مخ روی داره شي
شهزاده ستا غلا م ته يې سرداره شې

کا کا بله با بو لاله داسې وويله :

مه ژاړه ناوې تا دې خدای نه ژړه وي
ژاړي به دې خور چې دتا منګی به وړي

له دې با بو لالې وروسته يې وويل : ددې با بو لالې مخې ستا سو ځای کې څنګه ده ؟ ما ورته ووې کاکا ! تا وګټله وار دې دی نورې هم وايه :

دشا توت ونې کږې سوې د ميوو سره
پلا نيه ته ورك شې له نينو سره

سهار کېږي سپېدې نار کېږي
نا وې غوټۍ ده سبا به گل کېږي

* * *

خدايه پلا نکی وځي ننوځي
دا خور يې باز مرغۍ له گوتو وځي

* * *

موچنې دې په پښو کړی ما ويل مسافري کړي
بېرته به رانسی دخسر دکور بند سي

* * *

ناوې درغی سپرخی
ناوې تينگ نيسه تندی
دا واړې يې درتينگ کړه
بيا به يې نه کړې تورپېکی

* * *

ناوې کميس دې دوريښميڼې اليچې ده
لستوڼی دې دزوم د درو بزې ده

* * *

يو دې سيرلکی څلور دې پاستی
پلا نی وژی ته ولې راڅغاستې

* * *

کو ټړنی دې سېرلی دی
سېرلی دی ټکسيالی دی
پلا نی وربانده سپور دی
وايې ها څه عجيب نيلی دی

زموږ زومه خيالي
ورادې راغله په خرپې
نيمې پك نيمي ګنجي، نيمې خيري ګرزوي

اكا ته مې وويل دا با بو لاله په لږ تغير زموږ ځاى كې داسې ويل كېږي:

زموږ زومه زاولنه
ته راننه وزه دننه
زموږ تر ناوې جارشې
ته پې مخ ګورې كه ونه

زرين اكا ! په آخر كې دا يوه با بولاله وويله او وې ويل نورې نه دي راته مالومې:

پلانيه ورا دې راغله ټك يې نشته
دټك دارو به يې دركړو خو دټك سرى يې نشته

زرين اكا چې دا با بولالې راته وويلې نو يې وويل نور مې مه ځوروه ، ما په خندا ورته ووې كا كا زموږ په وطن كې زوم چې دواده په شپه دخسر كره راشي هغه نه كليو الې پېغلې يعنى دناوې همځولې او كليوالې د ډوډۍ دخوړلو په وخت كې دهغه دغندنې يا صفت كولو دپاره خاص پامونه په زړه وړونكو غږ و سره بولي دا ځو يې ما زده دي ته يې واوره كه تا ته دخپلې سيمې ياد تا دزوم ګرت دوخت با بو لالې درپه ياد سوې نو به يې راته ووايې، هغه وويل: ښه ده ته يې ووايه چې ستا سو پامونه څنګه دي؟

يموږ زومه ژوولنه
ته رو ننوزه دننه
يموږ ترنوې ( ناوې) جارشې

ته یې خټ کسې که ونه

داسې یې هم وایې:

یموړ زومه خوشتلنه

ته رو ننوزه دننه

یموړ ترنووکی جارشې

ته یې مخ کسې که ونه

* * *

په کوټه کرلی پیوز

په کوټه کرلی پیوز

یموړ زوم روغی

سرې سترګې لکه بوز

ما چې دا دوه پامونه دزوم په باره کې ووې ، زرین کا کا راته وویل: ابس زموړ په ځای کې چې ناوې اوزوم په آس یا اوښ باندې زوم دمخه او ناوې تر شاه پسې سپره وي نو دا وخت کې ښځې داسې بدله ورته بولي:

زموړ واده پر ګر مسپل دی

ناوی زر زر جوړ ویه

راسره دسپرو سپل دی

دکور سر ګوره نړېږي

ناوکی موځنې بوتله

اوس به څوك ورو لا ړېږي

دا وخت کې زوم خسر ته ورتېریږي دهغه لا سونه ښکلوي نو ښځې داسې بدلې بولي:

دسهار چرګو کل کل کې

زما جان دغه دی راغی
په خسر يې توکل کی

لور يعنې ناوې چې سپروي هغه زر ورتېره کړي او دمورنه رخصت اخلي دغه شېبه کې ښځې داسې په بدلو ورته ګډې وي:

لور او مور سره ولاړې
دلور او ښکې يې را توی شوې
ددې مورپه ګريوان باندې

نو څه وخت چې ناوې دمور نه رخصت راوالي( راواخلي) اس يا اوښ ته خيجي هغې ته ددود سره سم پټهوان ونيسي او دا بدلې ورته ويل کېږي:

ليورو ونيسئ لنګيه
د لالي ناوی راباسو
مخ يې لمر شاه يې سپوږ ميه

ناوې چې سپره شي او زوم تر شاه پسې سپورشي نو داسې وروستۍ مسرۍ پسې وايي، ما ورته ووې کاکا مسرۍ خو لنډيو ته وايي، ده ووې موږ کليوال دې ته هم مسرى وايو غوږ کېده داده وايي واره چې نور مې نو څه نه زده، که داسې ځورول راکوې بيا دې دپلار پوښتنې ته هم نه راځم ، ماورته وخندل بس کوم يې دا يوه مسرۍ دې ووايه :

لمر راوخوت اوره سره شوه
که ورابانۍ زما دجان وه
دبرښنا په دود يې تله شوه

## په څکمنيو کې داتڼ نارې:

په کورمه ( څکمنيو ) کې داتڼ نارې ، دپکتيا دنورو سيمو

لکه منګلو او ځاځیو دنارو سره ورته بڼه لري، یو څو یې چې ماله ډېرې لتېږ وروسته را پیدا کړې ، ددغې لړۍ په برخه کې وړاندې کوم ، وګورئ چې څومره په زړه پورې دي:

یار پسې به ځمه
سبا به یار په سترګو وینمه

---

یار پسې به ځمه
یار مې ښنارګي کلي ته تللی

---

اتڼ ته را ګډېږه (*)
لندانه لنګۍ ټوله په سر کېږده

---

زېړ ختلی لمر دی
په ما خوارې زېړو ټکی مازدیګر دی

---

وه جلکۍ خمارې
دخت لمنې پوړته که له لیارې
په دغه ډول هم ویل کېږي:
وه جلکۍ نازه کې
دخت لمنې جګې وره له مځکې

---

جلکۍ کږه وږه شوه
نرۍ ملا یې سودا ګر بیه کوینه

---

(*) آتڼ ته راګډېږه نه دلته مطلب دادی چې اتڼ کې راسره یو ځای او سهیم شه.

په دغه بنه هم ويل کېږي:

جلکۍ کړه وړه شوه

تاويزيې دنامه غوټې وهينه

---

جلکۍ کړه وړه ده

کړه يې مه کې دلاچې لونگو ونه

---

تا ته به خوله درکم بل مې دين په دنيا وورکې

ولې ما سره زور کې

په دې ډول هم رواج لري :

تاته به خوله درکم

دنورو ، وورکيو نه يم زمه واره

يا داچې:

تا ته به خوله درکم

دنورو ژنيو نه يم گنهگاره

---

دزېړو گلو په باغچو به بنورېدمه

رنده شوم ولوېدمه

داسې هم ويل کېږي:

دزېړو گلو په باغچو به گرزېدمه

لا ليبه! (لاليه) تا به نه ليدمه

---

مرمه اوس به مرمه

لا ليه! دتا ارمان به گور ته را سره ورمه

په دې ډول هم ویل کیږي:

مرم چکنه مرمه دتاارمان به ګورته راسره ورمه

وېلې به يې ورمه چکن په کابل ډېردی را بې ورمه

---

که درزیږي وای درزیږي

دکړايي(*) بازار در زېږي

---

که خواږه دي دخورما

وای وای زړي خواږه دي

---

که ګل دی وای ګل دی

کندهار مې زړی ګل دی

---

جلکۍ کږه وږه ده

په پوزه يي لونګ توره دانه ده

دتانه خو دما کلی په لوړ دی

کمزوری مال مې تل دزور وردی

---

مړوند مې ولې نیسې

په دې میدان به وشي غو یمنډونه

---

مړوند مې ولې نیسې

---

(*) کړابه په کورمه (ځکمنیو) کې دیوه ځای نوم دی.

په دې ميدان به وشي جنجالونه

---

وه چتې ملا لې
دتېر روپۍ دې واړه کليمه دارې
يا داسې:
وه چتې ملا لې
دتېر پنۍ دې واړه مرغلرې

---

پرته ده وه که پرته ده
په لنډي کته پرته ده
يا داسي :
پرته ده وه که پرته ده
په نري کته پرته ده

---

سپين مخ دې خولې دی
کبر جنې! خوب دې کړی دغرمې دی
داسې هم ويل کيږي:
شين مخ دې خولې دی
سوډرې ! خوب دې کړی دغرمې دی
يا داچې :
شين مخ دې خولې دی
دمينې خوب دې کړی دغرمې دی

---

يار مې زيړی ګل دی

دیار دلاسه جوړ ماته چار ګل دی

په دغه بڼه هم رواج لري:

یار مې زېړی ګل دی

زېړی ګل مې داوربل دی

یادونه:

دمنګلو، ځاځیو، ځکمنیو، ځاځی میدان او ډېری مینې د آتڼ دا ناري بیخي او پوربخې سره یو شان او نږ دې دي. (لیکوال)

## ولسي ادب:

داتڼ دنارو ددغې کو چنو ټپې او کمکلی مجموعې وروستی لمن د پکتیا ولا یت د مچلغو دسیمې د یوه کلیوالي منجلسي چې خان زرین نو میده او دخپل محلي ساز څو فیتې یې هم خپله سیمه کې ډکې شوې دي په هغو پامونو (سروکیو) او سندرو (لنډیو) او لنډه کیو او بو لیو سره ښکلې کوم چې دده له یو ې فیتې څخه را غونډ کړل شوي چې د ولسي ادب یوه ځانګړې ښکلې رنګنه غونچه کیدای شي، لا ندې یې هر برخه ددوی په محلي لهجه سره وړاندې کوو:

۱ ـ سروکي:

وه لالیه لاس راکه چې خپل وطن ته ځمه

ژورې کورمې ته نصیب را وړې یمه

---

په خوست ګرمي ده ځا تیراته کړه مینه

خیالی مومنده یمه جانانه

---

څوك مې چې ياري كې په ياری كې زه كره يمه
ګوړې نه خوږه يم لاليه

---

څوك مې چې ياري كې زه پيشو پيشو نامېږم
خدای چې نه درنه ډارېږم

---

دروغ كوې لاليه زه يې تا سره جوړه يم
ګوړې نه خوږه يم

---

باغه ! شنډې شوې ولې نه نيسې ګلونه
په تور اوربل كې مې آشنا وهي لاسونه

---

باغه سر كاري شوې نه دسركار خوري نه دې ماته راكوينه
وای په تور اوربل كې مې آشنا وهي لاسونه

---

خوب خندی مې ورك شی چې دا څرنګ اثر دی
يو مې آخرت بل دعاشقۍ غم زور ور دی

---

بنده به څه ښادي كې چې مرګی دی
دزړه هوس چې كي هغه ليونی دی

---

چې ويشتلی دې په زړه يم شپه په ورځ كم فريادونه
بيګا په مخه راغلې جلكۍ رنګه دې شه خونه

آسمان يې بې ستنې درولی ، ستوري يې پيچونه
دا سپين لمر يې زيړی ګل په غوړولی

---

لا ليه سترې يې که خوب دزنکوينه
توره دې لنګۍ ده وريښمينه

---

مرګيه مه کړه په وړو کيو ووړ کيو مينه
دا ټورې ځنې يې کفن لاندې کوينه

---

کراره شپه ده تول ويده دي المونه
کراره شپه ده ووړکيه خوب مې زنګوينه

---

پريږ ده پريږده سپين مړوند مې پريږده
که خوب درځي سر په ځنګل مې کيږده
زما جانانه ياره

---

ځنحيري پيزوان ته درې وارې سلام سلام
جوړ دی ځنځيري پيزوان

---

دښنه منګي نه دې چا پير کړه مړوندونه
خبره نه وې ما دې وکړه ديدنونه

---

پسرلي ګلا ن غوړيږي ، باران وريږي
شال مې لمديږي

زما ژړا ورته راځينه
شال مې لمدېږي

---

وه ګرانه سترې مه شې
ښه شوې چې ته له خيره راغلې
دډېره عمره مسافره ګرانه سترې مه شې
ښه شوې چې ته له خيره راغلې

---

وه دتور ټيکري ميرمنې
سرې دې لمنې
غورځوي ساتري دې کړمه
وه دتور ټيکري لمنې

---

زيړ مازديګر دی زړه زه ولاړه يمه
وای زيړ ما زديګر دی

---

وړوچکی طالب ګی چې ليلی يې لرينه
وشينده لونګ چې ديار بوی يې ځينه
وړوچکی طالب ګی

---

په سمه کورمه تيريدې وخت دماښام دی
نيولی يې باران دی په سمه کورمه

---

وه کميس دچټې

ګل په لمن جوړ دی کمیس دچتې

---

لا س مې په ګردن کې بنګړو شور ولګاونه
ستا خمارو سترګو په ما اور ولګاونه

---

زرګره دمینې ښه رو پې جوړه کړه
زما لیلی ته ښه نتکۍ جوړه کړه
غمې څلور ورباندې کیږده
په شنو خالو یې مین یمه

---

تورې دې سترګې زیړه زنه شنه خالونه
غوندو وای غونډو مه کوه ظلمونه

---

تګ کوې دزرکې، ما تله شه ګودرکې
زه دې ویشتلی په ملا لو سترګو یمه

---

شین ټیکری دګل په ګل جوړ کړی دی
ولاړلې ګودرته ، ټول ګودر دې ښایسته کړی دی
شین ټیکری دګله !

---

دسره ګړي نه دې چا پیرکړه مړوندونه
فکر دې نه و ما دې وکړه دیدنونه

---

خوند دې کي اوربله چې په ځنګ یې اړوې لیلی

ډېر دي عاشقان دي وخت په زلفو تیروې لیلی

---

زلفې دې پرېږده چې په مخ وهي ټالونه لیلی
وه لیلی وای لیلی مرم
نه پاتې کیږم لیلی

---

په مازدیګر کې خو شالیږي مین زړونه
ښکلې لیلی بر ګودرته ځینه

---

په مازدیګر کې خوشالیږي مین زړونه
ښکلې لیلی زړونه ځځیرینه

---

کراره شپه ده ټول ویده دي عالمونه
پرېږده پرېږده سپین مړوند مې پرېږده
که خوب درځي سر په ځنګل مې کیږده
وه قراره شپه ده وورکیه خوب مې زنګوینه
شرینه یاره راځه په میه

---

خوږې خوږ ې خبرې کړې دومره بیداره نه یې
وه جلکۍ خماره نه یې

---

وړې وړې خبرې کې دمره بیداره نه یې
وه جلکۍ خماره نه یې

---

تور زلفو په ټالو مې زنګوينه
ډېره ګرانه مجبوبه وه ګرانه محبوبه
بې وفاده محبوبه
تورو زلفو په ټالو

---

ليلى دزيړو ګلو باغه راځه
نن رنځوره يمه راځه
سبا به نه وي ديدنونه ليلى

---

وروځه ليلى وروځه
جو نه واړه ورو ورو ځينه
شين خال به دې وران شينه

---

په مساپرى كې زهير مه شې
كه ته زهير شي زه به څه خبره ومه

---

مانه لاړې رنځور مه شې
مساپره ياره بيا به كله راشې

---

شكر شكر لويه خدايه
چې مې دنور محمد په ناوې واچؤل شالونه

---

جباره سپين دمخ زيړه دې غاړه
رنځوره يمه، واى جباره ياره

شرنګ ليلى ناوې يې يو وړه
ناوې يې يووړه په ډا لونه

يادونه :

دسروکي او پامونه په ټوله پکتيا کې شريکه او ګډه بڼه لري.

## ۲ـ لنډۍ :

زما کوترې نازولې
لړه رانږدې شه ساړه نيولى يمه

---

جانان په مانې تر سر تيردى
که لاس ترې واخلمه ملنګ به شي مينه

---

ناز په بې نياز وخلکو مه کړه
ناز په ما باندې کوه چې ناز دې ورمه

---

چې نيمه شپه شي زړه مې تنګ شي
خت مې کفن شي کټ مې قبر شي مينه

---

زما زړګى دسپيرغوت[1] ميله
خداى دې سپيرغوټ په ميله راوله مينه

---

سپينه دې خوله تورې دزلفې
ما په نظر کې ګرزوې که هير دې کړمه

---

[1] ـ سپيرغوټ دمنګلو په لژه کې ديوه جګ غره نوم دى.

په مینه سترې نازه ولې
خوله رانږدې کړه ما لونګ ژوولي دینه

---

ارمان دادی رانه لاړې
ولې مې ټینګ په غیږ کې نه نیوې مینه

---

دربابه به دې ځوندی شم
چې ورمې نه کړې بازینګرو په لاسونه

---

دغه نیشه به څه نیشه وي
نیشه هغه وي چې تر عمره پورې وینه

---

نصیبه ډېر درنه خپه یم
ګلو ته چې لاس کم اغزی لاس ته راځینه

---

ګل مې کرلي وو ایلی شوه
بیا به دسین غاړې نه کرم ګلونه

---

ما درته وې چې پیغله وکړه
پیغله ګنې دی بند په بند مزه کوینه

---

داندینبنو بازار یې جوړ کی
زه یې په غاړه تیریدم ورولویدمه

---

دګلو باغچه سر کاري شوې
نه دسرکار خوري نه دې ما ته راکوینه

زړه مې غریب دی راته ژاړي
دما نه غواړي تیرې چارې تېر ساعتونه

زړه مې غریب دی راته ژاړي
دمانه غواړي دپردی باغچې ګلونه

زړه مې غریب دی راته ژاړي
را په یادوی دلیلی سپین مړوندونه

چې لېونی ، لېونی ګرزي
یالېونی یې یادې زه لیدلې یمه

دا پورې لار کړه وړه ده
دا علي جان دحکیم خان سلام ته ځینه

سمه سارو (صحرا) کې دې خوله راکړه
په سمه سارو کې خوک ګل نه بویوینه

سمې سارو ته مې زړه نه ځي
داور بخو لو ځونډې مې تر خې زړوینه

جلکۍ واده ته هوس مه کړه
دزړګی سر به دې او به کې ډېر غمونه

---

جلکۍ په سین کې کالي مینځي
تر بنوڅی تورې یې سپین دي مړوندونه

---

کور ته له شرمه درتلی نشم
وریا (لرې) پو ښتنه دوړو ، ووړکینونه کمه

---

یار مې دخدای په میاشت کې مړ دی
زه دروژې په پنځلسم خبره شومه

---

پېغلې همدو مره دې خوښې ده
چې دا سپین پرتوګ دې وهې په زنګنونه

---

ګل دګلو سره جوړېږي
چې ګل نه وي څه ازغي څه یې ګلونه

---

قلم ځنځیر وای ما به مات وای
په قلمي ځنځیر ویلي دي مېخونه

---

دهندوستانه ووړکی راغله
دګورستان ووړکي بند یان دی نه راځینه

---

چې ګورستان ته مې کوږی کې
خولګۍ مې ښکل کړه بیا به نه وي دیدنونه

---

جانان په ګور کې ارمان وکی
په مانې ړنګه شوه دتورو خاورو خونه

---

زما دلرې وطن ورږوه !
رب دې شمال که چې په غرو راشې په مینه

---

په دنیا مه وسېږه یاره
دنیا دغم تالۍ وهي ړنګه به شینه

---

دنیا دغم په ورځ پیدا ده
دا لېونی یې دخوشالۍ طمعه لرینه

---

په دا دیدن دې مړه نه شوم
په بیلتانه دې سپینه واوره ولې شومه

---

پېښور دسر پښو ډنډ دی
زه یې په غاړه ګرزېدم ورو لوېدمه

---

تر پېښوره پورې لا ړم
چې چېرته چتې دې موزیان یې ژړوینه .

---

دخپله خدایه مې ګیله شوه
خپلو پردیو رانه واخستل لا سونه

---

اسمان په ستور یوښا یسته دی
که ستوري نه وی اسمان ډنډې ډنډې وینه

---

ځوکۍ (مورچلې ) دې وپرتې دوه مخې
دکبر جنې یاربه ځوك ولتهوینه

---

ځوکۍ دې وپرتې دوه مخې
داکبر جن ووړکی به ځوك ولتهوینه

---

زما زړګي نه خبر مه شې
که بیا خبر شي نیم یالې دی نیم ورخونه

---

چې په ځوکۍ کې یې ایسار کړې
نیستي مه که ووړکیه زه ولاړه یمه

---

چې نیستي ورته ونه کې
تر بور ظالم دی نیستي نه قبلوینه

---

زړګی مې خوړین ګوتې په لاړې
طبیبه نه یم چې په کیږدم ملمونه

---

په دا باندو به سره لاړ شو
که پی دې نه وي سپینه خوله به درکومه

---

لکه زه دغسې مې یار وای
خوابنې به مې جګه وای دګوتو په سرونه

---

دیدن دمړیو قیمتي دی
په ما قیامت شول دژوندیو دیدنونه

---

**بولی :**

خانه ! شپې ورځې به وي یاران به نه وي

---

میړنې یې ګډ وي تکیه په خدای ده

---

دخلور و سترګو څه عجب دیدن دی

---

چې په زړو سره مین وي ځای یې یوکې

---

چلم زر زر ډکوه دروتهو پړانګه

---

خوارسړی چې یاري کي تر بام کوړی دی

---

چې په زړو سره مین وی کټ یې یو کې

---

خدای دې زر زر لویه وه چې دیاری شي

---

ما په خوب زلفې لیدې چې ویښ شوم نه وې

---

ما په خوب زلفې لیدې تا ثیریې څه دی

---

یو وار غاړه غړی راشته پلار دې مړشه

---

اشنا یې دبلې ورځې یاد ګیري ده

---

دنیمګړې دنیا نیمه ورځ بازار دی

---

بې دیدنه شپه دې کال شي نه تېرېږي

---

ما به روغې چارې کړې که روغ مې ځان وای

---

ما له تا جدا کوي ژړا راځینه

---

چې په ناز یې لویوي په غم زړېږي

---

چې په ناز یې لویوي په غم وا دېږي

## ۴_ لنډه کۍ :

پورې وورې جنګ دی زه په بام ولاړه یمه

---

پورې وورې جنګ دی سره سټ يې کړه مينه

---

پورې مې لالی را پورې زه ولاړه يمه

---

سرو سترګو دې جارشم نن دې ډېر ژړلی دينه

---

تر سرو سترګو دې جار شم لوګي شول وطنونه

---

ما خو دې خدای نه لري چې ته نه وې مينه

---

غونډه منډه زه يم يور مې بله لټوينه

---

يو ر مې زيړی ګل دی زه ګيډۍ دګلو يمه

---

زه مينه نه يم چا به دروغ ويلي وينه

---

زه مينه نه يم چا به ټوکې کړې وينه

---

جار رنځوره ياره به ديدن پسې دې مرمه

---

جار رنځوره ياره په ديدن دې روغومه

---

نه به تل درګی وي نه بی ډنډې ډکوينه

نه به تل سپیر غوټ وي نه دې زاڼو کتارونه

تل دخدای خدایي ده غره مه اوسه مینه

تل دخدای خدایي ده غره مه ګرزه مینه

حق دی مرګی حق دی ستا ځواني مې ژړوینه

جار دیدن غونډاری که راوی شړه مینه

جار دیدن غونډاری که په ډله مې مینه

خدای دې لیونی کړه چې په غرو ګرزې مینه

خدای دې لیونی کړه چې په غرو لاړشې مینه

وه مرګی ظالم دی پنډې جادې ړنګوینه

وه مرګی دې نه وای لیونی دې وای مینه

جار جانانه دېره مې ښکنې لاړه به شمه

وه لالیه! مه غواړه بې وخته دیدنونه

---

وه فقيره! مه غواړه بې وخته خيراتونه

---

سو څه غيرې راکړه مالونګ ژوولي دينه

---

ته په ډول جوړه يې که خدای زه درمين کړمه

---

پريږده دنيا پريږده چې ما پرې نږدې مينه

---

ډيره مينه مه کړه ليونی به شې مينه

---

وه جانانه ډيره مې ښکنې لا ړه به شمه

---

وه جلکی روانه خيسري چينې ته ځينه

---

ته ته يې بلی کړه ما زديګر يې ورونه

---

وه دره ګی خالی دی کډې غروته تللې دينه

---

وه درګی بې وو اهه دآسو په نالونه

---

سرې ستر ګې راجکې کړه دمينې ياردې يمه

---

# ۵_ متل:

سل لیارې دي – بنګي ته وزګارې دي

---

ښه خدایه غفوره – خورمه کې دورورمزدوره

---

طبیبه ! طبیبي وکړه دوخته چې دې تبه نشي سخته

---

یو خمڅه دې وي- خوښه دې وي

---

غوښتونه نا یاره ښه یم - موزي نه کونډه ښه یم

---

ښه نن سبا واښه دي

---

بخت یاپه پتې دی- یاپه کوځې دی

---

سل دې ومره – دسرسړی دې مه مره

---

چې ورځ راشي لویه – شرینه مور به بیله شي له زویه

---

چې سروي – خولی توکې تالی دي

---

خپه کیږه مه – خدای به بیا ناورګل کې

---

ځوك چې اوښان اخلي – دروازې جګې ایږدي

## په ډیرو کې یې ویشه – په لږو کې یې خوره

ایسې بیسې      بلا دې را ته نیسي

ایسې بیسې      بلا مې درپسې

با با اوادې چې سره کیني      نور څوك په سترگونه ویني

باغ وځبید      باغوان وگړبیذ

باغ چې جوړ شی      باغوان یې زوړ شی

بنده وکړې الې ځالې      نصیب وکړې خپلې چارې

دبنو بنزي      سره خوري دگور چمچې

بې وخته لمونځ نه کیږي      خدای په خپل وخت یادیږي

پاك گرزه      بې باك گرزه

پاك اوسه      بې باك اوسه

پردی خپلوه نه خپلیږي      خپل پردی کوه نه پردی کیږي

پردی په یوه خپلوی نه خپلیږي      خپل په یوه بدی نه پردی کیږي

پردی خواږه په پور دي      چې وریې نه کړې سبا ته پیغور دی

پردی خوره چې خورې      دربه خوبه کوي

پردی عیب دکلي منځ دی      خپل عیب دولې منځ دی

په توره مړشې زویه      نه چې دښمن ته خړ شې زویه

په جار جار مې ښه نه شي      چې خیته (گیډه) مړه نه شي

په جار جار مې ښه مره نه شي      چې خوله مې غوړه نه شي

په خوله خوږه      په نیت کږه

په خوله خوږ دی      په زړگي کې کوږ دی

پلار یې له لوږه مړکیده      زوی یې خواږه ترې غوښته

په داسې بلا واوړې      چې پرتوگ په غاړه راوړې

په ژوندیو کې ښه میړی نه شته   په مړیو کې خندنی نه شته
په ژوندانه کې مې ښه غواړه   چې یو وار مړشم بیا مه راپسې ژاړه
پټی ډنډې کړه   ګزرې غونډې کړه
او به :ګړ یژنې   نغن دمیچنې
اوړه دمبچنې   زوی دخچنې
اتام خوشته پوشته کې   منت په تناره کې
هم دې ساړه کیږي   هم دغورمه کیږی
هم دې زړه کیږي   هم دې نه خوښیږي
آسمان چې کنیږي   دومره نه وریږي
آسمان چې غریږي   دومره نه وریږي
ادې که نوره هیڅ نه وي   دبابا مینې خو مې ما توي
ادې که نوره هیڅ نه ده   دبابا مینه خو مې په ماته ده
اړې خواچوې   خو دسیال سره یې مه اچوه
اشنا دې وي   په کابل دې وي
اشنا دې دسرخیرغواړي   وروردې دمال خیر غواړي
اس تکنی دی   په سوار میری دی
او به تیر یږي   کاڼي یې پا تې کیږي
او به واړه کاڼي دځان سره وري
لوی کاڼي ځای په ځای پاتې کیږي
او به دې تویه   انصاف یې بویه
اورته چې سیخ شی   هغه پرې سوځیږي
امي چې ورنږدې کیږي   هغه دکفر پیخ شي
اوښ چې په اوښه چوشي   دښښتن ورته سودو شي
بد به دې هیرومه   ښه به دې په زړه کومه

بد چي ګرزي      بد به پرځي
په کور کې دې نه ښځه شته نه کته
په شمله ګۍ دې شوم غلته
په شمله ګۍ دې شوم غلته
کوږ ته چې دې راغلم يوه خره وه بله کته
پيغلې که تورې وي      لو نګ په پورې وي
پير چې نه وي      تکبير نه وي
تر دغو خوږ ليو خوزه در تير   نوردې شه خاورې او ګندير
تما کو ترخه دي  عملي ته خواږه دي
تر کاله به يا خر نه وي      يا به يې ښښتن نه وي
تيږه تله      دخوارپه سرو لګيده
تيږه چې ځاى په ځاى پرته وي      هغه درنه وي
تيغ چې چليږي      وينې بهيږي
تيغ چې تيريږي      ويښته کليږي
تيغ چې تيريږي      پياووره ته برابر يږي
تيغ چې تيريږي  خلك پرې غوځيږي
تڼل ته تللي      مور په ستر ګو نه دي ليدلي
تڼل خوړلي      بيرته کورته نه دي راغلی
جلکۍ وړه چې په ياري شي      هغه ستره خرواري شی
جنګ سوړ شي    خوار کبر جن تود شی
جنګ سوړ شی    دکونډې زوی تودشی
ځڼ ته تلې      خداى ليدې
څوك مه وهه په نوك      و به دې وهي په سوك
څوك مه وهه په ګوته      وبه دې وهي په لګته

څومره يې چې ډيريږي هغومره يې ترزره ګله يږي
څه تروره پناه خه تر غره پناه
څه لوږ وه څه دپك سر لغږوه
ځوانی کې يوه نيمه نيشه وي داسې نه چې هر ميشه وي
ځای و و دسرو بازانو ونيو تکو تورو کارغانو
ځانه خپله ځانه ښه مه غواړه له چانه
څوز څو مره چه پلنيږی هغومره غوړيږي
حق ويل کړه دخدای دپاره ګته کړه دورور دپاره
چې پردی درګاه ته ګوری غم پرې اوري
چې خرڼه شي غوږ به نه شي
چې دما ما په نغري شي هغه واړه ليوني شي
چې دادتاغږ که کوچ کي ما به لکه دسپيداره پانه وچ کي
چې دتورې مخ يې سور وي دهغه په تنده کې نور وي
چې د دوو سره بدي وي ددريم په کور ښادي وي
چې ژبه يې ملك وي هغه کلی الك وي
چې ژبه يې ملك وي هغه کلی سپك وي
چې زما دسر نه شي تيره خدايه بيا يې مه کړې ډيره
چې زورد زوره ور شي عقل مرور شی
چې زور دزوره ورشي دا يبرې پته يې خپل شي
چې زرو دزوره ورشي پتي دتخم سره خپل شي
خوارته ورمه کړې نو کان چې په وګروي خپل ځان
خوارو غلې وخوړې مړو کو لمې وخوړی
خور او لور په نس ښه ساته له ځان نه يې ګوښه ساته
دخوارې ښځې يازړاوي يا يې سوې ښيرا وي

## دآتڼ ( ګډېدا ) ډولونه :

په منګلو کې په عمومي ډول سره اتڼ (ګډېدا) په دود ډولو دی. راسته اتڼ، چپه یا ړاوښتی اتڼ دا دوه ډوله ګډېدا او آتڼونه بېلا بېلې بڼې لري چې په وروسته ډول سره به دوس په اندازه رڼا پرې واچول شي. پر دغو دوو بڼو سر بیره ځینې متفرق واړه واړه اتڼونه هم شته چې ګډ وډ او ځانګړی اتڼ ورته وایه شي.

## الف ـ دښي یا راسته آتڼ ډولونه ؛

دا اتڼ په ښي څنګ سره په ځانګړیو څرخو او لټونو تر سره کیږي، له دې کبله ورته راسته اتڼ وایه شي، تر چپه او ړاوښتي اتڼ راسته اتڼ اسان دی، دا لاندې بڼې یې موږ ته معلومې دي، ممکن چې نور ډولونه به هم ولري، هغو پسې لټه په کار ده .

## ۱ ـ دوه لټه راسته آتڼ:

دا ګډېدا وروځي ځوانان داتڼ په لوی میدان کې داتڼ په مشر پسې په لومړي سرکې په ورو او پساله داسې پیل کوي: ټول په یوه وار سره ښي لوري ته لټ کوي او ددواړو لا سو په اچولو سره مخ هم ښي لوري ته اړوي ، دښي لوري څخه چې ټول په ګډه سره کیڼ لوري ته لټ راوکړي او ددواړو لا سو په اچولو مخ کیڼ لوري ته راواړوي . کیڼ لوري ته له رااوښتو او لټ سره غبرګې درې وارې ټاکې ( چاکې، ټکې) یو وارې ښي لور ته ، یو وارې کیڼ لورته ، دریم وار مخامخ سره وهي، دځوانانو دټاکو له وهلو څخه داتڼ په میدان کې آزانګه او زیات لوړ غږونه پیدا کیږي دټاکو ( چاکو) له وهلو سره یو ځای یو نیم ځوان اوګډېد .ونکی غورځی، غورپش اودپشپنګ آوازونه او کریغې

دزياتې خوښۍ اوخوشالۍ دپاره هم له خولې وباسي، ددرې وارې چاکو وهلو سره ځوانان د چاکو په شان خپل تور سرونه يو وار ښي لوري، يو وار کېڼ لوری او دريم وار ته مخامخ ځنې په خاص انداز سره اچوي، دځنو په اچولو سره دځوانانو تور ښايسته ويښته تار تار کيږي اوځانته ځانګړی خوند لري، په دې وخت کې يو نيم تن ( په عمومي ډول سره هغه دوه تنه چې سوبت بولي) داسې بيتونه دځوانانو تر ځنګ چې په مستو کدمو بې له اتڼ کولوڅخه روان وي وايي:

دا ځنيا ورته به خوله ورکم- وای ورکم

دا لغړ سر ته به ګوته وای ګوته ښورومه

دځنيو له اچولو وروسته دا ګډيدا په همدې ډول سره بيا له سره پيل کيږي او دميدان نه چار چاپيره ځو وارې په زياتې خوشالۍ سره ګړ د ګوښه اوچارچاپير چې دا ګډيدا وکړشي، ډم ( ډولچی، ډول وهونکی) نا ببره د ډول غږ درې لتې اتڼ ته اړوي. د ډاله(ډوله) دغږ په اړولو سره ګډيدونکی پو هيږي او بې له درنګ نه داتڼ مشر د ټولې په مخ کې ګډيدا له دوو لتو څخه دريو لتو ته اړوي.

## ۲_ درې لته راسته آتڼ :

داتڼ او ګډيدا په دې حالت کې اتنچينان داتڼ په مشر پسې په يوه درنګ کې بو وار ټول ښي لوري ته اوړي، دواړه لا سونه په خاص ډول ښي لوري ته دلټ کولو سره يو ځای اړوي. دښي لوري څخه په ګډه سره ببرته دلا سو په اچولو کيڼ لور ته را اوړي، دکيڼ لوري څخه بيا ښی لور ته لټ کوي. دښي پلو نه کيڼ لوري ته چې راواوړي درې وارې يا پنځه وارې ټاکه وهي، دوه وارې غبرګه ټاکه ( چاکه ) کيڼ لوري ته له را اوښتو سره يو ځای بيا دوه وارې ښي لور

ته او یو وار مخامخ په زیات قوت سره وهی کریغې او غورځي ورسره کوي. دټاکو له وهلو سره پنځه یا اووه وارې ځنې او سرونه په ډېره مسته بڼه سره یوې او بلې خواته اچوي. دځنیو داچولو سره هغه دوه تنه چې په ښکلی وزم سو بت بولي داسی ددوی دلاخو شالۍ دپاره په زړه وړونکی غږ سره سندرې وايي:

دجونو میره یې واده کړه ، وای واده کړه[1]

په دغه سرو ګوتو ، وای ګوتو به څوك دار یه ویینه

دا راسته اتڼ ددوه لټه راسته اتڼ په شان ځوانان داتڼ په میدان کې بیا له سره په خپل اتڼچي مشر پسې کوي، یو وار ښي لوري ته لټ کوي، بیا کیڼ لوري ته را اوړي، بیرته ښي لوري ته مخ ددواړو لاسو په اچولو سره اړوي، کیڼ لوري ته دراوښتو سره درې واري یا پنځه یا شپږ وارې یوی او بلی خوا یا مخامخ دوه دوه وارې غبرګې ټاکې وهي، غورځی کوي، دهر وار ټاکو وهلو سره داتڼ دهر ډول سره ټول ګډېدونکی ځوانان په مځکه باندې په یوه وار غبرګ کدمونه وهي ، دکدمو وهل دچاکو سره یو ځای اتڼ ته ځانګړی خوند ور په برخه کوي، په دې ډول سره چې درې لټې اتڼ څو وارې ځوانان وکړي، ددې له پاره چې ددغه اتڼ نه یې زر زړه تور نه شي ډولچي د ډول غږ څلور لټې یا څلور مخې اتڼ ته اړوي او ځوانان د ډول دغږ په اړولو سره څلور مخی اتڼ پیل کوي او په زیاته خوشالۍ سره یې داسې کوي.

•

1_هغه ځوانان چې دګډېدا په وخت کې سو بت کوي یا بولي. په عمومي ډول سره لنډۍ په ښکلی وزم وايي. یوازې د "وای" غږ په کې زیاتوي کله . کله یو بیت او پام وایي او لنډۍ ورسره تکراروي.

## ۳_ څلور لټه اتڼ:

دراسته اتڼ په دې ډول کې اتڼچینان یو وارې ښي لوري ته ددواړو لاسو په جګو یا ټیټو یا کاږ و وږو اړو لو سره لټ کوي، په همدې شان بېرته کیڼ لوري ته دلاسو په اچولو سره رااوړي، دکیڼ لوري له اوښتو وروسته بېرته ښي لوري ته په خاص حرکت سره لټ کوي، دښي پلو څخه کیڼ لورته چې رااوړي داتڼ دنورو ډولو په شان درې ، پنځه یا اووه او اته وارې ټاکې یوې و بلې خوا ېاڅټ او مخ ته غبرګې سره وهي او د ګډیدا په میدان کې دځوانانو د لاسو او ټاګو وهلو څخه ډېر زوږ پورته کیږي، دچاکو له وهلو سره درې، پنځه یا اووه او اته واره ځنې اچوي، په دې شېبه کې هغه ځوانان چې "سوبت" په لوړو غږو سره بولي ددوی دخوشالۍ له پاره داسې لنډۍ د "وای" په ورزیاتو لو وایي:

چې خدای کوي"وای"کوي هغه به وشی
زما او ستا "وای"په زړه به ونه شي مینه

د راسته اتڼ دنورې ګډیدا په څیر ځوانان د اتڼ په لوی میدان کې څو واره چې وکړي ډولچي دډول غږ پنځه لټې راسته اتڼ ته اړوي او ځوانان دخپل مشر په بدرګه په پنځه لټه اتڼ داسې پیل کوي.

## ۴_ پنځه لټه راسته اتڼ:

په دې اتڼ او ګډیدا کې ځوانان او اتڼچیان په زیاته خوشاله بڼه یو ځل ښي لوري ته د دواړو لاسو او څنو په اړولو لټ کوي، بې له درنګ څخه له ښي لوري نه کیڼ لوري ته دلاسو او څنګلو په ښورولو سره رااوړي، دکیڼ لوري څخه بیا په خاص حرکت سره ښی خواته اوړي( په دې وخت کې یو نیم تن دنورو دزیات شوق دراوستو دپاره

دا غړونه په زور سره ادا کوي: ( دغه ده ، آهه هه هه دغه ده مه خوریږې ) ، دښي لوري نه بېرته کيڼ لوري ته دلا سو په تاوولو او اچولو سره چې ځوانان غرچي هم سره کوي رااوړي، دکيڼ لوري نه بېرته په پنځم وار ښی پلو ته تاویږي او دبیرته راګرزېدو سره بې له درنګ نه ټول ټاکې ( چاکې) وهي، داتڼ په دې ډول کې لکه چې دنورو قسمونو په لړ کې وویل شول اتڼچینان یوی او بلې خوا ، ځتې او مخه ته ځای په ځای دوه دوه وارې غبرګې ټاکې او کدمونه وهي، دکدمو په وهلو سره دځوانانو د پښو دقوت له امله دمیدان نه خړ ګردونه پورته کیږي، اتڼ کوونکی چې په ګډیدا سره ګرم شوی دګرد او دوړو هيڅ پروانه کوي، د ډول دغږ سره خپله ګډیدا لا پسې تیزه کوي، دپنځه لټې اتڼ سره ځوانان دچاکو ( ټاکو) په وهلو او کدمو په غور ځولو چې ځنې هم یوې ا وبلې خوا ته په خاص ډول د تاوېدو په ښه سره اچوي، دسر دتاوېدو په وخت کې دځوانانو غوړې کړې ځنې تار تار کیږي او ډېر زیات خوند کوي، دځنیو اچول، بې له شکه اتڼ ته زیاته ښکلا او هنري رنګ وربخشي.

داتڼ دا ډول دمنګلو په کلیو او باندو کې ځوانانو. پخو، او زړو سړیو ټولو زده دی، ځوانان چې دیوه درنګ او پنجې ( ساعت ) له پاره په دې ګډیدا باندې ځانونه ښه ستړي کړي، دمیدان په منځ کې ډول وهونکی په خاص هنري ډول سره په زیاته تیزی سره ډول ته لښتې ، ګوتې او لرګی وراچوي. اتڼچیان د ډاله د غږ له تیز والي سره په زیاته بیړه یوې او بلې خواته لټونه کوي او په زیات کیفیت سره دځرخني ( ځرخې ) په ډول ځرخیږي. د تا وېدو او ځرخېدو سره یې ملي کالي ( خت ، پرتوګ ، دلیس او چرمې واسکټونه ) ګډیدا ته لا هنري رنګ او ښکلا وربښي، دهم دډول سره دسپیلی غږ داتڼ په

میدان کې دځوانانو ګډیداته بل کیفیت ورکوي، کله چې ډولچي پوه شي چې ځوانان ستړي او ښه خولې شول بې له درنګ نه د ډول غږ شپږ لتې اتڼ ته اړوي، دډول دغږ داړولو سره ځوانان سخته او تیزه ګډیدا پرېږدي، بېرته ورو ، ورو یوې او بلې خواته راسته لتونه دلا سو او څنیو په اچولو پیل کوي چې په دې حالت سره دوی لږ دمه کیږي (هر اتڼ یا دګډیدا هر یو ډول او قسم په اول کې ورو ورو شروع کیږي او وروسته پسې تیزه او ګړندی ښه پیدا کوي، اتڼچیان د لتو په خوړلو ، څنیو په اچولو او ټاکو (چاکو) په وهلو سره ځانونه ښه شنه کوي ) ، دینځه لتې اتڼ په وخت کې هغه دوه تنه چې شپو لندر او شپېلۍ غږوونکي په څنګ کې روان وي او " سوبت " کوي خپله دنده په دې وخت کې دګډیدا دنورو ډولو نو په شان په ښکلی لوړ غږ چې سو بت بولې داسې تر سره کوي:

په جګو غرو به سره ځونه "وای" سره ځونه
زنګۍ تمامې زنګي نار به سره خوروونه "وای" سره خوروونه

## ۵_ شپږ لته اتڼ:

دراسته اتڼ دنورو ډولو په څېر شپږ لتې اتڼ دمنګلو په کلیو او بانډو کې ځوانان او وروځي د ډول دغږ او شپېلۍ په وهلو سره داسې په خرپ او جوش سره کوي چې یو وارې ښي لورته دڅرخني په څېر چې دواړه لاسونه ورسره اړوي په ډیر خوند سره لت کوي دښي لوري نه کیڼ لوري ته همدا سې په ټس سره را اوړي، دکیڼ لوري نه بېرته همداسې په خاص هنري ډول ښي لوري ته او ړي، له ښي لوري نه بیرته کیڼ لورته دلاسو په غورځولو راتاویږي، دکیڼ لوري نه بیا په خاص لت سره ښي لوري ته اوړي، لاسونه ورسره اچوي دښې لوري نه

چې کيڼ لوري ته راواوړي درې يا پنځه وارې غبرګې چاکې وهي، ځنې ورسره درې، پنځه يا اووه وارې په زيات مهارت چې هر وېښته يې ګوښی ګوښی بېلېږي اچوي، دچاکو او سر په اچولو سره شپږ لټی اتڼ سر ته رسيږي. ډول وهونکی بيا د ډاله (ډول) غږ دهمدې اتڼ دسره پيل کېدو دپاره وهي ځوانان او ورو ځي په دې ډول سره بيا همدا شپږ لټی اتڼ کوي، څو وارې چې داتڼ په ميدان کې داتڼ دا ښه په ډېر شوق سره وکړي او ځوانان ښه ستړی شي، ډول وهونکی ډول غلی او بس کوي، ځوانان ديو ې شېبې له پاره دچلم څکولو لپاره دمه کوي، دسيالې او دمې له کولو څخه وروسته دميدان په منځ کې ډول وهونکی له سره دچوغې ډول وهي ځوانان بېرته دوه کتاره جوړ وي او دا تڼ بيتونه وايي داتڼ له بيتو وروسته په اووه لټي راسته اتڼ باندې شروع کوي، دشپږ لټی اتڼ سره لکه چې دمخه مو ويلی دی " سو بت " کوونکي کسان چې دشپېلۍ په شان غږونه لري خپل سوبت کوي او د " سوبت " ښه يې دلنډۍ ويل دي خو يوازې د " وای" يا " اې" او " هې" کلمې په کې زياتوي :

که يو وار مرګ وای بيا ژوندون وای" اې هې" ژوندون وای
ژړيو به ماتې وې تبې په زنګنونه" اې هې" په زنګنونه

## ۶ـ اووه لټه راسته اتڼ :

دغه ګډيدا چې ځوانان يې په زياتې خوشالۍ سره پيل کوي او د ډول دغږ سره يو وار ښي لوري ته دلاس په څنډلو اوړي، له ښي لوري نه کيڼ لورته راتاويږي ، دکيڼ لوري څخه بيا په خړچ سره ښی خواته لټ کوي، دښي لوري څخه بيا کيڼ لوري ته را اوړي، دهر وار لټ کولو او اوښتو سره دواړه وزر په خاص ډول دسر په تاوو لو سره

اړوي، دکین لوري نه بیا دنورو وارو په څیر ښي خواته اوړي، دښي لوري نه بیا کیڼ لوري ته چې راواوړي داووم لټ په پوره کېدو سره درېږي، پنځه یا اووه وارې یوې او بلې خوا او څټ تر مخ ټاکې وهي، دټاکو له وهلو سره یو ځای د پښو کدمونه په خاص انداز سره غبرګ غبرګ په مځکه وهي او تورې څنې هم ورسره شني. سوبت کوونکی ځوانان سوبت بولي او شپېلندر شپېلۍ وهي، دګډېدا ددغې بنې سرسوبت کول دنورو ډولو په شان داسې په زړو و ړونکو غږو سره وايي:

یار مې د بنو سوداګردی"وای"سودا ګردی

ماته به راوړي بنوڅي دخیال شالونه"وای"شالونه

ځوانان چې اووه لټې راسته اتڼ څو واري وکړي ، ډول وهونکی د ډول غږ اته لټي اتڼ دکولو له پاره اړوي. ځوانان چې د ډول غږ واوري په اته لټي اتڼ پیل کوي.

## ۷_ اته لټه راسته اتڼ:

په دغه ګډېدا کې وروڅي ځوانان او اتڼ چیان څلور وارې ښي لوري ته د دواړو لاسو په غور ځولو او څلور وارې کیڼ لورته لټونه کوي، کیڼ لوري ته چې څلورم لټ راوکړي ورسره غبرګې درېږي، پنځه، اووه یا دوولس وارې ټاکې ( چاکې ) وهي، څنې ورسره اچوي، دا اتڼ څو وارې په خاص انداز سره په لټونو کوي اوړي او رااوړي، ځوانان چې ځانونه ښه ستړي او ستومانه کړي په وار سره ستړي شوي ځوانان له میدان څخه ورو ورو راوزي دا ځکه چې دا اتڼ ډېر لټونه لري، څنې په کې زیاتې اچول کیږي نو اتڼچیان لکه چې وموویل ډېر ستړي کېږي او یو یو له میدان نه خارجیږي په آخر کې چې څو تګړه

ځوانان پاتې شي هغه يوه پنجه تيز او تونند اتڼ کوي او ننداره کوونکی يې ويني او په هغو باندې وار په وار سره غور ځي کوي، ډولچي چې پوه شي ځوانان ډير ستړي شوي دي . ډول وهل بس کوي او په دې ډول سره ددغه اتڼ ( ګډيدا ) دا لويه بڼه چې په راسته اتڼ پورې اړه لري پای ته رسيږي او راسته اتڼ هم ورسره ختميږي او داتڼ بله څانګه چې ړاوونکی ( ړاوښتی ) او چپه اتڼ يې بولي پيل کوي. دچپه او راسته اتڼ له کولو څخه دمخه ځوانان يوه پنجه دمه کوي، چلم څکويي، دسيالې او چلم څکولو وروسته ، ډول وهونکی بيا دچوغې ( چيغې ) ډول په‌خړپ اوټس سره وهي او شپېلی غږوونکی په خاص زړوړونکی ډول شپېلۍ وهي، ځوانان چې دچوغې د ډول او شپېلی غږ واوري له ځايه پورته کيږي خپلی لونګۍ او پټکی له سرو څخه لرې غورځوي او په خپلو غوړو کړيو تورو څڼيو باندې لاسونه را تېروي، د چپه اتڼ دکولو څخه دمخه ټول اتڼچيان د اتڼ په ميدان کې دوه کتاره کيږي، ديوه او بل په مقابل کې مخامخ سره دريږي په لوړو غږ و د يو درنګ له پاره هر کتار په وار سره داتڼ بيتونه بولي. داتڼ د بيتو څخه وروسته دچپه يا ړاوښتي اتڼ بيلا بيل ډولونه او بڼې داسې په خوشالۍ او مستۍ سره پيل کيږي چې ځوانـن ډېر په کې ستومانه او خولې کيږي.

## ب ــ چپه يا ړاوښتی اتڼ :

لکه چې دنامه څخه يې جوتيږي دا ګډيدا او اتڼ ډېر سخت دی، ددغه اتڼ په کولو کې اتڼچيان له بل هر اتڼ څخه ډير ستړي کيږي او ګډېدونکي په چپه لوري سره له مخې نه شاه ته اوړي اوړاوړي، دا اتڼ هر څوك كولا ی نه شي بلکې يوازې يې تکړه او

پاخه اتڼ کوونکي کولای شي، دا ځکه په دغه ګډېدا کې سړی ډېر زر ستړی کېږي او سېلوي (ساه) يې زر سوځي او لنډه لنډه کېږي، همدا وجه ده چې دا اتڼ دهر چا له وس او توان نه پوره نه دی، په تيره خو يې سپين ږيري او هلکان چې دوجودمتره (قوت) يې ډېرنه ده تر آخره پورې کولای نه شي. په عمومي ډول سره يې ځوانان او دپاخه عمر سړي په ډېر زحمت او ستړو نځه سره کوي. دړاوښتې او چپه اتڼ ډولونه په منګلو کې په دې ډول دي.

## ۸ـ اووه لته ړاوښتی (چپه) اتڼ:

دړاوښتي اتڼ دا بڼه په اول کې په راسته ډول پيل کېږي. اتڼچيان دوه وارې ښي لوري ته اوړي يو وار کيڼ لوري ته لټ کوي او په همدغه شيبه کې په يوه کتار سره څو وارې غبرګې ټاکې (چاکې) وهي او مخ په وړاندې ځي. دوه درې کدمه چې په مخ واخلي بيرته راګرزي په چپه لوري را اوړي دښی پښې تکی (ګونډه، زنګانه سترګه) په مځکه لګوي او دکيڼې پښې کدم دمخ خواته تګ ته جوړوي او په دې وخت کې دڅرخني په شان دوه وارې څټ پر مخ اوړي (څټ په مخ تاويږي)، په دغو سختو او ښتو کې چې کيڼ څنګ ته را واوړي ټاکې وهي، څني ورسره په ډېره زياته هنري بڼه په خاص انداز اچوي. څوك چې سونګي او لغړ سرونه وي نو سر نګی او لغړ سر ونه ورسره تاووي. دغوڅيو په کولو سره دميدان لورته دا ګډېدا او اتڼ ختميږي، تر دې وروسته بيا له سره پيل کيږي او په پورته ډول سره څو وارې دميدان له يوه سر نه تر بله سره پورې په غورځيو کولو. څنيو اچولو او ټاکو (چاکو) وهلو سره اجرا کيږي. ځوانان چې ستړي شي ډم. (ډول وهونکی) ډول بيرته دکدم وهلو غږ ته ورته را اړوي،

ځوانان د دمې او سيالۍ دپاره د ډول له غږ سره دوه درې وارې په کدمو وهلو سره له ميدان نه را تاويږي، چې دمه غونډې شي، بيرته دراوښتي او چپه اتڼ په بل ډول پيل کوي.

## ۹ــ ديارلس لتهه راوښتی اتڼ:

وروځي ځوانان دا اتڼ په اول کې دراسته اتڼ په ډول په ډېر جوش او خوښۍ سره پيل کوي، دوه وارې ښي لوري ته غبرګ لتهونه په خاص حرکت سره کوي، يو وار کيڼ لوري ته راتاويږي، په دې وخت کې ښۍ پښه مخ ته کوي دوه وارې ځټ پر مخ راځرخيږي، کيڼ لوري ته چې دا ځل دوه غبرګ لتهونه پوره کړي بيا ښي لوري ته ښۍ پښه لګوي او کيڼه پښه مخ ته کوي، دوه وارې ځټ پر مخ دځرخني په شان اوړي، دا ځل چې کيڼ لوري ته راتاوشي بېرته ځان ښي لوري ته په لتهو اړوي، بېرته چې چپ لوري ته واوړي، په دې لټ سره ځوك چې ځنې لرې ځنې اچوي، ځوك چې ځنې نه لرې او سرونه يې سونګې وي سونګي سرونه ورسره اچوي او دسرو داچولو ځخه وروسته ځو وارې يوې او بلې خواته ټاکې په يوه وار او درنګ سره وهي، په دغه راوښتي، راسته او چپه اتڼ کې اتنچيان ډېر زيات ستړي او ستومانه کيږي. ډول وهونکی پوهيږي چې ځوانان ستړي شوي دي، نو بې له درنګ نه د ډول غږ اړوي، د ډول دغږ داړولو سره ځوانان داتڼ دا ښه بس کوي او داتڼ د بللو او غلتو لو له پاره په دوو مخامخ کتارو دريږي. ديوې شيبې له پاره داتڼ بيتونه ددمې او سيالۍ له پاره سره بولی، داتڼ دپامونو ( بيتونو ) له غلتولو وروسته ځوانان پورته ، پورته غورځي او ( غره ) کوي ، له يو درنګ غرې کولو وروسته ډولچي دځوانانو له پاره د ډول غږ ګډيدا ته اړوي،ځوانان دګډيدا

دپاره یوه پنجه تر څټ اومخ کدمونه اخلي څو چې دچپه او ړاوښتي اتڼ دکولو له پاره یې غړي او اندامونه ګرم شي، دڅټ او مخ له کدمو وروسته دړاوښتي اتڼ په یوه بله بڼه باندې داسې پیل کوي.

## ۱۰_ اته لته ړاوښتی اتڼ:

دړاوښتي او چپه اتڼ دا بڼه دنورو اتڼوپه څیر په اول کی په راسته اتڼ سره پیل کیږي، ځوانان د ګډیدا په میدان کې په زیات جوش او قوت سره دوه وارې ښې لوري ته اوړي ( لتونه کوي) دښي لوري نه چې کیڼ لوري ته را واوړي ( داسې په تیزۍ سره اوړي لکه څرخنی چې تاووې) ځای په ځای دریږي او درې واري غبرګه ټاکه وهي، له ټاکې وهلونه وروسته ښۍ پښه ځای په ځای اېږدي او کیڼه پښه مخ ته وړاندې کوي درې وارې څټ پر مخ را اوړي او اوړي، دښي لوري داوښتو سره درې لته کوي بیا کیڼې خوا ته اوړي، دښی لوري داوښتو سره بیرته چپ لوري ته څنې اچوي او ټاکې ورسره بدرګه کوي او دمیدان دمنځ خواته ټوپونه اچوي. په دې ډول سره دغه سخت ړاوښتی اتڼ څو وارې دمیدان نه چار چا پیره په ډېره تیزی سره کوي، ددې اتڼ دستړ یا درفعه کولو او دمې نیولو له پاره بېرته ډم او ډولچي د ډول غږ اړوي او ځوانان د ډول داوښتو په غږ پو هیږي. داتڼ دسر نفر او مشر یا سرکښ بې له تلو څخه یوې او بلې خواته په ټاکو (چاکو) وهلو پیل کوي او نور اتڼچیان یې ورسره په لوړ و کریغو او غورځیو بدرګه کوي او په ډېر ورو او عادي حالت تر څټ او مخ سره ځي ، تر څو چې مخکښۍ ستوماني یې ورکه او څه دمه یې جوړه شي، دیو درنګ دپاره چې په دې ډول دمه شي ورو ځي یا اتڼچیان بیا دبل ډول ړاوښتي اتڼ دکولو له پاره په درې لته ګډیدا باندې

ځانونه مشغولوي، دا ددې له پاره چې وينه يې په جوش راشي او غړي يې دړاوښتی اتڼ په وخت کې زرسترې نه شي، دړاوشتی اتڼ نه دمخه يو وارې ښي لوري ته لټ کوي، بيا کيڼ لوري ته رااوړي، بل ځل چې ښي لوري ته لټ وکړي يا تاوشي دشاه لوري او څنګ ته غبرګې ټاکې وهي، مخ پورته ټاکې وهي او مخ په ميدان راستنيږي، دريم وارته ټاکې وهي، ددريمې چاکې ( ټاکې ) سره دا اتڼ ختميږي او بيا يې له سر نه پيل کوي ، څو وارې يې چې وکي او ښه ګرم ښي دګډيدا په ميدان کی مشر غږ کوي: دا پرېږ دئ بله ونيسی يعنی دګډا په بل ډول باندې پيل وکی.

## ۱۱ـ شپږ لټه ړاوښتی اتڼ :

لکه چې ووېل شول دچپه يا ړاوښتی اتڼ هره ښه په اول کې دښي او راسته اتڼ په ډول سره پيل کيږي او وروسته نا ببره له مخ نه شاته راګرزي او داتڼ لټ بدلوي چې په دې بدل لټ سره ددې اتڼ نوم په ړاوښتی يا چپه سره ياديږي ....

په شپږ لټې ړاوښتی اتڼ کې ځوانان دوه وارې ښي لوري ته لټ کوي. يو وار کيڼ لوري ته دڅرخني په شان تاويږي، تر دې وروسته بيا دوه وارې ښي لوري ته څټ پر مخ تاويږي . په دغه شېبه کې چې بيا ببرته کيڼ لوري ته راواوړي ټاکې وهی او څنې په خاص انداز ورسره اچوي. په دې ډول سره دشپږ لټې چپه اتڼ تاوېدنه پای ته رسيږي او دډول دغږ له اوښتو سره دځو وارو دپاره بيا له سره پيل کيږي، څنګه چې په دې اتڼ کی اتڼچيان ډېر ستړي کيږي نو يو يو دميدان [1] نه ووزي، داتڼ دهر وارې په پيل کېدو سره ډول دکدمو يا

---

۱ـ دړاوشتی او چپه اتڼ په وخت کې سو بت ويونکی ځوانان سوبت نه کوي. دا څکه دلته دګډيدا بنه ډېره تېزه وي.

غرې په ډول وهل کيږي. دغرې د ډول وهل چې شروع شي ځوانان د شپږ لټې اتڼ وروستي سخت لټونه چې ډېر ستړي کېدونکي دي پريږدي او له سره يې بيا پيل کوي ، په دې اتڼ چې ځوانان ځانونه ښه ستړي او ستومانه کړي ډول وهونکی ډول بس کوي او ځوانان ديوي شيبې له پاره دمه کوي، داتڼ دميدان له منځ نه راوزي او چلم څکوي ديو درنګ له دمې کولو وروسته بيا د اتڼ ميدان ته دچوغې ډول په وهلو سره په غورځيو او کريغو ورجګيږي او داتڼ په ميدان کې دنو يو اتڼو دکولو له پاره ځانونه برابروي.

## ج ـ ګډو ډ او ځانګړي اتڼونه :

ګډ وډ او ځانګړی اتڼونه هغې ګډېدا ته وايه شي چې دښي او راسته. دړاوښتي او چپه اتڼ نه دمخه، وروسته او په منځ کې يا بېخي ګوښی اجرا کيږي، دا اتڼ ځانته بېلا بېلې ښې لري کومی يې چې مونږ ته جوتې دي هغه دادي.

## ۱۲ ـ دپوړ ته پورته غورځېدو اتڼ:

دا ګډېدا دراسته يا ړاوښتي اتڼ ديوه ډول او بنې څخه دمخه کيږي، داتڼچيانو مشر دخپلې ډلې په مخ کې په لوړغږ سره کرغېږی کوي او وايي: دغه ده وه يې نيسئ ددې غږ په کولو سره پورته پورته ټوپونه په خاص اندازه سره اچوي،نور ملګري يې دده سره غبرګوي، دځو ټوپو او پورته پورته غورځېدو څخه وروسته داتڼ مشر بيا غږ کوي او وايي: دغه ده ، ددې غږ په کولو سره څلور وارې مخ ته لوی کدمونه اخلي او دهر کدم سره څلور وارې مخامخ غبرګې غبرګې ټاکې او چاکې سره وهي، په پنځمه ټاکه بېرته راګرزي يا راستنيږي او

په شپږمه ټاکه بېرته پورته پورته دټوپو اتڼ پيل کوي. څو واري چې دا دپورته پورته غورځېدو ګډېدا مخامخ ، يوه او بل لورته وکړي، ټاکې ورسره بدرګه کوي او په همدې شېبه کې داتڼ مشر ډولچي ته مخ واړوي او په لوړ غږ سره وايي: دغه ده ، په دې غږ سره بل اتڼ پيل کيږي.

## ۱۳ـ دکدمو او ټاکو اتڼ :

داتڼ دبيتو له بللو وروسته اتڼچيان د اتڼ په مشر پسې شل او دېرش کدمه په مخ اخلي. دهر کدم له اخستو سره ټول په ګډه ټاکې وهي او غورځي کوي. ددېرشو کدمو له اخستو وروسته داتڼ مشر غږ کوي داده ويې نيسی. ددغه غږ په کولو سره دمخ نه په ښي لوري بېرته راستنيږي او ټول دېرش کدمونه دراستنېدو سره اخلي او دهر کدم سره ټاکې وهي او کريغې کوي. تر دې وروسته بيا دمخ لورته ستنيږي او پر مخ دېرش کدمونه دټاکو له وهلو سره اخلي. په دې ډول سره ټول اتڼچيان څو واري تر مخ او څټ په همدې ډول کدمونه اخلي او دهر کدم داخستو سره ټاکې وهي. دا اتڼ ډېر اسان دی خو تر ټولو اتڼو منظم او په ترتيب سره کيږي. له دې امله ډېر په زړه پورې دی.

## ۱۴ـ ګډوډ اتڼ کې دټاکو او لټونو ګډيدا :

د ګډوډ اتڼ دا ښه څوانان د ډول له غږ سره چې ډم يې په خاص انداز او هنر سره د ټاکو او لټو دپاره وهي داسې شروع کوي. څوانان داتڼ دسر کښې يا دسر تن په ګډيدا پسې يو واري ښي لوري ته لټ کوي او درې واري غبرګې ټاکې دکدم په ايښو دو او وهلو سره په خاص نظم او ترتيب وهي، بيا په همدې درنګ کې بې له لټ کولو

درې وارې غبرګې چاکې ( ټاکې ) وهي ، دريم ځل بيا ښي لوري ته يو وارې ټاکه وهي، له دغو ټاکو وهلو وروسته يو وارې کيڼ لوري ته لټ کوي او درې وارې دميدان منځ ته مخ اړوي او په وار سره درې درې وارې غبرګې ټاکې وهي چې په دې سره دټاکو وهلو او لټو اتڼ ختميږي. ځوانانو ته چې دا اتڼ ډېر خوند ورکوي داتڼ دميدان له يوه سر نه يې تر بله سره پورې ځو چې ستړي شوي نه وي ځو ځو وار ې کوي، دستړيا ، يا ديکنواختۍ له امله ډم د ډول غږ دبل ګډود يا ځانګړي اتڼ بڼې ته اړوي.

## ١٥_ ډول ته دنږدې کېدو اتڼ:

دګدوډ او ځانګړي اتڼ په دې بڼه باندې دمنګلو ځوانان چې ډول وهونکی د ډول غږ د" لړګي" او " لښتې" په وراچولو سره اړوي داسې پيل کوي: ټول ګډېدونکي ځوانان چې د داېرې په شان يې په ولاړو حلقه جوړه کړې ده د ميدان له څنډې او پلو څخه داتڼ دميدان منځ ته چې ډم دميدان په غوټ منځ کې ولاړ وي په ګډه سره ټول ښي کدمونه پر مخ اخلي او دکدم داخستو سره درې وارې غبرګې ټاکې (چاکې) وهي ، دټاکو په وهلو سره له ميدان نه يو ځوږ (زوږ) پورته کيږي ، ښی کدم د دريو وارو ټاکو وهلو سره داسې بدرګه کوي چې دمځکی له مخ نه يې په خاص انداز جګوي او دلاسو په ټاکې لګېدو سره دپښې تلې هم په مځکه وهي. دښي کدم له اخستو وروسته په همدغه شان سره کيڼ کدم پر مخ اخلي او دکدم له اخستو سره درې وارې غبرګې چاکې او دپښې تلې په مځکه وهي، دکيڼ کدم له اخستلو او چاکو وهلو وروسته بيا ښی کدم په مخ اخلي او درې وارې غبرګې ټاکې وهي، په دې ډول سره دميدان له څنډې نه دميدان غوټ

منځ ته ډولچي ته په کدمو اخستلو او ټاکو وهلو سره ځانونه وررسوي، ډولچي ته چې وار ورسیږي ځوانان ټول په ګډه سره په هغه باندې دزیاتې خوشالۍ له پاره غورځی کوي. دغورځي له کولو وروسته ځوانان بیا په ډېر شوق سره مخونه داتڼ دمیدان له منځ نه د څنډو په لور اړوي او دېخواپه شان دمیدان له منځ نه دڅنډې خواته دتللو په وخت کې ښی کدم پر مخ اخلي او درې وارې غبرګې ټاکې یا مخامخ یا یوه ټا که یوه لوري ته ، یوه بل لوري ته او دریمه مخامخ وهي. دهر کدم داخستو او ټاکې وهلو سره د ډول غږ ډول وهونکی اړوي. دښي کدم له اخستو وروسته د میدان دڅنډو په لور کيڼ کدم تر مخ اخلي او درې وارې چاکې ورسره وهي، دچاکو وهل درې وارې یا یوازې ښي لوري ته یا کيڼ لوري ته یا مخامخ تر سره کیږي او یا داسې وهل کیږي چې یو وارې کيڼې خواته ، یو وارې ښی خواته او بیا دمخ لوري ته په شرنګ ټاکې وهل کیږي. په دې ډول ځوانان دکدم په اخستو سره وار په وار ځانونه دمیدان څنډې ته رسوي، دمیدان څنډې ته درسېدو سره غور ځی کوي او بېرته مخ په میدان راستنیږي. د اتڼ دا بڼه زیاته خوند وره ده ځوانان ډېره مینه ورسره لري، څو واره یې په همدې ډول سره اجرا کوي.

## ۱۶_ دلاسو او څنیو اچولو اتڼ:

په دې اتڼ کې ځوانان درې وارې ښي لورته لاسونه په خاص انداز او ډول سره پر کوي، دښي لوري نه بېرته کيڼ لوري ته لاسونه دلټې کولو سره اړوي او په ځانګړي ډول سره یې ښوروي. دا دوه لټه دلاسو دښورولو او څنیو اچولو په بدرګه سر ته رسوي. له دې حرکت وروسته بیا په ځای کې درې وراې غبرګې ټاکې وهي او کيڼ لورته

دسر په څنډلو او لاسو په ښورولو سره دڅرخني په شان اوړي او تاويږي. همدغه شيبه کې درې وارې چاکې ( ټاکې) وهي او دغه ګډيدا ورسره ختميږي. په دې ډول سره څو وارې نوره دغه ګډيدا ځوانان دډول دغږ په اړولو سره کوي.

## ۱۷ـ د څڼيو اچولو اتڼ:

دا ګډيدا په منګلو کې داسې اجرا کيږي چې ځوانان او اتڼچيان دوجود نور غړي او اندامونه ، نه ښوروي بلکې يوازې تورې غوړې کړې څڼې د ډول دغږ سره يو ې او بلې خوا ته په خاصه بڼه سره اچوي دا اتڼ چې دڅڼيو په اچولو سره تر سره کيږي د اتڼچيانو ورمېږونه درد په کې پيدا کوي. داځکه چې دڅڼيو اچولو په وخت کې ورمېږ يوی او بلې خوا ، څټ او تر مخ دڅڼيو سره تاويږي نو ځکه خوږ يږي. دڅڼيو اچولو په اتڼ کې ځوانان ډېر ستومانه کيږي. داځکه په ورو ورو کدمونه اخلي او دسر په تاوولو او ښنلو سره دوجود نظم او ترتيب ګډود کيږي. نو ځکه ستړيا په کې زياته ده .

## ۱۸ـ يو کسيز اتڼ:

که څه هم په منګلو کې يو کسيز اتڼ دومره عام نه دی او ځوانان په ګډه سره راسته ، چېه او ګډ وډ اتڼونه کوي خو سره له دې هم په کليو کې کوم ځوان چې ددغه فن په برخه کې زيات مهارت لري او دا فن يې تر ټولو اتڼچيانو څخه ښه زده وي له هغه نه نور ځوانان غواړي چې يوازې دی دوی ته داتڼ په ميدان کې دراسته ، چېه او ګډوډې ګډيدا ډولونه دډول دغږ په اړولو سره دننداره کوونکو او ليدونکو دخوشالۍ له پاره وکړي. دا اتڼ داتڼ په ميدان کې تر ټولو

ډېر خوند لري اتڼچي یې په زیاته مینه او مستۍ سره کوي ځکه ورته یو کسیز اتڼ وایي.

## ۱۹_ دملو (ملا) نیولو اتڼ:

دملا نیو لو اتڼ دځنیو اچولو له اتڼ سره څه توپیر نه لري، یوازینۍ توپییر یې دا دی چې دملا نیو لو په اتڼ کې ځوانان په دواړو لاسو سره خپلې ملې ملاوې نیسي او یوې او بلې خواته اوړي او ځنې په خاص انداز سره اچوي، په دې اتڼ کې ځوانان هم دځنیو داتڼ په شان ستومانه کېږي داځکه چې لاسونه یې له ملا نه تاو کړي وي او ښورولی یې نه شي نو له دې کبله زر ستړ یا ورته پیدا کېږي دملانیو لو اتڼ ځکه ورته وایي چې ملې په لاسو سره نیسي.

## ۲۰_ څو کسیز اتڼ:

څوکسیز اتڼ دیو کسیز اتڼ په شان دی . دا اتڼ دوروڅیو ځوانانو له منځ نه یو څو تنه چې ډېرښه اتڼ یې زده وي او هم دا تڼ دکولو په وخت کې زر نه ستومانه کېږي دډول دغږ په اړولو سره دلیدونکو او ننداره کوونکو له پاره دراسته، چپه او ګډ وډ اتڼ بیلا بیل ډولونه په زیاته مینه سره یوې پنجې له پاره کوي، څو کسیز اتڼ ننداره کوونکو ته ډېر خوند ورکوي دا ځکه چې دا اتڼ دتکړه ځوانانو له خوا ښه تر سره کېږي نو ځکه هر چا ته ډېر خوند ورکوي.

## ۲۱_ دګونډ واتڼ:

په منګلو کې دګونډو اتڼ دشپې یا دورځې په یوه برخه کې چې ځوانان دشیرګر (شاعر) څخه هیله وکړي او وغواړي چې شېرې

وکړي تر سره کيږي. ددغه اتڼ داجرا کولوله پاره داتڼ دميدان په غوټ منځ کې ځوانان ددايرې او حلقې په څېر په ګوڼد وسره کينې خپلو ګونډو ته چې په مخکه او دميدان په مخ باندې غوځې نه شي پټکي، لونګۍ او څادر لا ندې کوي. ځوانان چې حلقه جوړه کړي ډولچي يې په منځ کې دريږي او دچوغې ډول وهي دچوغې د ډول سره يو ځاى غورځي کوي ، ټاکې وهي او دربه کوي. له يو ساعت غورځيو ، غرې ټاکې او دربې کولو څخه ځوانان يوې او بلې خواته څنې اچوي، دڅنيو له اچولو سره لاسونه اچوي او په وارو وارو ټاکې ورسره غبرګوي. دڅنيو اچولو په وخت کې ځوانان ګونډې هم په مځکه وهي له دې کبله يې دګونډو اتڼ بولي.

دګونډو اتڼ چې ځوانان ديوې شپې له پاره وکړي ډم ډول غلي کوي او له شېرګر ( شاعر) نه غواړي چې دځوانانو منځ ته راشي او دډولچي تر څنګ دشېريو له پاره ودريږي. شېر ګر چې دځوانانو حلقې ته ور داخل شي ډم دده دخوشالۍ له پاره دچوغې ډول وهي او ځوانان هم دده ( شاعر) ددرنښت او عزت له پاره يوه شپبه غره، دربه او غورځي کوي. له دې وروسته شېرګر داسې په شېريو ( شاعريو) پيل کوي چې په ښکلي وزم ( وزن) يې په لوړ غږ وايي. دې چې شېرۍ يو ځل وکړي لاندې ځوانان يې هم ورسره نيسي. دشيرۍ په منځ کې چې څو بندکى ( بچکى) سره ووايي حلقه شوي ځوانان دډم دډول دغږ سره چې ګډيدا ته يې اړوي يوې او بلې خواته څو، څو واره سرونه اچوي، لاسونه په خاص اندازه پړ کوي او ګونډې دولاړيو داتڼ په څېر دکدمو په ځاى ورسره وهي. کومې شېرۍ چې دګونډو داتڼ په وخت کې تر سره کيږي ډېرې په زړه پورې دي. دمثال دپاره يې دا څو نمونې وګورئ:

الف:

پورې ورړې تور منګل وتلي دي
نه وه زما نشك ډېرمې ژړلي دي
نه به منګل هغه منګل شي
نه وه زما نشك ډېر مې ژړلي دي
نه به مرغې راغه ته يوسي بيرغونه
نه وه زما نشك ډېرمې ژړلې دي
پورې وورې تور منګل وتلي دي
نه وه زما نشك ډېر مې ژړلي دي

* * *

پورې وورې تول منګل وتلي دي
نه خوا جمت خان ډېر مې ژړلي دي

ب :

يوه "ايو" ته بله " خيو" ته
يو خو يې ملا شوه رانه موته
ځم ځرمن اخلم په بنيه
زه څه وکم خدا يه

## د ــ ښځينه اتڼ :

مخکې له دې چې په منګلو کې دښځينه اتڼ ډولونه په ګوته او جوت شي دا هم ضرور ده چې ووايو ښځې اتڼ چيرته کوي؟
دهغې عنعنې له مخې چې په منګلو کې دود ده ښځې دکورنه بېدياﺍو بهر په ليار يا يو بام او جوت ځاى کې اتڼ نه شي کولاى، دکور دکوټې نه بهر او بېديا دښځو اتڼ په منګلوکې ډېر عيب.

او خورا ستر شرم ګڼل کیږي، په کوم ځای کې چې ښځې اتڼ کوي هلته نرینه بیخی ورتللی نه شي، له اتواونهو کالو څخه لوی هلك هم دښځو داتڼ ځای ته ورتلی نه شي، احیاناً که کوم سړی یا ځوان د ښځو داتڼ ځای ته ورشي ښځې یې بې له درنګ نه وباسي او ورته وایي: ته خوراومور نه لرې چې دلته راغلې ، دلته خو به ستا ښځه هم زموږ سره وي، دا دښځو ځای دی لاړ شه دنرانو ځای ته ورشه، نرشه له ځان نه ښځه مه جوړوه . که دجلکۍ پلار یا کلیوال خبر شي چې پلانکی دښځو داتڼ ځای ته ورغلی دکلي د دود سره سم یې ناغه کوي. له دې کبله په ډاډه سره ویلا ی شو کوم ځای کې چې ښځې اتڼ کوي هلته نرینه ورتللی نه شي.

## ښځې په کوم وخت کې اتڼ کوي؟ :

ښځې دنرینو و په شان داختر په ورځو ، ماشوم دپیدا کیدو او واده په ورځو کې دخوشالۍ اتڼونه کوي، داختر او ماشوم دپیدا کېدو په وخت کې اتڼ کول دومره عام، ضروري او حتمی کار نه دی، داختر په ورځو کې پېغلې او پېغلکۍ جلکۍ دیوې کلیوالې کورته ورځي هلته مشرې ښځې هم را ټولې شوې وي، داختر دخوشالۍ له پاره اتڼ او سندرې دیوه ساعت له پاره کوي او بیا بېرته خپلو کورونو ته ځي.

دماشوم دپیدا کېدو په وخت کې دهر چا کره چې نرینه اولا د پیدا شوی وي ، هلته دکلي ښځې دمعمول دود سره سهار دوخته ورځي ما شوم ته له ځان سره څه برخه هر څه یې چې په وس پوره وي ور وړي، دماشوم دکورنۍ ښځې هغو ته " خوانی" او شرینی ورکوي. د "تنکي بریځر" په وخت کې د هلك دکورنی دښځو په غوښتنه دکلي پېغلې ددوی کره راځي او دیوه ساعت له پاره دماشوم د پیدا کېدو

دخوشالۍ په خاطر سندرې بولي او اتڼ کوي.
ښځینه اتڼ دواده په ورځو کې دورو ځیواو ځوانانو داتڼ په شان دعنعنې له مخې ضرور او د ارزښت وړ ګڼل کیږي، دا ځکه دهلك له کور او کلي نه دهلك خپلې خپلوانې او کلیوالې ښځې دجلکۍ کورته د ورو ځیو، ورابانو او خېښو ( دوستو ) په نوم وروستل کیږي او دجلکۍ په راوړلو کې دهلك دپلار له کور نه دجلکۍ کورته او دجلکۍ له کور نه بېرته دهلك کور ته دځوانانو په شان په واده کې په زړه پورې برخه لري له دې کبله په دې وخت کې ښځې داتڼ بېلا بېل ډولونه په خوشالۍ تر سره کوي دا تکۍ هم دیادونې وړ دی چې دښځو اتڼ ځکه مورږ ته په بشپړه بڼه نه څرګندیږي چې هلته دنرانو ورتګ لا ر نه لري، سره له دې موږ د زیاتو پوښتنو په لړ کې دښځو داتڼ دا وروسته ډولونه دمنګلو له سیمې څخه راټول کړي دي.

## ۱ _ دځیو نیو اتڼ :

دهلك له کلي او کور نه دجلکۍ دکلي او کور په لور چې دځوانانو ورا مخکې دډول او شپېلۍ ، تو پکو د ډزو او غورځیو په بدرګه دخوشالۍ له پاره روانه شي، تر څټ او شاه یې دهلك دکور ښځې او نورې نږدې خپلوانې ددوستو او خېښو په نوم چې داریه (دریاب، چمبه ) ورسره وهي په خوشالۍ دجلکۍ کورته ورځي. دلارې په اوږدو کې لکه چې و مو ویل ښځې دشرم او عنعنې له مخې ګډیدانه کوي، یوازې مشرې سپین سرې ښځې ( دهلك مور، ترور...) دهلك له کورنه دجلکۍ تر کور پورې دخپلو ټیکریو ، جاولیو او نورو ډول ډول رڼو کیولمنې او څنډې چې دوی یې " ځپونې" بولي په خاص انداز سره دلا سو په قوت سره یوې او بلې خوا ته اړوي. داریه ورسره

دڅپوڼيو داوښتو په وخت کې بدرګه کيږي او دڅپو ڼيو د تاوولو سره يې غږ اړوي. په دې شيبه کې کوچنۍ جلکۍ چې عمر يې داتو او نهو کالو څخه تر دوولسو کالو پورې وي دلارې په اوږ دو کې ګډيږي او دمشر و ښځو څڼ تر مخ په خاص ډول سره داتڼ لټونه کوي. دجنکيو ګډيدا ته دومره څوك نه ګوري خو دمشرو ښځو څپو ڼي اچول ځانته ځانګړې ښه لري چې له دې کبله دڅپوڼيو داتڼ په نوم سره ياديږي ، په لارکې مشرې ښځې په وروغوندې غږ سره سندرې او يا ټپامونه هم بولي دمثال دپاره يې دا يو بيت وګورئ:

خلکو نوې يارۍ وکړې واى وکړې

په دې زاړو يار يو کې يې واچول منډونه واى منډونه

## ۲ــ ټوټ او جګ اتڼ :

دښځينه اتڼ دا ښه دهلك له لوري راغلې ښځې کله چې دجلکۍ کورته ورسيږي او په يوه ځانګړې کو ټه کې چې هلته نران هيڅ نه وي داسې په خړپ سره کوي:

اتڼچيانې ( اتڼ کوونکې) ښځې په ولا ړ يو څنګ په څنګ سره دريږي او ګرده دايره جوړوي، کله چې د داېرې په شکل ښځې ځانونه اتڼ ته تيار او جوړ کړي نو مشره يا دسر ښځه مخ پورته له سر نه لا سونه جګ کړي، ورپسې ټولې ښځې لا سونه جګ کړي او ټاکه (چاکه) وواهي، له ټاکې وهلو وروسته لا سونه دمځکى مخ ته را ټوټ کړي په يو درنګ سره په ملا غبرګې شي او ټاکې ووهي، دراجګېدو سره يوې او بلې خواته ټاکې ووهي بيا لا سونه او سرونه جګ کړي ټاکې ووهي، له دي کبله يې ټوټ او جګ اتڼ بولى. دا اتڼ دکوټې په غولي کې څو وارې په ډېره تيزه ښه سره اجرا کيږي او اتڼچيانې

ځانونه په کې ښنه اوسترې کوي.

## ۳_ دځنګو اتڼ :

دښځينه اتڼ په دې ډول کې ښځې په خپله مشره پسې چې داريا (چمبه) وهونکې يې منځ کې ولاړه وي د دارياب دغږ سره چې وار په وار يې اړوي يوه او بل لوري ته لټهونه کوي او هر لوري ته دوه وارې غبرګې ټاکې وهي، دا چې ښځې يوه او بل ځنګ ته په لټهو اوړي او دڅرخني په شان تاويږي له دې کبله يې دځنګو اتڼ بولي، يوه نيمه زړه ښځه چې دکوټې په کونج کې ناسته وي او دښځو دا دځنګو اتڼ چې په ډېر تېس او خوند سره يې کوي او دڅرخې په شان تاويږي او له هر لټ سره ټاکې وهي ووينې نوهغه دخوشالۍ له پاره داسې سندره پرې کوي:

بورې شئ بدرنګې شئ دا اتڼ سم کوئ
په خپلو ځانونو پام کوئ

## ۴_دڅټ او مخ اتڼ :

دا اتڼ دځنګو داتڼ په څېر دی، توپير يې دادی چې په دې اتڼ کې اتڼچيانې چې اتڼ څو وارې په کدمه، په لټهو او ځنګو سره وکړي، دلټ په وخت کې دمخ ښځه تر څټ او شا راځي او دڅټ ښځه دمخ ښځې ځای ته ورځي يا نيسي، په دې ډول سره ټولې ښځې څټ او تر مخ په ځنګو سره اوړي او دڅټ تر مخ اتڼ کوي، څو کدمه او لټهه چې دا اتڼ وکړي اتڼچيانې بيا سره څټ او مخ ته کيږي ، ځکه ورته دڅټ او مخ اتڼ وايي، دا اتڼ چې ډېر په زړه پورې او سترې کېدونکی دی، اتڼچيانې په کې سترې کيږي، نو يوه نيمه ښځه دخندا له پاره

داسې غږ په هغو ښځو کوي چې داتڼ له منځ نه وتلې وي:

اتڼ خو تا چټې تازه کی

دې خپتو رو جونو وشکول کتهونه

## ۵_ځانګړې ګډيدا :

داتڼ دغه ډول دهلك له لوري راغلې خپښې او دوستې په هغه وخت کې کوي چې دخپښو له منځ نه يوه پېغله چې تر ټولو ډېره ښه ګډيږي دځانګړي اتڼ له پاره جګيږي او نورې دغولي پرمخ دکوټې په منځ کې په ناسته سره ګرده حلقه او دايره جوړوي، درياب ( چمبه، دريا) وهونکې دګردې دايرې په منځ کې ورسره ناسته وي، ولاړې پېغلې ته داتڼ دپاره دچمبې غږ اړوي، ولاړه پېغله چې ځانګړی يا يوازې اتڼ دکوټې له يوه سر نه تر بل سر پورې کوي دځرخنې په شان دداريې له غږ سره اوړي او په شرنګ شرنګ ګډيږي، ناستې ښځې دهغې دخوشالۍ او تشويق له پاره داسې سندرې او ټپامونه بولي:

داځای دګډيدا نه دی

کدم ( قدم) دې اخستو

احمدسره ولاړه يې لکه لښته دباغو

*        *        *

واوره راواوره ليلو ( ليلی)

داسې ځليږي لکه سترګه دسبو(سبا)

*        *        *

ليلو ګډيږي جوړيې اوربل دی

په شرنګ تيريږي يور(يار) يې په کابل دی

له دغو ټپامونو سره ټکی او سندرې هم تکراروي، دمثال

دپاره يې دا يوه لنډى وګورئ:

په زړه کې پټ راباندې ګران يې
په شرنګ تېرېږي يور يې په کابل دی
دخلکو شرمه دې په خوله نه يادومه
په شرنګ تېرېږي يوريې په کابل دی
ليلو ګډېږي جوړيې اوربل دی
په شرنګ تېرېږي يور يې په کوبل دی

کله چې ولاړه پښغله په ګډيدا او اتڼ کولو سره ستړې شي، ناستې پېغلې او ښځې ددې له پاره چې هغه کېنې او دمه وکړي، پر ځاى يې بله پښغله جګيږي او په شرنګ شرنګ ګډېږي ، دغه حال په پامونو کې داسې په ښکليو غږو سره يادوي:

په ورو، ورو کدم ( قدم )
په هر کدم زيړي ګلونه
لندونې ( ننداني) ورو ، ورو کېنه
په يور( يار) واچوه لوسونه ( لاسونه)

* * *

خولې،خولې مخ نه ساسکي ( څاڅکي) څڅوې
په دا ګړده لمن جونه جګوې
راځه خواته مو کېنه
دا ستاله پاره نورې وزرې څنډوې

* * *

ښه ګډېږې خورې، ښه ګډېږې خورې
ورو په ورو زېږېږې، ورو په ورو زېږېږې
که دمه نه شې ستړې کيږي، که دمه نشې ستړې کيږې

ښه ګډېږي خورې ، ښه ګډېږي خورې

## ۶ـ دځانګړې ګډېدا بل ډول :

دښځینه اتڼ دا ښه د پورته ګډېدا غوندې ده ، خو تو پیېر یې دادی: هغه ښځه یا پېغله چې دکوټې له یوه سر نه تر بل سر پورې په زیاته خوشالۍ ګډېږي کله چې ناستو ښځو ته دګډېدا په حال کې چې دځرخني په څېر اوړي او په دواړو لاسو کې یې دټیکري ( شال، څنۍ، جولۍ، سالولې ...) پیڅې او لمنې نیولې وي په څنګو څنګو ورته را ورسیږي داسې سندره په ښکلي غږ ورته بولي چې همدا ګډېدونکې پېغله دلته دشېرګرۍ( شاعرۍ) حیثیت لري او تردې وروسته همدا سندره او پام نورې ناستې ښځې په لوړو غږو ورسره وايي، کله چې دځانګړي اتڼ پېغله او ښځه څو سندرې وبولي ناستې ښځې هم هغې ته دمخې او ؤار دورګرزولو له پاره سندرې او پامونه اچوي او دهغې دګډېدا صفت کوي. دګډېدا په دې ډول کې چې دولاړې او ناستې ښځې له خوا پامونه ویل کیږي دزیاتې پېژندنې او څرګندونې له پاره یې دا څو نمونې وګورئ:

## ۱ـ دګډېدونکې پېغلې سندرې او پامونه دادي:

چې پېغلو الی مې په زړه شي
کنډول مې یېر ( هیر) شي په شکوره کې خوشتومه
* * *

چې پېغلو الی مې په زړه شي
که مې په غېږ کې شهزاده وي مړېږې (مړ به یې) کمه
* * *

چې پېغلوالی را په یاد شي
تر دېوال ټوپ کم انګړه ته و ورځمه
* * *

څنګه په شرنګ شوې رانه تېره
لکه لړۍ چې دکابل پېره کوینه
* * *

څرې په شرنګ شوې رانه تېره
لکه لړۍ چې دتوت کې بازار ته ځینه (ځینه)
* * *

مه راته ګورئ خورو ، مه راته ګورئ خورو!
دا نرۍ شال مې یور ( یار ) دمخې لرې کوینه وای لرې کوینه
* * *

په دا لار به بیا درنه شم نو وای نه شم نو
په دا لیار کې مې یار راته ولاړ دی وای وای ولاړ دی

## ۲_ دناستو ښځو سندرې او پامونه :

جلکۍ نرۍ ملیه ( ملا ) تړلې
لکه ګېډۍ دځوغلي ( بزغلي ) تړلې وینه
* * *

چې مرغلرې ترې شرمیږي
هغه اوښکې مې دیار په مخ راځینه
* * *

تر دا غونډه لمن دې جارشم خورې
درته پنډې ( ناستې ) سالك خیلې ښیا ورې

پہ لمن کې به دې نسم زیړې ګلې
مور دې بوره مه شه زیړې ګلې

*　*　*

دخت لمنې د ډمانو ساز کوي
غونډې اور په لمن وړې غونډې اور په لمن وړې
( وګورئ فولکلوریٔ ګیډۍ )

## ۷ـ دهلك دکور په لور دناوې دروانېدو په وخت کې آتڼ:

دمعمولې عنعنې له مخې کله چې ناوې دپلار له کورنه وباسي، ښځې دجلکۍ دکور له دروازې نه دکلي تر بر سر یا یوه معلوم ټك اوبرید پورې په دغه وخت کې چې دریاب ( داریا، چمبه ) وهونکې په مخ کې وي یوې او بلې خواته په شرنګ شرنګ ګډیږي او دټکریو پیښي تاووي، دا اتڼ دروانېدو داتڼ په نوم یادیږي او په دغه وخت کې ښځې داسې سندرې او پامونه بولي:

سندك نه دی سند کچه ده
مورې داسې ناوې راوړو دسورګل تر زنګنه ده

*　*　*

مورې دناوۍ شنډې ولې غوټې دي، مورې دناوۍ شنډې ولې غوټې دي
ارمان مو دګل خان دا ډېرې منډې دي

*　*　*

یمورې ناوۍ ووزې کوډې و نه کې، یمورې ناوۍ ووزې کوډې ونه کې
شاعزیز او درمرجان ګران دي بېلتون ونه کې

## شېرۍ ( شارۍ ، شاعرۍ )

دپکتیا ولایت په کلیو او بانډوکې په تېره منګلو، ځاځیو،

ځدرانو ، څکمنيو ، مکبلو او خوست کې دواده دمراسمو او عنعنې، داختر په شپو ورځو ، دښاديو او خوشاليو په نورو ورځو او وختو کې ځوانان بر سېره پر دې چې اتڼ کوي، سروکي ( پامونه )، سندرې ، داتڼ پامونه او سندرې، غزلې او مسرۍ هم بولي يا وايي، ددې ترڅنګ کله کله دزياتې خوشالۍ له پاره يو ډول خاص في البديهه شعرونه ( شېرۍ) په کليو کې يو نيم تن وايي چې دوى دې کس او تن ته شېرګر (شاعر) او شعرونو ته يې لکه چې ومو ويل شېرۍ يا شارۍ وايي.

دپکتيا په زرغونه اوښکلې غرنۍ سيمه کې دکليو او بانډو شېر ګر هر ډول عشقي، رزمي، بزمي، تصوفي، دوطن دمينې، دولس ددود او دورځني ژوند دکړو وړو په باره کې راز راز شېرۍ کوي يايې وايي.

دولسي فرهنګ او ادب دا برخه ( دپښتو ژبې دفولکلوري ادب) ډېره شتمنه او په زړه پورې خوندوره ده ، خو دا چې دولسي ادب دا ښکلې مرغلرې دکليو او بانډو دشېر ګرو په سينو کې پټې خوندې دي او ددوى له مړينې سره يو ځاى خاورې او تر خاورو لاندې کيږي ، نو په ډاګه سره بې له کومې مبالغې ويلى شو چې دپښتو دولسي ادب دا لو يه خوره پانګه ، له پېړيو، پېړيو را هيسې تر سپېرو خاورې لاندې خاورې شوې او ددغې شتمنۍ څه پېيل شوى اميل او ليکلې پانګه زموږ په لاس کې نشته ....

ددغې ولسي ښايسته ګېډۍ څو ګلونو چې موږ دپکتيا ولايت دکليو او بانډو له شېرګرو يا دهغې سيمې له ولسي خلکو څخه را ټول کړي دپښتو فولکلوري ادب دشتمنۍ له پاره يې دفولکلور او ولسي فرهنګ مينانو ته په مينه اوخوشالۍ سره وړاندې کوو.

شپږې زياتې دواده په شپه دهلك دلوري" وروڅيو" ځوانانو اودجلکۍ دکلي "خورپخيو" ځوانانو له خوا دشپې چې داتڼ په ميدان کې په ګونډو دګردې دايرې په بڼه سره کيني په خاصو ډولونو او غړونو دشپږ ګرو. له خوا ويل کيږي او نور ځوانان يې په شپږ ګر پسې وار په وار نيسي او په لوړو غږو يې بولي. دعنعنې او دود له مخې دهلك له خوا راغلي وروڅي ځوانان دميدان په يوه سر کې ګونډې وهي او يوه ګرده دايره جوړوي، دجلکۍ دکلي خوړ يڅي ځوانان دميدان په بل سر کې په ګونډو کېني او يوه ګرده حلقه او دايره جوړوي ، وروڅي (ورابانې ) او خوړيڅي ( خوره پخوونکی) په وار او نو بت سره دخپل شپږ ګر په مرسته چې دشپې له خوا منجلس (مجلس) دشپريو په کولو ، دګونډو داتڼ او سر په اچولو سره په " دربه "، "غره" او " غورځيو" په ډېر جم او جوش سره تر سپېده چاودې (سپيده داغ) پورې کوي، دمعمول دود سره سم دجلکۍ دلوري ځوانان دشپږ يو کولو ، لومړی وار وروڅيو ځوانانو ته ورکوي، دا ځکه چې دوې يې مېلمانه ګڼي.

ورو څي چې دشپريو دبللو او کولو له پاره په ګونډو ناست دي ډم ( ډول وهونکی) يې په منځ کې درېږي،ډول وهونکی چې دخپلو ځوانانو په منځ کې ودرېږي بې له درنګ نه دچوغې (چيغې،چغې) ډول پيل کوي او ټول ځوانان په يوه وار سره غوږ و ته ګوتې نيسي او په ډم باندې دزياتې خوشالۍ له پاره په زوره سره غورځی کوي، په دغه شيبه کې ځوانان په غورځيو سر بېره يو درنګ " غره " هم کوي ، ددې له پاره چې شپږګر را پورته شي دغه وخت کې ټول ځوانان خپلې تورې غوړې کړې ځنې يوې او بلې خواته په خوند او ټس سره اچوي، ددوی دڅنيو د اچولو سره شپږ ګر راپورته کيږي او

دډول وهونکي په څنګ کې دريږي، دشپږګر دخوشالۍ او هر کلي له پاره هم ځوانان غورځي، غره او دربه کوي، دغورځيو ،غرې او دربې نه وروسته ډول وهونکي څو شپېې سخت ډول وهي او ځوانان يوې او بلې خواته تورې څنې اچوي او شپږ ګر په دغه شپبه کې تر شپږيو دمخه په ښکلې وزم څو سندرې او لنډۍ داسې بولي:

عمر عبس را باندې تېر شو

لکه زېړ ګل په بيابان ورېږيدمه

* * *

مخ مې پر دواړه لور يه تور شو

ما دلندانو (نندانو) ياري کړه وشرمېدمه

شپږګر چې څو سندرې او لنډۍ په ښکلې غاړه سره وکړي ځوانان بيا يو درنګ څنې واچوي او دګونډو اتڼ هم ورسره وکړي. دا کار ددې له پاره کوي چې شپږګر په خپل زړه کې څو شپږۍ جوړې کړي او هغه بې له وېرې او ډارنه په زړورتيا سره و بولي نو داسې په شپږ يو کولو شپږګر پيل کوي:

تل خو به نه وي دګودر شنه څنارونه

چې دوه مين ورته کوي دناز خوبونه

ددغې شپږۍ سره شپږګر دخپلې ډلې او ملګريو ځوانانو دخوشالۍ او منجلس (مجلس) دجم او جوش دپيدا کولو له پاره څلور او پنځه سندرې (لنډۍ، ټکۍ ، مسرۍ، ټپه) داسې په ښايسته بڼه سره بدرګه کوي:

په خوله دې هيڅ راته ونه وې

چې دوه مين ورته کوي دناز خوبونه

دباڼو لاندې دکتم مين دې کړمه

چې دوه مین ورته کوي دناز خوبونه
تل خو به نه وي دګودر شنه څنارونه
چې دوه مین ورته کوي دناز خوبونه

تر دې مجلس اوشېرۍ کولو وروسته چې په سندرو سره بدرګه شي ځوانان یې دشپرګرنه وروسته ټول په ګډه سره په لوړو آوازو وایي، ددې له پاره چې شپرګر بله شپرۍ رازده کړي ځوانان بیا دیوه درنګك او پنځې له پاره دګونډو اتڼ او څني اچول په خوښۍ سره کوي، شپرګر په لومړي سر کې دخوړیځیو (دجلګۍ دکلي ځوانانو) صفت چې دوی عزت یې کړی داسې کوي:

دولمنو (مېلمانو) غزت روادی که څوك وپوهیږي
تریخ چای چلم لګیږي
بچکي داسې ورسره غبرګوي:
دولمنو عزت به وکړي ښه ځوانان دي
مشران دي که کشران دي
کټ بسترې ته ضرورت دی که راورسیږي
تریخ چ.ی چلم لګیږي
دولمنو عزت به وکړي ښه پښتو لري دوی
جامه دمېړو لري دوی
کټ بستره که نه و تش خندی به راورسیږي
تریخ چای چلم لګیږي
(دحکیم نوراکا خیل څخه)

په دې ډول سره وروځی شپرګر څو نورې شپرۍ کوي، تر دې وروسته خوړ ښځیو ته دشپرۍ کولو او ګونډو اتڼ وار ورکوي. دخوړ ښځیو ځوانان چې دمیدان په بل سر کې ناست دي او ګرده دایره یې جوړه کړې. دوروځیو دډول وهونکی د ډول دغږ غلی کولو سره

سم دخپلې ډلې په منځ کې ډول وهونکی دریږي او یو درنګ دچوغې (چیغې) ډول وهی، خوړیځی ځوانان دډم دخوشالۍ له پاره غورځې کوي، غره او دربه ورسره ملګري کوي، ډم ډول وهل دګونډواتڼ ته اړوي، ځوانان یو درنګ دګونډو اتڼ کوي څڼې یوې او بلې خواته اچوي، په دې شېبه کې دخوړېځیو شېرګر راجګیږي او ځوانان دخوشالۍ له پاره ورباندې غورځی کوي، تر غورځیو او دربې وروسته دا شېر ګر هم په اول کې په پاسته او نرم غږ سره څو سندرې (لنډۍ) بولي:

ملګریو، یو تربل جاریږئ

مادې منجلس یاران لیده چې خاورې شونه

* * *

سر خو دې زړه ته رانږدې که

که په خندا وې په ژړا به شې مینه

تر دغو سندرو وروسته خوړېځی شېرګر په خپلو شېر یو کولو باندې دخپلې ډلې په منځ کې شروع کوي، په خوړېځي شېرګر باندې دوروځي شېرګر صفتي شېرۍ چې دمخه یې کړې ده بده لګیږي او هغه ځانته یو پیغور بولي، که څه هم وروځي شېرګر به د دوی دعزت دپاره کړې وي، خو خوړېځي شېرګر ته چې دچای بسترې او دوډۍ نوم وریاد کړی داسې فکر کوي چې دا به دکنایي په ډول موږ غندي نو دشېر یو بڼه خوړېځی شېر ګر له منجلسي شېریو څخه دلغت یا لغتی شېرۍ په بڼه دبدنیت له مخې دیوه مخکنې بیت له ویلو وروسته داسې ورګرزوي:

دښادۍ شپه ده خوشالي کوي ولس یارانو

وبه کړو منجلس (مجلس) یارانو

په دنیا مه نازیږئ خلکه
وبه کړو منجلس یارانو
دنیا فاني ده ارمانجن دي صورتونه
وبه کړو منجلس یارانو
دښادۍ شپه ده خوشالي کوي ولس یارانو
وبه کړو منجلس یارانو

* * *

یې مادې څه وکړه چې لاړې
وبه کړو منجلس یارانو
ځان دې په خپله بې دیدنه کړ مینه
و به کړو منجلس یارانو
دښادۍ شپه ده خوشالي کوي ولس یارانو
و به کړو منجلس یارانو

(دحکیم نور اکا خپل څخه)

کله چې خوږیځی شېر ګر دا منجلسي (مجلسي) بیت بولي، تر دې وروسته دوروځي شېر ګر دصفتي شېرۍ په برخه کې چې ځانته یې بده او توسب ګڼلې ده ، داسې په لغتي شېرۍ باندې دمخې ورګرزولو له پاره په زیاته خوشالۍ او خندا پیل کوي:

چای مړی مو درکړه ښه په قدر په غزت کې
کټ بستره نشته څملئ به په جومات کې
چای مړۍ مو درکړه شپه به تېره په سندرو کو
تا سو ولمنو ته ښه راغلی په ښو خبرو کو
وروره خپه نشې تر سبا پورې به لغت کې
کټ بستره نشته څملئ به په جومات کې
چای مړۍ مو قرض وو قرض مو درکړلو یه مینه

نور به لغتو نه ترکيبځه پورې وينه
دخوب خبره مه کړه ځان به خپله ملا مت کې
کټ بستره نشته ځملئ به په جومات کې
(دحکيم نوراکا خيل څخه)

دخوړېڅيو شېرګر چې دشېرۍ کولو وار تېر کړي، بېرته دوروڅيو شېرګر په خپل نوبت سره شېرۍ کوي او دخوړېڅيو دشېرګر دشېرۍ مخې داسې ورګرزوي:

دا دې ښادۍ شپه ده زه لګيا شوم لغتو سره
کټ بستره نه لرې نو څه دې دي پښتو سره
چای مړې دې راکړه دغه چای مړۍ مو خپل دي
تاسې را پاخه کړه دنيکۍ ديادو کله دي
ټول که داسې وئ پټکي مو ورك شه له شملوسره
کټ بستره نه لرې نو څه دې دي پښتو سره
پام کوه شاعره ولمونه (مېلمانه) خو ډېر عزت لري
هغه يې خذمت کي چې پښتو، ننګ وغيرت لري
(دحکيم نور اکاخيل څخه)

په دې ډول سره تر سبا پورې ددواړو شېرګرو تر منځ شېرۍ او دوروڅيو او خوړېڅيو ځوانانو تر منځ دګونډو اتڼ او سراچولو منجلس دسيالۍ په ډول دوام پيدا کوي....

ددې له پاره چې دشېر يو څو نمونې مو ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړې وي، دا وروسته شېرۍ چې يادشېرګر له خولې يا دنورو کسانو څخه چې هغو هم له شېرګرو زده کړې دي دشېر يو د راغونډيدو له پاره ديوې کوچنۍ ښبې اوګيډۍ په شان په مينه سره راوړو:

په جنت کې دروېزه ده

کونجې يې کليمه (بسم الله) ده
هغه سرې به يې کي لرې
چې مومين په دنيا ښوري
شونم په ګلو اوري
په جنت کې څو ويالې دي
دشاتو دشودو (شيدو) دي
هغه سرې به يې کي نوش
چې مومين په دنيا ښوري
شونم په ګلو اوري
(دحکيم خان منګل څخه

* * *

نوې نښانه مې وليد له په منګلو کې
سرونه يې پټ دي په زړو خوليو کمبلوکې
نوې چارې راګډې په منګلو کې
پټ پراته دي په پرخواړو کې

* * *

وخت بدل راغی ددوو وروڼو خندو[1] ورکه شوه
څه غيرت پښتو ورکه شوه
نه به انځر دورخې ګل شي
څه غيرت پښتو ورکه شوه
نه به زما زړګی دغمه خالي شينه
څه غيرت پښتو ورکه شوه
وخت بدل راغی ددوو وروڼو خندو ورکه شوه

١ _ خندا

څه غيرت پښتو روکه شوه

* * *

وورکې بهير چي شول جونه ټولې چای خورې شوې
دا وښو ډډې سرې شوې
عمر دې پاس په کابل تېر کی
داوښو ډډې سرې شوې
په زړه ظالمه وورکيه نه دې يادېدمه
دا وښو ډډې سرې شوې
وورکې بهير چي شول جونه ټولې چای خورې شوې
دا وښوډډې سرې شوې

(فولکلوري ګېډۍ ۱۶۰ مخ)

* * *

دسرو وينو مې لښتي ځي ګوګله ته
راووزه سبوته ،ته
دسترګوټول نظر په ما که
راووزه سبو ته ، ته
لکه وېشتلې مرغۍ ګوښې ناسته يمه
راووزه سبو ته ، ته
دسرو وينو مې لښتي ځي ګوګله ته
راووزه سبو ته ، ته

* * *

نورو ته غوړي کي سليم خان ته تروې پۍ
ته ړنګه شې غونځۍ
نوروته غوړي وي سليم خان ته تروې پۍ
نن مې وليدې غونځۍ

مرګییه مه که په لندو نو (نندانو) وورکیو مینه
دا غوړې څڼې يې كفن خرنو ينه
جدايي مه راولې خدايه
دا غوړې څڼې يې كفن خرنوينه
جدا جدا به سره ځو ويشتلي زړونه
دا غوړې څڼې يې كفن خرنوينه
مرګییه مه که په لندونو وورکیو مینه
دا غوړې څڼې يې كفن خرنوينه
مرګی دې هېر دی په برېتو وهې لاسونه
مرګی ظالم دی پنډې جامې رنګوينه
دخوشي مرګي نه به خلاص نه شې
مرګی ظالم دی پنډې جامې رنګوينه
که خونه پته په آسمان کې کړې مینه
مرګی ظالم دی پنډې جامې رنګوينه
مرګی دی هېر دی په برېتو وهې لاسونه
مرګی ظالم دی پنډې جامې رنګوينه

* *

پېکی دې پرغېړلی وورکیه ډېر يې په نیشه کې
جان خان پوښتنه نه کې
آسمانه کڼ وهه وربېږه
جان خان پوښتنه نه کې
په ما قيامت دی چې په تا قيامت شينه
جان خان پوښتنه نه کې
پټکی دې پرغېړلی وورکیه ډېريې په نښه کې
جان خان پوښتنه نه کې
(دمنګلو دبیلو بیلو ګروشاعرانو شېری)
(پای) منګل

ARIC
PROPERTY OF ACKU 12357



Designed by: Shafaq

چاپ چارې: د دانش خپرندويې ټولنې تخنيکي څانګه

Tel/Fax:+92-91-2564513/E-mail:danish2k2000@yahoo.com